## د افغانستان د بشر د حقونو خپلواک کمیسیون

# د افغانستان په قضائي سسیستم کي
# د محکمو د وضیعیت او کړنود څارني رپوټ

**د۱۳۸۹ کال کب میاشت**

## د موضوعګانو نوملړ


سريزه

بنسټ

موخه

کړني يا روش ( ميتودولوژي )

د رپوټ د موند نولنډيز

د قضا ئي سيستم داو سني وضيعيت اود محکمود کړنو څيړنه

لومړئ برخه : د محکمود وضيعيت څيړنه :

۱ /۱ : – د محکمو تشکيل اود هغوکمی :

۱ / ۲/1 – د قضا يي ځواکونو تشکيل :

۱ /۱ /۳ – د محکمو د تشکيل کمبودئ او کمی:

۱ /۲ - د قاضيانو حقونه او امتيازونه :

۱ /۳ - ټرانسپورټي وسيلې او استوګني ودانئ :

۱ / ۴ - په محکموکي دقاضيانو سوب اوناسوب :

۱ /۵ -د قا ضيانومسلکي پوهه اودظرفيت د لوړولو پروګرام :

۱ /5 /۱ - د قاضيانو د زد کړي کچي ټيټوالی :

۱ /۵/ ۲ – د زدکړو دمعيارونو ټيټه کچه :

۵ / ۱ / ۳ – د ظرفيت لوړولو د پروګرام کمی:

۱ / ۶ د قوانينو او نورو تقنيني سندونو ته د قا ضيانو لاسرسی :

۱/ ۷ ا منيتي ننګوني :

## دوهمه برخه : د محکمود کړونوڅیړنه

۲/ ۱ . صالحه او قانوني محکموته د آسانه لاسرسي حق

۲/ ۲ . د قاضیانو د بې پلویې او خپلواکۍ اصل

۲ / ۳ . د قانون په وړاندي د برابري اصل

۲ / ۴ . د جرمونو اوسزاګانود قانوني توب اصل

۲ /۵ . د برائت الذمي اصل

۲ /۶ . د قانوني لاروڅخه د لاسته راوړلو اصل

۲ /۷/ . . د قانوني مقررې تر ټاکلی وخت پوري دقضیو څیړل

۲ /۷ /۱ . د قضا یي اواداري کار کونکو کمی

۲ /۷ /۲ . د قا ضیانونا سوبي

۲ / ۷ / ۳. د قضیي د اړونده اړخونو نا سوبي

۲ /۷ / ۴ . د قضیو په حل کي دچټکۍ نشتوالی

۲ /۸ . مدافع وکیل ته لاسرسي اود حقوقي مرستو څخه ګټه اخیستنه

۲ / ۸ / ۱ . د مدافع وکیلانو او حقوقی مرستندویانو کمی اونشتوالی

۲ / ۸ / ۲ . مالي کمزورتیا اوناتواني

۲ / ۸ / ۳ . د ډاډ نشتون

۲ / ۸ / ۴ . د پوهی نشتون

۲ / ۸ / ۵ . د مدافع وکیلا نو او حقوقی مرستندویانو نه بنسټیزونه

۲ / ۹ . پروخت باندي د محکموپرېکړو پوره نه پلي کول

## دریمه برخه : د محکمو د کړونوڅخه د خلګو د ویسا یې او راضیتوب وضیعیت

وړاندیزونه :

### سریزه

د قانون حاکمیت اوښه حکومت کول په مختلفو برخو کي د پرمختګ اوپراختیا اصلي شر طونه دي .

په یوه دموکراتیکه ټولنه کي دنظم او امنیت راوستلو او عدالت د تامین دپاره د قانون حاکمیت لومړنی اړتیا ده اویوازي په دغه شان وضیعیت کي ده چي د خلګو حقونو ازادی او د هغه پلي کولواوستا یلو هیله من و اوسو د خلګود ازادیود حقونوتامینول، د بشرد حقونو په پام کي نیول
اود نظم او عدالت پلي کول یوازي د قانون دحاکمیت په سیوری کي تر سره کیداي شي .

دموکراتیك سیاسي او حقوقي نظام چي دقانون پر حا کمیت ئي بنسټ ایښي ، دخلګو دازادي پر حقونو باور ولری اود بشرد حقونوپه پام کي نیولوواوځواب ورکولو باندي مکلف وي ، دقانون د حاکمیت د اصل تضمین تامینولودپاره اړین جوړښت اووسیلي ، اوخپلواکه قضا یې نظام چي مترقي اود کاروړ وي د قانون د حاکمیت اصلي عنصرونه جوړوي .

نوځکه د قضا یي سیستم کړني اووضیعیت دقانون د حاکمیت داصل او رعایتولود کچي ، د بشرد حقونواوعدالت دتامین سره ډیري نږدي اړیکي لري .

د قضا یي سیستم د وضیعیت او کړونو څیړنه اوپه ځانګړی توګه د محکموکړني د یوې خوا څخه دعدالت د پلي کولو په تامین کي د دې ځانګي بریاوی او ناکامی راښئي اود بلي خوا څخه دهیواد په کچه باندي د بشرد حقونو د رعایت کچه راښئي اوپه پایله کي د موجوده وضیعیت دننګونو په صحیح کولو کي مرسته کوي .

په همدې خاطروه چي د افغانستان د بشرد حقونوخپلواك کمیسیون یوه کاري کمیته چي په هغه کي ښاغلي علي رضا (روحاني) د کمسیون سترسلا کاره ،قاضي غلام نبي ( حکاك) د څارني ،ارزوني او رپوټ ورکولو د بوړډ سلاکا ر، حسین علی (معین ) د سرغړوني اوڅارنی ځانګی ههمغږی کونکي ، لطیفه ( سلطا ني) د ښځود حقونو د ملاتړاوپراختیا ځانګي همغږې کونکي ،محمدمنیر(خاشي) د سرړونود څارني ځانګآمراوقاضي پروین (رحیمي ) د کابل د ځانګي د ښځود حقونواوملاتړځانګي آمر ه شامله وه د محکمود وضیعیت اوکړونود راټولولو، بیلونه (تجزیه) ،حلول( تحلیل) او راټولول (تدوین) د تحلیل رپوټ دپاره ټاکلي وه ، پورته کمیټي له هرڅه نه
وړاندي یوه پوښتنپانه ترتیب کړه اود کمیسیون د سیمه ییزاوولایتي ځانګو کار کونکوته د لارښووني په خاطرغونډي جوړي کړې اود بشر د حقونود سرغړونو د څیړني او څارني ځانګي ، ښځود حقونو د ملاتړ او پراختیا ځانګي ، اود ماشومانو د حقونو د ملاتړاوپراختیا ځانګي ته دنده ورکړل ترڅود پوښتنپاڼي سره سم اړین مالوماتو نه راټول کړي او د قضائي سیستم د کړنود څیړنیزی څارني د رپوټ جوړولو دپاره ودغه کمیټي ته راولیږي .

پرسیره پردې د دې څارني د رپوټ په جوړولو کي د کمیسیون د ډیټابیس د تحلیلنومالوماتوڅخه چي شکایتونه ئي ثبت کړي دي په عدلي او قضایي ارګانونوکي د بشرد حقونو په پام کي نیول او څارني وضیعیت د اجراآتو بهیر، د قضیو د حل بهیر اودهغه وروسته څارنه( تعقیب) اوپه قضا یي غونډو کي د کمیسیون د سیمه ییز اوولایتي ځانګو د کارکونکو ګډون د دې څیړنیز رپوټ په جوړیدو کي کار اخیستل شوي دی. دغه کمیټي د مختلفوسر چینو څخه

ما لوماتونه ترلاس کړي دی اود کمیسیون سیمه ییزواوولایتي څانګود رپوټونومونديي تجزیه اوتحلیل ئي څیړلي او هغه موضوعګاني چي د نورومالوماتونودپاره ئي اړتیا وه په تکراري ډول د کمیسیون د همکارانواود قضا يي اوعدلي مسؤلينو څخه دغوښتلواو دهغه څخه د رپوټ د بداينې کولو دپاره ئي کار اخیستي دي .

د افغانستان د بشرد حقونوخپلواك کمیسیون هیله مند دي چي د دغه تحلیلي رپوټ خپرول وکولاي شي چي هغه برياوي چي د محکمو په وسیله د عدالت دبرابرونې( تامین) او ژمنې (تضمین) په برخه کي څرګنده شوي دي ، د محکمو په کارونو کي کمی اوننګوني چي د قانون د حاکمیت وضیعیت اود بشرد حقونود په پام کي نیولو په برخه کي په هیواد کي ترسترګو شوي دي په ګوته شي اوداځه د دې سبب کیږي چي ټول کارکونکي په خپل کړونو سره د موجوده وضیعیت د سمون اوښه کولو(ا صلاح) دپاره نه سترې دونکي هڅي وکړي .

د افغانستان د بشر د حقونو د خپلواك کمیسیون د ټولودولتي اونادولتي څانګو او په ځانګړی توګه دستري محکمي د اداري لوی آمریت ، په ولایتونو کي د استیناف اولومړنی محکمو قاضیان ، دعدلي اوقضایي څانګو کار کونکو د عدلیې وزارت د حقونو د مساعدت ریاست، د افغانستان د حقونود مسا عدتونو خپلواك کمیسیون بوړد اوپه هیواد کي د قضا يي سیستم او حقوقی خدمتونو مرستندویه څانګی او درانه هیوادووال چي مرکې ته ئي اجازه راکړید ه د ټولو څخه مننه کوو.

اوپه همدې ډول د کمیسیون د سیمه ییزاو ولایتي همکارانو څخه مننه کوو چي د دې رپوټ په جوړولوکی ئي په ټول هیواد کی مرکې ترسره کړيدي اومالوماتونه ئي په لاس راوړي دي، اود کمیټې د ټولوغړوڅخه اوپه ځانګړی توګه د ښاغلي خاشي څخه مننه کوو چي د رپوټ په یوځای کولو اوراټولول (تدوین) کي ئي زیار ایستلی دی اود ښاغلي روحاني څخه مننه کوو چي د دې رپوټ په غورکونه ، بیا لیکنې ، جوړولواو راټولولو کي ئي زیار ایستلی دی .

د افغانستان د بشر د حقونو خپلواك کمیسیون

بنسټ (اساس) :

د افغانستان د بشرد حقونو خپلواك کمیسیون چي د اساسي قانون د ۵۸ مادي په اساس ئي وړاندوینه شوې وه اودائي مکلفیت وو چي په افغانستان کي د بشرد حقونو په پام کي نیولو باندی څارنه ولری[1] . اود هغه د ښه والی اوملا تړ د پاره هلي ځلي وکړي. د کمیسیون واکونه اود هغه د موخو پلي کول د تشکیل د قانون په (۲۱ ) ماده کي : د افغانستان د بشرد حقونوخپلواك کمیسیون د واکونوپه اړه راغلي دي ( : ۱ –د بشرد حقونو پروضیعیت باندی څارنه ، ۲ – د اساسي قانون د حکمونوپر پلي کولوباندي څارنه ، پرنورو قوانینو،مقرراتو ، لوایحو اوژمنوباندی څارنه ، کوم چي د بشرد حقونوپه هکله دي . ۳ – د اداري سیستم پرکړونواواجرا آتو باندي څارنه ، اوهم پرهغوڅانګو چي د بشر د حقونو پروضیعیت باندي اغیزناکې دی لکه دعدلی اوقضا يي څانګي، ملي اونړیوالي ، انتقا عی اونا انتقا عی څانګی چي په هیواد کي فعالیت کوي. ) نوله همدې امله د افغانستان د بشرد حقونو خپلواك کمیسیون د محکمود وضیعیت اوکړونو څیړنه خپله قانوني دنده اومسؤلیت ګڼي اودغه رپوټ د نورو څیړنیزو رپوټونوپه کتار کي چي د بشر د حقونود وضیعیت په هکله دی خپروي .

موخه :

---

[1]- اته پنځوسمه ما ده :
دولت په افغانستان کی د بشر د حقوقو د په پام کي نیول د څارني، ښه والی اوملاتړ لپاره د افغانستان د بشرد حقوقو خپلواك کمیسیون جوړوي. هرڅوك کولاي شي چي د خپلو بشر ی حقوقونقض په صورت کي دې کمیسیون ته شکایت وکړي. کمیسیون کولاي شي د کسانوو دبشري حقوقو د نقض موارد اړوند څانګو ته راجع کړي اود هغوی له حقوقو څخه په د فاع کي مرسته وکړي . د دې کمیسیون جوړښت اود کار ډول ئي د قانون له لیار تنظیمیږي.

بیله شکه د قضا یي سیستم کړني اووضیعیت د قانون د حاکمیت اود بشرد حقونود په پام کي نیولو ،تضمینولو اود عدالت د تامین د اصل سره نږدې اړیکي لري .

د دې رپوټ د جوړولواوخپرولوموخه د روان وضیعیت ارزونه اود مطلوب وضیعیت ته درسید لودپاره یوه هڅه ده د همدې مطلب دپاره هڅه شوې ده چي په دې رپوټ کي په بې پلوه اومسؤلا نه توګه باندي د هیواد د قضایي سیستم د لاسته راوړونو د څرګند ولو ترڅنګه ، کمبودی،نیوکي ، ستونزي ، خنډونه اوهغه ننګوني چي د عدالت تر سره کولودپاره د محکمو په کړونو کي شته روښانه کړل شي، ترڅوپه څرګند ه توګه د موجوده وضیعیت رښتیانی انځوراوپه ځانګړی توګه یو فعاله قضایي سیستم ته بیله کوم توپیرڅخه د خلګوبرابرلاسرسی چي روښانه اواغیزنا که وي اووکولاي شي چي عدالت تامین کړي او د هیوادوالو اساسي حقونود قانون له مخی په عمل کي پلي اوملاتړ ئې وکړي . برسیره پردې د کمزوروټکو،نیوکو،ستونزو، اوموجوده ننګونو پیژندل اوتحلیلول د هیواد په قضایي سیستم کي نوي جوړي ځانګي اومسؤل کسان دې ته اړباسي چي د کمیو،نیوکو، د لیری کولودپاره اغیزناکه اوګټوری لاری اوتکتیکونه په کاراوچوي ترڅوپرستونزوبري ومومی اود موجوده ننګونود لیری کولود پاره اغیزنا که لاري ولټوي ترڅود مطلوب وِضیعیت ته د رسیدو دپاره عملي اجراآت ترسره کړي .

دغه څیړنیز رپوټ د افغانستان د بشرد حقونوخپلواک کمیسیون د ستراتیژیك پلان او کړونو پروګرام پر بنیټ باندي جوړاوتدوین شوي دی ترڅوپه افغانستان کي د موجوده قضایي سیستم د وضیعیت اوکړونودرست اوربښتیاني تحلیل انځوراوخپور شي .

په دې هیله د افغانستان دولت او نړیواله ټولنه موجوده ستونزو اوننګونوپه پام کي نیولو سره د هیواد د قضا یي سیستم اومحکمود ستونزواوکمیود لیری کولود پاره اوهغه ننګوني چي په دې لاره کی موجودي دی کلکه مبارزه پیل کړي ترڅومطلوب وضیعیت ته ورسیږي .

## کړنلاره (میتودولوژي ) روش:

دغه رپوټ د مختلفوسر چینود لاسته راغلي مالوماتونود تحلیل ،تجزیي اویوځاي کولوڅخه جوړشوی دی .

د دغه رپوټ جوړولو کاري کمیټي ترهرڅه د مخه یوه پوښتنپانه ترتیب کړه اود لاربښودوغونډو په جوړولو سره ئې د افغانستان د بشرد حقونوخپلواك کمیسیون د سیمه ییزو اوولایتي څانګو ،د بشرد حقونود سرغړونود څارنی اوڅیړني ، د ښځوحقونوملاتړاوپراختیا اود ماشومانود حقونود پراختیا څانګو کارکونکوته دنده وسپارل ترڅو د پوښتنپاني سره سم داړتیا وړمالوماتونه راټول کړي اود قضایي سیستم د کړونااووضیعیت د څارني څیړنیز رپوټ ودغه کمیټي ته راولیږي . نوځکه د افغانستان د بشرد حقونوخپلواك کمیسیون د دې رپوټ جوړلو سرچیني دهغه مالوماتو پر راټولولو باندي ولاړي دی کوم چي د عدلی اوقضایي چاروآکو سره په خبرواومرکو کي اوپه ځانګړی توګه د محکمود قاضیانو، د مدني ټولنو، اوقضایي سیستم د مرستندویه څانګو او موسسواو خلګو سره تر سره شوي دي.

سربیره پردې د کمیسیون د دیټا بیس څانګي د مالوماتو،د شکایتونوثبتولو، د عدلي او قضا یي ارګانونود بشرد حقونو د په پام کي نیولود بهیرد وضیعیت څارنه ، د قضیوحل اوورپسي کیدنه( تعقیب) اوپه قضا یي غونډوکي د کمیسیون داتو سیمه ییزواوشپږو ولایتي څانګو کارکونکو ګډون د دې څیړني. رپوټ په پوره کولو کي کاراخیستل شوی دی.

دغه کمیټي هغه مالوماتونه تحلیل او څیړلي دی کوم چي د کمیسیون د سیمه ییزواوولایتي څانګواونوروسرچینو څخه . په لاس راغلي دي اوهغه موضوعګاني چي د اضا فی مالوماتونو اړتیائي لیدل بیاي د کمیسیون د همکارانو اود قضایي او عدلي مسؤلینو څخه غوښتنه وکړل چي د رپوټ دلا بډاینې کولو دپاره هغه وکمیټي ته راولیږي .

## د رپوټ د موند نو لنډیز

- د قضا یي واك د شتون فلسفه د قانون د لارې څخه د نظم او عدالت برابرونه( تامینول) دي . د عدالت تامینول هم د قضا دنده د ه او هم د قضا یي اجراَ تو موخه . دغه موخه هغه وخت تر سره کیږي چي قضا یي څانګي هم د خپل جوړښت له نظره اوهم د خپل کړونو له مخي عادلانه اومنصفانه وي .

- د افغانستان د قضا يي نظا م د سمون اوښه والی (اصلاح) او د محکمو د جوړښت (تشکيل) دپراختيا دپاره په لړه (محدوده) توګه مثبت ګامونه اوپرمختګونه شوي دي، د قانون بنسټونه په منلو سره د افغانستان په اساسي قانون کي د قضا يي واك اود محکمو د تشکيل خپلواکي په دوه ډوله باندي بنسټيزه اوفردي شکلونو پيژندل شوي دي. د افغنستان د قضا يي سيستم د اصلا ح اوپراختيا دپاره بر سيره پرقانوني مبنا اوبنسټ باندي ځانګړي پروګرامونه هم وړاندليد شوي دی اوهم د قوانينو په تسويد،تصويب اواصلا ح اومسلکی قاضيانو په روزنه اود اداري کا رکونکو د ظرفيتونو په لوړوا لي کي هم پر مختګونه تر سره شوي دي .

- که څه هم د قضايي نظام او محکمو تشکيل د اصلا ح اوپراختيا په برخه کي مثبت ګامونه اخيستل شوي دي اوپه دي لاره کي نسبي پرمختګونه ليدل کيږي، خودغه پرمختګونه اواصلا حات په پوره کچه باندي نه وه اود افغانستان د بشرد حقونو خپلواك کميسيون په موند نوکي څرګنديږي چي په عمل کي لازموړ خلګ وعادلانه محکمو ته چي د دوي حق دی لاسرسي نلری اود عادلانه اومنصفانه محکمو څخه بې برخي پاته دي .

- رسمي عدالت ته په اساني سره د خلګو نه لاسرسي اوپر عدالت باندي د خلګو بې ويسائي د دې سبب کيږي چي خلګ د عدالت د اجراآتو څخه نا هيلي شي اويا هم نا رسمي سيستم ته موضوع وړاندي کړي، چي کيداي شي په نا رسمي ځانګو کي غيرعادلانه پريکړه وشي اود بشر د حقونو څخه سر غړوني اوپه ځانګړي توګه دغه څه دښځو په برخه کي تر سره شي .

- ډول ډول( مختلف) عوامل اوسببونه لکه : د محکمود تشکيل کمبودی اوکمی ،په ټولو ولايتونو اوولسواليوکي د محکمود اجراآتو ټنبلي، د ډيرو قا ضيانو له خوا د حاضري اوترلاس لاندي موضوع ته بې اعتنايي کول ،په اداراي کارکوونکو اومسلکي غړو کي د کاري انضباط اوفرهنګ نشتون ، د ټراسپورټی اود استوګني ستونزي هغه څه دي چي خلګ له دې څخه بې برخي کوي چي په اساني سره عادلانه محکمي ته لاسرسي ولري ، په پايله کي د خلګو ويسا ئي پر قضايي سيستم باندي د مينځه وړي.

- د قاضيانو د مسلکي پوهي او د هغوی د ظرفيت د کچی په ټيټوالي کی دری بنسټيزی ستونزي شتون لري :د قاضيانو د زده کړي (تحصيل) ټيټه کچه ، د پوهنتون اود قضائي زده کړو دکورسونو د معيارونو ټيټه کچه ، اود قا ضيانو د ظرفيت د لوړولو ټوليزتوب د پروګرا مونو نشتوالی.

- د محکمود قاضيانو د حقوق پوهی اوږد مهالي (دايمی) لوړوالی اود هيواد د قوانينوڅخه د هغوی خبرتيا اوپوهيدنه اوپه هغو ټرونو باندي پوهيدل کوم چي په نړيواله کچه افغنستان هغوی ته ژمن دی او قانوني اوحقوقی منابعوته د دوی لاسرسی انکار نه کيدونکی اړتيا ده

- د قضا اومحکمو د سيستم په وړاندي يو دهغه اوږدو ننګونو او ستونزو څخه هم د هغه ناامنيو ډيريدل دي کوم چي په دې ورستيو کلونو کي ورسره مخامخ دي. دغه ستونزه د قانون حاکميت کمزوری کوي اود قاضيانو اومحکمو پراجراآتواوپريکړوباندي منفي اغيزه کوي. د پورته نا امنيو له کبله د هيواد په ګنو ولسواليوکي محکمي
- فعا ليت نکوياوخلګ د قانوني محکمو د لاسرسي څخه بې برخي دي .

- د هيواد په ډيرو سيمواوپه ځانګړي توګه په ناامنه ولسواليو کي د محکمود فعاليت نشتون،د مسلکي اواداري کارکونکو وکاري انظباط اوفرهنګ ته غاړه نه ايښودل له يوې خوا، اوداوږدمهاله نا امنيو شتون دبلي خوا ،د خلګو د فقراوټراسپورټي ستونزي ، هغه اصلی سببونه دی چي خلګ د دې څخه بې برخي کړي چي عدلی محکمو ته لاسرسي ونلري اود هغوی قضيې په قانوني ډول باندي حل نشي.

- که څه هم د محکمو ودانۍ تریوي کچې نوي شوي اویا بیارغول شوي دي خوبیا هم په ډیروولسوالیو کې قاضیان اود محکمو مشران داسي ودانۍ د خپلو دفترونو دپاره نلري چې معیاری کچه ئې لوړه وي دوی په دې برخه کی ستونزې لری.

- که څه هم ډیروهغو قاضیانو چې مرکې ورسره شوي دي دا ئې ویلي دي چې هغوی پخپلو پریکړوکې خپلواکې لري ، خونا امنۍ د دولتي چاروکو اوسیمه ییزوبا نفوذوکسانواغیز،د ادارفساد شتون د شغلی امنیت نشتوالی د کنترول د سیستم کمی ، د محکموپراجراآتو باندی د څارنی اوپلټنی کمزوری هغه سببونه دی چې د قاضیانو
- پریکړي ترخپل اغیزلاندي راولي اود محکمو خپلواکي اود قاضیانوبې پلوي کول ترپوښتني لاندي راولي.

- د افغانستان د بشرد حقونو خپلواك کمیسیون څېړني په ډاګه کوي چې د اداري فساد شتون پرضواېطو باندي د اړیکو لومړیتوب ، د قانون د حاکمیت کمزوری ، امنیتي ستونزي اوننګوني، د زورواکود کړونواغیز،پرقاضیانو باندي د لازمه څارني نشتون ، په قضا یي قضیوکی سلیقوی چلند اوجنسیتی توپیرد دې سبب ګرځي چې د قانون په وړاندي د تساوی اوبرابر اصل په محکمو کي په پام کي ونه نیول شي.

- د قانون په وړاندي د ښځود حقونو یوشاني ګڼل اوصالحه محکموته د هغوی لاسرسي له یوې خوا اوپه هیواد کي د نرواکی فرهنګ له بلې خوا څخه په هغه قضیو کي چې ښځې شاملي وي د قاضیان پرپریکړو بې اغیزی نه دي، اودبلی خواڅخه هغه ستونزي چې په ځانګړي توګه د هیواد ښځې ورسره مخامخ دي د قانون په وړاندي د ښځوپربرابر ګڼلو باندي ستونزي جوړوي .

- د ریوټ موندني دا څرګندوي چې ځیني قاضیان د ښځو د انساني اوشرعي حقونو څخه پوره پوهاوی نلری اویا خوپری پوره باور نلري، د شریعت د عادلانه موازینو څخه پوره پوهاوي نلرل اود نا فذه قوانینواو هغه پرمختګونو څخه چې ترسره شوي دی په ځانګړي توګه د بشرد حقونونړیوالی تړونونه چې افغانستان هغه لاسلیك کړي دی د هغه څخه سمه نه اخیستنه ،د نرواکی سنتونواوباورونوحاکمیت د ټولنی په ذهن اوضمیرکي اویا هم د ځینوقاضیانو په ذهن کي ،د دي سبب ګرځي چې ځیني ښځي د ناشرعي اوقانو ني توپیرونو سره مخامخ شي، نوله دې امله پر محکمو باندي د ښځو ویسائي لږ ده اوډیرلږ محکموته ورځی.

- د محکمو په ځینو پریکړوکی د جرمنواوسزاګانو د قانونیت اصل په نظر کي نه وونیول شوي. د قوانینود مرتبو په سلسله باندي نه پوهیدل اود تقنیني سندونو اود هغه د حل ترمینځ اختلاف دیوې خوا اود وضعی اوشرعی قوانینو اود نړیوالوتړنونو په پام کي نه نیول د بلې خوا د جرمونواوسزاګانود قانونتوب د اصل په نه پام کولوکي ونډه لري .

- په قانوني کړونو اوکړنلاروکي ترټولو مهم اومعیاري اصل د عادلانه محکمې د پاره د دلیل اوسبب پیدا کول دی چې د محکمې په بهیر کی په سمه نه مراعات کیږي او ښاغلي قاضیان صا حبان په محکمه کولو اورایي صادرولو کي ډیرځله پرهغه څه تکیه کوي چې د کشف اوڅیړني په دوسیه کي لیکل شوي دي اود قانوني کړنلاروپراصل د سببونو پیدا کولوته لازمه پاملرنه نه کوي .

- ډیرداشاني موضوعګاني چې په دوسیوکي ئې جزائي اوحقوقي تفسیر لیکل وې په ټاکلي وخت د هغه اجراآت نه تر سره کیږي ، نوله همدی کبله دی چې ځیني تورن( متهم )یا محکوم شوي کسان چې د لومړئ محکمې پریکړه پرې شوې ده په میاشتو اوکلونو باندي بیله کومی پایلي څخه هلته پراته وي او د خپلو حقونوڅخه بې برخي شوي دي .

- د کمیسیون په موندونو کي داهم څرکنده شوې ده چې هغه قضیې چې د تورونو(متهمو) ښځو په هکله دي اوپه ستره محکمه کي پر خپل وخت ورته پاملرنه نکیږي د نا رینه وو په پرتله ئې شمیر ډیر دی .

- د مدافع وکیل ته د لاسرسي په زمینه کي ښه پرمختګونه ترلا سه شوي دی ، خوبیا هم ډیرکسان د دغه حق څخه بې برخی دي .

- د مدافع وکیلانو کموالی اود خلګود مالي توان کمزورتیا ،پر وکیل د خلګو بې ویسا ئي ، اود مدافع وکیل د درولوڅخه د هغو بې خبري ، اود هیواد په قضا ئي سیستم کي د مدافع وکیل اود هغه ارزښت نه ځایول ، هغه سببونه دي چي خلکګ لا په پوره کچه باندي د مدافع وکیل څخه د خپل حقوقی مسئلو په اړه کار نه اخلي .

- د مدافع وکیلانولایحي ته د قاضیانو، نه پاملرنه هم یوه ستونزه ده ، په ځینو وختونوکي که څه هم په غونډو کي د قضا شکلونه مراعتیږي اودغه کسان د تورونوکسانو څخه دفاع کوي ولي دغو دفاعوته پاملرنه نه کیږي او قاضي پریکړه د څارنوال پردعوا او یا هم د خپلوموندونو پربنسټ باندي کوي ،اود دفاع وکیل وقضاوتونوته غوږنږدي.

- د پوره شمیر مدافع وکیلانو نشتون اویا هم هغوی ته نه لاسرسی ، د دوسیو ډیروالی، د مسلکي قاضیانو کمی اود هغوی د پوهنوتیته کچه ،د قانون د حاکمیت کمزوری ، نامني، د قاضیانونا سوبي، د ځینو قاضیانو له خوا د مسؤلیت داخیستوڅخه ډډه کول، پر عادلانه محکمي اودهغه پرمعیارونود ځینو قاضیانو بې ویسائي، د حالت د تثبیت په منظور دلازمو امکاناتو نشتوالی دیو جرمی عمل د کیفیت اوحالت په اړه، اود مجرمینو تثبیتول، په ځینو برخوکي قانوني تشي، د قاضیانوپرپریکړوباندي د څارنی کموالی هغه اصلي سببونه شمیرل کیږي چي عادلانه محکمه د ستونزوسره مخامخ کوي.

- دهیواد په ډیرو برخو کي د دولت د پوره حاکمیت کمزوری ، د زورواکانو شتون ، د قانون د حاکمیت نشتون اونا امنی، د پلي کونکو څانګو پرکړونو لازم څارنلرل ، اواداري فساد اوبډي هغه څه دي چي د محکمي پریکړی نه پلي کیږي .

- که څه هم د کمیسیون سره په مرکوکي د محکمي قاضی صا حبانو په دې هکله شکایتونه ندي کړیي خو د محکمود پریکړو په هکله د خلګونا راضیتوب، اوپه محکمه کي عدالت په وړاندي د خلګوبې باوري و اوپرخپل وخت باندي د محکمو له خوا د قضیود عادلانه پریکړي حکمونه په دې برخه کي تینګي ستونزي دي.

- د قانون د حاکمیت نشتون اود معا فیدوفرهنګ اوپه ځانګړي توګه د جنایتکارانواود زورواکانومعا فول او یوازي پرغریبو کسانود قانون پلي کول ، د خلګوکرکه پر قضا اوقانون ،اوپردولت د خلکوبې باوري ډیر وي.

## د قضا یي سیستم اومحکمو دکړونو د اوسني وضیعیت څیړنه

د قضائي سیستم اود محکموداوسني وضیعیت څیړنه له یوې خواڅخه په هیواد کي دهغوي د بریاوو اود پرمختګونوکچه اودبل پلوه څخه دهغوي کمي اوزیانونه چي په دې وروستی کلونوکي د محکمو په کړنوکي لیدل شوي دی راته څر ګنده اوروښانه کوي.

د محکمود کړونو ډول اود هغوی د بریاوو اونا بریاووو کچه د قانون د حاکمیت او په هیواد کي د بشرد حقونوپه پام کي نیول سره مستقیمه اړیکه لري. کیداي شي چي د مختلفوزاویوڅخه د قضایي سیستم وضیعیت اود محکموکړني وڅیړو.

د دې سنجس شا خصونه باید په پوره کچه څوډولیزه اوپوره وي ترڅو وکولای شي د محکمود کړونو د وضیعیت ربښتني انځورد عدالت د ساتني په برخه کي راوښیي چي هغه د قضا تر ټولو مهمه دنده او رسالت دی.

مهم شا خصونه لکه : د محکمود جوړښت اوتشکیل وضیعیت اودهغوی کمبودی . په محکمو کي د ماهرو قضایي اومسلکي اواداري کارکونکو شتون ، سازماني نظم اوانظباط ، ځارنه اوځواب ویل ، محکموته د خلګود لاسرسی وضیعیت ، په قضا يي اوعدلی بهیرکي دعادلانه محکمې موازینوپه پام کي نیول ، مدافع وکیلانواوحقوقی مرستندویانوته لاسرسی ، د قاضیان د خپلواکی لرلوکچه ،دپلي کونکوځانګوله خوا د محکمود اجراآتو وضیعیت اوپلي کول او په پایله کي د محکمو د کړونو څخه د خلګوراضیتوب اوپرهغوی د خلګو ویسا يې . هغه مهم شا خصونه دي چي د هغوي پربنسټ کولاي شو د محکمو د کړونواود وضیعیت ربښتني انځو وړاندی کړو .
په دې رپوټ کي پورتني شاخصونه په درې لاندي کټګوریو ویشل شوي او ترڅیړني لاندي نیول شوي دي .

لومړی : د محکمو وضیعیت
دوهم : د محکمو کړني
دریم : د محکمو څخه راضیتوب اوپرهغه ویسائي

## لومړی برخه د محکمو د وضیعیت څیړنه

### 1/1 د محکموجوړښت او تشکیل اود هغه کموالی :

صالحه محکموته د هیوادوالولاسرسی اوهلته د قضایي اوعدلي کارکونکوښه اومنصفانه چلند په حقیقت کي د افغانستان د خلګود بشرحقوقوڅخه شمیرل کیږي اودغو اسانتیاو ته باید په اسانی سره لاسرسی وشي .
عدلی اوقضایي ځانګوته لاسرسی اوهلته د کارکونکود سالم چلند ضمانت هغه څه دی چي که چیري د یوچا سره ظلم شوی وي اویا هم څوك د یوجرم قرباني شوړوی ، باید د خپل حق دلاسته راوړولو په منظورقضایي ځانګو اومسؤلوکسانو ته د لاسرسی حق ولری اوپه هغه ځانګو کي د مسؤلو کسانوله خوا د سالم چلند اوښوکړونو زموار ي ولري .

دغه حق ته درسیدلو لومړی شرط د ادی چي په ټول هیواد کي محکمې فعاله وی او د تشکیل اومسلکي کارکونکو له خوا پرځان تکیه( متکي) وي. نوځکه د محکمود تشکیل په کموالی کي اویا هم د محکمود نه فعالیت په حالت کي اویا هم د مسلکي قاضیانو نشتون په حالت کی د خلګودغه حق تر پښنو لاندي کیږي چي باید عادلانه محکمو ته لاسرسی ولری او قاضیان صا حبان د قانون په پام کي نیولوسره دنده ترسره کړي .
کله چي وعدالت ته لاسرسی نا ممکنه اویا هم ډیرستوزمن وي اویا هم ډیرلګښت وغواړي یا هم سپکونکی(توهینونکی) ، کمونکي( تحقیرونکی) اود توپیرڅخه ډك وي ، نودا د دې ښکارندوی ده چي د قضایي سیستم په جوړښت او کړونوکي ستونزي شته ښه والناواصلاح ته اړتیا لیدل کیږي. د افغانستان د قضایي نظام داصلاح اود تشکیل د پراخیدو په اړه ډیر لږ پرمختګونه شوي دي .
په دې لاره کي ډیرمهم ګام دادي چي د هیواد په اساسي قانون اود محکمو د تشکیلاتو په قانون کي قضائیه ځواك ته قانوني خپلواکي ورکړل شوي د ه . دا خپلواکي په دوه ډوله بنسټیزه اوفردی ډول په رسمیت پیژندل شوي دی، پر قانوني بنسټونوسربیره د ځانګړی پروګرامونو په اډانه ( د ټولودپاره د عدالت ستراتیژي ، د ملي پراختیا د لنډوخت ستراتیژي ، او، د افغانستان لوزلیك (توافقنامه) ، د افغانستان قضا يي سیستم دسمون ،ښه والی اوپراختیا دپاره وړاند ویل شوي ده ،
برسیره پردي د قوانینو دتسوید، تصویب، د اصلاح اومسلکي قاضیانود ظرفیتونولوړولواود اداري کارکونکودښه روزولوپه برخه کي پرمختګونه ترلاسه شوي دي .

### ۱ /۱ /۲ د قضا ئیه ځواك جوړښت او تشکیل

د اساسي قانون ۱۱۶ ماده لیکی (قضائیه ځواك د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت خپلواك رکن دی .
قضائیه ځواك له یوې ستري محکمې، استناف محکمو او ابتدائیه محکمو څخه جوړه ده چي د تشکیلاتو او واکونه ئي د قانون له لیاري تنظیمیږي ، ستره محکمه د سترارګان په توګه د افغانستان د اسلا مي جمهوري دولت د قضا ئیه ځواك په سرکي ځاي لري )

ستره محکمه د (۹) غړود ترکيب څخه جوړه ده چي د اساسي قانون د ۱۱۷ او ۱۱۸ مادود ليکل شووحکمونوپر بنسټ د جمهوررئيس له خوا ټا کل کيږي اوولسي جرگه ئي د تائيدواك لري. جمهوررئيس له دغه ډلي څخه يوکس د ستري محکمي د مشرپه توگه ټاکي .[2]

ستره محکمه د تشکيل د قانون د ۱۸ اتلسمی مادې د تعديل پربنسټ د محکمود واکونواودندو چي (۵ ) د يوانونه دي چي دادي : د عامه سزا ديوان، دعامه امنيت ديوان ، د مدني اوعامه حقونو ديوان ، سوداگري ديوان اود پوځي کارکونکو اود کوني اوبهرني امنيت پر ضد د جرمونو ديوان.

د پورته ديوانونو مشري د ستري محکمي دغړوپرغاړه ده چي د ستري محکمي د مشرله خوا د يوه کال دپاره ټاکل کيږي، اوهمدارنگه د محکمو د تشکيل اوواکونو د قانون د(۲۰ ) مادې په حکم اووړاندويني ، ستره محکمه، قضا يي مستشاران لري ، چي دهغوي شمير د (۳۶ ) څخه ډيريدلاي نشي . همدارنگه د قضا ئيه واك د لاښوچاروپه منظورد قضايي اجراآتودپاره لوی آمريت لري ، چي دهغه په سر کي لوی آمر دی .

د هرولايت په کچه باندي د استناف محکمي شته ،د استناف په محکموکي د عامه جزا ديوان ،د عامه امنيت ديوان، د مدني اوشخصيه احوال ديوان ،د عامه حقوقو ديوان،د سوداکريو ديوان اودماشومانوديوان شتون لري.
د استيناف محکموديوان يورئيس ،د ديوانونوپه سرکي رئيسان اوقاضيان لری چي د جزاد ديوان رئيس د استيناف د رئيس مرستيا ل هم دی . همدارنگه داستيناف محکمي پخپل اړوند قضايي سيمه کي د ولايت د مرکزلومړی محکمه ،د ولسواليولومړی محکمه ،د ماشومانولومړی محکمه ، دسوداگري لومړی محکمه ، اود شخصيه احوال لومړی محکمه لري .

د ولايت په مرکزکي لومړیمحکمه،د عامه جزاوو ديوان، مدني ديوان،د عامه حقونو ديوان ، عامه امنيت ديوان، اود ټرافيکي جرمونوديوان شتون لري .د مرکزد لومړی محکمي په ترکيب کي يورئيس اوڅلورغړي دي،د ماشومانو لومړی محکمه اود سوداگری چارومحکمه هم يورئيس اوڅلورغړي لري.

د ولسوليولومړنی محکمي يورئيس اودوه غړي لري ، خوپه هغه ولسواليو کي چي د محکمي دغړوتشکيل پوره نه وي د تشکيل د قانون د ۴۷ مادې اود محکمودندی اوواکونو په حکم د قضيوحل د دروکسانوڅخه د لږوله خواهم قبوليږي . همدارنگه د مرکزد لومړنی محکمي په څنگ کي د سندونواوو ثايقود ثبت محکمه هم جوړه او فعاله شوې ده ، د استيناف محکمي، لومړنی محکمي اود هغه اړوند ه ديوانونه ، اداري څانگي او کارکونکي لري .
همدارنگه په کابل کي داستينا ف ځانگړي محکمي اومخدره توکو سره د مبارزې لومړنی محکمي او په همدې ډول د قضا په ۸ زونونو کي لومړنی محکمي د هغه جرمونو دپاره چي د اداری فساد څخه زيږي اوهم په ځينوولايتونو کي پوځي محکمي جوړي شوي دي .

که څه هم د قضايي نظا م اود محکمو د تشکيل د اصلاح کولو اوپراختيا په اړه ځيني مثبت گامونه اخيستل شوي دي اود هغه له سببه د افغانستان په قضايي سيستم کي پرمختگونه ليدل کيږي ، خودغه پرمختياويی په پوره کچه باندي نه دي اود کميسيون په موندونوکي دا څرگنديږي چي په عمل کي خلگ د عادلانه محکمواوهلته د سالم چلند د حق دلاسرسي څخه بي برخي دي.

د رسمي عدالت سيستم ته د خلگونه لاسرسی اود هغوي بي ويسائي د دې سبب کيږي چي خلگ نا هيلي شي اود رسمي عدالت پرځای ونارسمي سيستم ته خپل غوښتنه يوسي چي کيدای شي په نارسمی سيستمونو کي پريکړی نا عادلانه وشي اود بشرحقونه ترپښو لاندي کړل شي ، په ځانگړی توگه ښځي د نارسمی سيستم قربانياني شي .

[2]-۲ - د محکمو د تشکيل اوواکونو قانون (۱۱۷ ) ما ده

په قضا يي سيستم کي د جوړښت ستونزي ،په پروګرامونه کي ستونزي ، د ماهرومسلکی کدرونو کمی، اود مالي اوبوديجوي سرچينو کمی داسي پيچلي وضعه او ستونزي زيږوي چي په لاندي کي به په هراړخيزه توګه بيان شي.

## ١ / ١ / ٣ د محکمو په تشکيل کي کمی اوکمښت :

د قضائيه واك د مسؤلينو د بيان پربنسټ د قضائيه واك کړنلاره د تشکيل د برابروالی (توازون) دپاره داسي ده چي د يوې خوا څخه د تشکيلاتي ډيرښت( تورم ) مخه ونيسي اود بل پلوه څخه دومره کوچنی هم نشي چي هغه موخي چي ورته ټاکل شوي دی هغه په لاس رانه وړي . د١٣٨٥- ١٣٨٨ کلونو په بهير کي ده د پورته موخو په نظر کي نيولوسره د قضائيه واك په تشکيل کي د پاملرني وړ اصلا حوي راغلي دي اوپه پايله کي نا اړيني څانګي له مينځه وړل ( لغوه) شوي اوهغه څه چي اړين وه په تشکيل کي ځاي کړل شوي دي .[3]

د محکمي د تشکيل اود هغه د کارکونکو په هکله د ستري محکمي د مسؤلينو وړاندی شوي شمير ښئي :
د قضائيه واك دپاره منظور شوي تشکيل د اداري کارکونکو په ګډون ټول ٤٣٩٠ کسان دي چي له دې شمير څخه ٣٢٣٢ کسان ئې په دنده کي ولاړکسان دي او ١١٥٨ کسان د کموالی په برخه کي دي .

د هغوقاضي صا حبانو شميرچي پردنده باندي مشغول دي ١٥٠٥ کسان دی چي د پورته شميرڅخه ئی ١٢٠ کسه ښځينه قاضياني دي او ٧٧٧ شمير کموالی شتون لري .

هغه کارکونکي چي په اداري برخوکي اوس اوس په دنده بوخت دی شمير ئې ١٧٢٧ کسان دی چي له دې شمير څخه ٢١٨ ئي ښځينه کارکونکي دي اودبست دکمبود شمير و ٣٨١ ته رسيږي .

د قاضي صاحبانواواداري کارکونکو د زد ه کړو کچه په دې ترتيب ده : دری کسه د ډاکتري درجه لری، اته ٨ کسه د ماسټري درجه لری ، ١٦٢٣ کسه ليسانسه دي ، ٣٩٧ کسان د بکلوريا څخه لوړ سند لري ،١١٠٤ کسان د بکلوريا سند لري او ٩٨ کسان بيا د خصوصی زده کړو سندونو لري.[4]

د افغانستان د بشرد حقونوخپلواك کميسيون موندونوڅخه څرګنديږي چي په ځينوولايتونوکي د محکموڅانګي د تشکيل دکموالی څخه ستونزي لري ، اوله هغه څخه لا بده داده چي په ډيرو ولسواليوکي د ناامني له کبله محکمي فعاله نه دي ،د سترمحکمي يوکس د دې موضوع په هکله وائي : په ټولو ٣۴ ولايتونوکي د استيناف اوښاري محکمي فعا له دي ،ولي په١۴ ولايتونو کي د ناامنيو له کبله د۴٧ ولسواليو کي دهغوي د محکمودروازي تړلي دي جي د هغه شميرڅخه په کندهارکي د٧ ولسواليواوپه هلمند کي د۶ ولسواليومحکمي په نيمروز کي ١ يوه ولسوالي په دايکندی کي ٢ ولسوالی ، په غور کي٢ دوې ولسوالۍ په غزني کي ٧ ولسوالۍ ،په فراه کی ۶ ولسوالۍ ،په باد غيس کي ٣ولسوالۍ ،په سرپل کي ١يوه ولسوالۍ ،په فارياب کي ١ يوه ولسوالۍ ، په خوست کي ۴ ولسوالۍ ، په پکتيا کي ۴ ولسوالۍ ،کندز کي ١ يوه ولسوالۍ ، اوپه زابل کي ٢ دوې ولسوالۍ دي چي د هغوی محکمي لاتړلي دی اوفعاليت نکوي .

د کميسيون د موندونوڅخه څرګنديږي چي هغه تشکيل چي په ولايتونو اوولسواليو کي چي اوس اوس هم فعاله دي بسنه نکوي او د هغه څخه لاتيڼګه ستونزه دا ده چي هغه تشکيل چي د ولايتونو او ولسواليو د پاره په پام کي نيول شوی دی په عمل کي فعاله نه دي او په ډيرو ولايتونو او ولسواليوکي د محکمو مسؤلين له دې څخه سرټکوي چي د دوی څانګي د اداري او مسلکي کدرونو کموالی له يوې خوا او په ځينو ولسواليوکی د محکمو تړل يا نه فعاليت له

[3]- د ستري محکمي لاس ته راوړني اوفعاليتونه -١٣٨٥ -١٣٨٨ کلونه ١٩٠ – ١٩١ مخونه

[4]-د ستري محکمي د کدراوپرسونل رياست د مسؤلينوسره کتنه نيټه ٨ / ١٢ / ١٣٨٩

بلې خوا څخه پردغه بهیرمنفي اغیزه کوي چي خلک وعادلانه اومنصفانه محکموته اسانه لاسرسی ولري اوپه دې برخه کي د رسمي قضایي سیستم څخه برخمن وي.

۱ / ۲ د قاضیانوحقونه اوامتیازونه :

څرنګه چي قضا اود قضاوت دنده ډیره مهمه ده نوله دې کبله د قاضی صاحبانود لومړني اړتیاوو پوره کول اوهغوته د متناسبوامتیازونود حقونوټاکل دهغوي داستغنا اوعزت نفس د ساتني اوغښتلتیا دپاره ډیرمهم اواغیز ناکه دی . په همدې سبب ده چي په اساسي قانون اونور تقنیني سندونو کي پردغه ټکي باندې ډیرټینګارشوي دي،د هیواد اساسي قانون په ۱۵۵ ماده کي داسي لیکل شوي دي (دجمهوررئیس مرستیالانو،وزیرانو،د ملي شورا رئیسانو اوغړیو، د ستري محکمې غړیواولوی څارنوال ته د قانون له حکمونوسره سم مناسب معاش ټاکل کیږي )
د اساسي قانون د۱۲۶ ماده داسي حکم کوي ( د ستري محکمې غړي،د خدمت د دورې ترپاې ته رسیدو وروسته ،د پاتي ژوند په موده کي د خدمت د دورې له مالي حقوقو څخه برخمن کیږي په دې شرط چي په دولتي اوسیاسي چارو بوخت نشي )

د محکمود تشکیل اوواکونود قانون ۷۴ ماده وائي ( د ستري محکمې غړي ، قضا یي مستشاران اود محکموقاضیان د اساسي قانون د ۱۵۵ مادې پربنسټ د مناسب معاش مستحق ګڼل کیږي چي د هغه اندازه داړوند ه قانون له خوا ټاکل کیږي ) .

همدارنګه قاضي صاحبان د معاش ترڅنګه د محکمود تشکیلاتود قانون د۶۶ مادې په حکم د مسلکي کادر د امتیاز مستحق هم ګرځي چي د معاش یوه برخه ګڼل کیږي ، د عدلي او قضایي سکټورپه سترا تیژي کي د قاضیانود معاش ډیریدل وړاندویل شوی دي .
د قاضیانودندي چي دعدالت د تامین ترسره کول دي د هغوي د مالي امتیازونوحقونود ډیراهمیت وړدي ، ځیني کار پوهان اودولتي چارواکي په دې نظردي چي د دولتي کارکونکود معاش ټیټوالی اومالی امتیاز د اداري فساد اوارتشا په رواجولوکي اغیزه لري خوپه وا قعیت کي د معاش د کچي ټیټوالی په دې برخه کي یوازیني سبب نه ګڼل کیږي .

که څه هم په تیروکلونو کي د قاضیانود معاش ټیټوالی یود ننګونوڅخه وو اود فساد اورشوت درواجولودپاره یولوي سبب شمیرل کیدی خود نیکه مرغه چي د افغانستان دولت د۱۳۸۷ کال په نیمائي کي تریو حد پوري د قاضیانومعاش لوړکړ او د۱۳۸۹ کال د غوائي د میاشتی څخه د قاضیانومعاش په درې کټګوریو کي ۲۰۰۰۰ – 30000، ۴۰۰۰۰ –افغانیو ته لوړکړد قاضیانوکادري معاش هم د اوه زره اوپنځه سوه افغانیوڅخه تر ۱۵۰۰۰- افغا پوري جګ کړل شوه.[5]

د کمیسیون د موندونوڅخه څرګندیږي چي په ټولو ولایتونو او ولسوالیوکي د قاضي صاحبانو د معاش کچه د۲۰۰۰۰ - او ۴۵۰۰۰ – افغانیو ترمینځ ده چي د قاضي صاحبانود ژوند تیرولودپاره مناسب معاش دی د ځینومحکمو رئیسان د ۵۰۰۰۰ – څخه تر ۶۱۰۰۰ – افغانیو پوري هم معاش لري .

د کمیسیون د څارنکود موندونوڅخه ښکاري چي د محکمود قاضیانوډیره برخه د معاش د ډیریدودهغه کچي څخه خوښ دي چي په دې ورستیو کلونو کي ترسره شوي دي ،اوویلي ئې دي چي دغه معاش د دوي د ژوند دپاره بسنه نه کوي،ډیرو لږو قاضیانو ویلي دې چي هغوي برسیره پرمعاش د بزګري، سوداګري اودوکان داري له لاري اویا هم د کورنیود نوروغړوپه مرسته باندي تکیه لري .

په عام ډول ویلاي شوچي په اوس حال کی د قاضي صاحبانود معاش کچه مناسبه ده اوټول قاضیان د هغه څخه راضي دي،لکه چي د مخه وویل شول چي ځیني کارپوهان په دې نظردي چي د معاش ټیټوالی د اداري فساد اوبډو زمینه برابروي ، خوپوښتنه داده چي ایا د قاضیان د معاش په لوړولوسره په محکمو کي داداری فساد، بډي اوارتشا

[5]- د ستري محکمې لاسته راوړني او فعالیتونه . ۲۴۶ . مخ

کچه راټيټه شوې ده؟ که څه هم دې پوښتنې ته ځواب ورکول پوره څېړنې ته اړتيا لري خوپه عمل کې داسي ښکاري چې له هغه مودې راهيسې چې د قاضيانومعاش جګ شوى دى د اداري فساد اوارتشا په ټيټوالى کى پرمختګ نه دى ترسره شوى اويا هم ويلاي شو چې دغه پوښتنې ته د مثبت ځواب په ورکولو کې شك لرو.

## ۱ / ۳ استوګنځى اوټرانسپورټي وسيلې :

د محکمويوه بله ستونزه د مناسبي ودانۍ نلرل دى. د محکمود پراختيا اود مراجعينود ډيرښت په پرتله باندي د محکموودانۍ نه دي ډيري شوې ،بلکى هغه پخوانۍ ودانۍ لاهم بيا نه دى رغول شوى اومحکمې له دې سببه د ستونزوسره مخامخ دي، نوله همدې کبله اوسنى ودانۍ د محکمود اړتياوځواب نشي ورکولاى اودغه ستونزو د محکمود کارپراغيزومنفى اثرکړى دى .په اوسنې شرايطو کي دهيواد ډيري محکمې اوپه ځانګړې توګه د ولسواليو محکمې په کرايه ودانيو کي چې مناسبې نه دي،د مسجدونوپه کوټواوځينې ئې په دوکانوکي ځاى پرځاى شوي دي اويا خواصلاً په ولسوالي کي فعاليت نکوي .
د دې ترڅنګه په ولسواليوکي د قاضيانودپاره د استوګنې مناسب کورونو نشتوالى يوه بله ستونزه ده چې د هغه د حل دپاره لازمه پاملرنه نه ده شوې، د ستري محکمې يو مسؤل کس په تيروکلونو کي د قاضيانود ژوند د حالت په اړه ويلي دي چې په تيرووختونو کي د قاضيانودپاره حتا د ولسوالى په کچه باندې هم د استوګنې کورونه اود ژوند نورې اسانتياوې د دولت له خوا برابرى کيدې چې له بده مرغه د جګړود پيل څخه نوردغه څه ته پاملرنه نده شوې .

د قاضيانو دپاره د ټراسپورټي وسيلو نشتون بل هغه څه دي چې د محکمود کړونو پرکيفيت باندي منفي اغيزه ږدي، د کميسيون دسيمه بيزو او ولايتي ځانګو په موندنو کي داڅرګنده شوې ده، ځينى قاضيان په ولسواليو او حتا په ښارونو کي د ټرانسپورټي وسيلو د نلرلو څخه سرټکوي او د قاضيانو د کار پر فعاليت باندي منفي اغيزى ږدي .
د بيلګې په ډول د دايکندي ولايت د استيناف د محکمې رئيس وائي چې دى اوځينې نور قاضيان چې دلته کار کوي د نوروو ولايتونو دي ، اودلته په ليري سيمو کي دندې ترسره کوي ، دغه قاضيان د دندوځاي ته دراتلواويا هم خپلو ولايتونوته د تلودپاره ټرانسپورټي وسيلې نلري ، د دې ولايت ځينوقاضيانو وويل چې همدغه څه د دې سبب کيږي چې قاضيان په تلو راتلو کي ستونزې پيداکي او حتا د ناروغي په وخت اويا نورو ستونزود ليرى کولو دپاره څه تدبيرونه وسنجوي.
د کميسيون موندنې داراښئي چې د پورته ستونزوپه څنګ کي په ځينو ليري پرتوولسواليوکي چې يخنى ډيره ده هلته دوى د سون دپاره بوديجه نلري اويا هم د هغوى د اړتيا وړمواد ناوخته رارسيږي چې داد محکمې د کارونو په مخ کي خنډونه ګرځي او ځينى وختونه د ډيريخنې له کبله قاضيان ومحکمې ته نشي رسيدلاى .

## ۱ / ۴ . په محکموکي دقاضيانو سوب ، ناسوب

ودې واقعيت ته په پاملرنې سره چې د محکمو تشکيل په ټول ظرفيت سره فعاله ندى ، اومحکمې معمولاً د قضا يي پرسونل د کموالى سره مخامخ دى نوله دې کبله دا اړينه ښکاري چې د محکمود فعاليت دپاره ترهرڅه لومړى د هغوى د پرسونل پوره کول مهم ګام دى .

په همدې اړه د افغانستان د اسلامي جمهوريت د قا ضيانود قضا يي چلند د ډول دمقررې په شلمه ماده کي راغلي دي (قاضي خپلو قضايي دندوته ترهرڅه د مخه لومړيتوب ورکوي ،قاضي داسى څه نه کوي چې د قضائيپاکوالي (نزاهت) دنفي سبب وګرځي اوپه همدې ترتيب قاضي خپل نا قضا يي فعاليتونه داسى ترسره کړي چې د هغه د قضا ئي دندوسره په ټکرکي نشي. قاضي خپله قضائي غونډه پرخپل وخت پرانيزى اود محکمې څخه هغه وخت وزى چې رسمي وخت پاي ته رسيدلى وي ،قاضي د خپل آمر داجازې پرته د خپلې دندې څخه ناسوب کيدلاى نشي مګر په هغه صورت کي چې د دې ناسوبي حالت دهغه په کنټرول اوواك کي نه وي ) .
خوپه عمل کي ليدل کيږي چې د ډيروقاضيانوناسوبي اودې موضوع ته پاملرنه نکول د دې سبب ګرځي چې د محکمو په کارونو کي ستونزې رامينځ ته شي اوله همدې امله د قضايا وحل وفصل پرخپل وخت باندي ترسره نشي .

د کميسيون له موندونوڅخه داسي څرګنديږي چې د قاضيانوناسوبي ډيرځله د ولسواليو په محکمو کي ليدل کيږي او دغه بي نظمى اوس په يوه معمولى امربانديَ بدل شوى دى، خود ولايتونو په مرکزکي هم ځينې قا ضي صا حبان

د مختلفو پلمو په راوړلو سره ناسوب وي ، د محکمود اداری کارکونکود نا سوبي کچه هم د قاضیانود ناسوبي له کچې څخه لږ نده . حتا په ځینوولایتونوکي د اداري کارکونکو ناسو بي د قاضیانود ناسوبي په پرتله ډیر دي .
د افغانستان د بشرد حقونوخپلواك كميسيون څیړني راښئي چي په محکمو کي دوه ډوله ناسوبي شتون لري .
اول هغه قاضیان چي د رسمي وخت څخه وروسته ( ناوخته ) خپلوکارونوته راځي اويا هم د وخت ترپای ته رسیدو د مخه خپل کار پریږدی . چي د بده مرغه دغه شمیرډیردی اوداکاریومعمول کاردی .

د کمیسیون څارنکوداځرگنده کړي ده اودائي موندلي دي چي په ډیرو ولایتونوکي محکمي یوازي د غرمي تر ١٢ بجو پوري کار کوي اوله غرمي وروسته بیا کارنکوي . په داسي حال کي چي د لمانځه اداکولواودغرمي د ډوډۍ خوړلودپاره یوساعت (د١٢ بجو څخه تر١ یوي بجې پوري ) ټاکل شوی دی، خو د کمیسیون څیړنو دا جوته کړې ده چي د ستري محکمې په ځینو څانگو کي چي په کابل کي دنده لري پر ٣٠ : ١١ ، بجو باندی خپلي دروازی بندوي اوبیا د ماښنین پر ٣٠ : ١ ، اویا هم پر ٠٠ : ٢ بجو باند ي مراجعین مني .
دناسوبي دوهم ډول ئي دادي چي ځیني قاضیان داونی په بهیر کي له یوې ورځي تر درو ورځو پوري ناسوب وي اوکارته نه راځي ،دغه ډول ناسوبي په ډیرو ولسوالیو اوځینوښارونوکي روانه ده . په ځینو محکموکي دناسوبي ورځو شمیر دري وو خوپه ځینو محکمو کي بیا دغه شمیر لوړوو.

دولسوالیوپه محکمو کي نا سوبي دولایتونودمرکز دمحکمو په پرتله ډیره وه ، په همدې ډول دولا یتونودمرکز د محکمو ناسوبي د کابل دمحکموپه پرتله ډیره وه ، داسي څرگندیږي چي دغه موضوع ترډیره کچه پوري په کنټرول اوڅارني پوري اړه لري ځکه هرڅومره چي محکمي د مرکزڅخه په لیري واټن کي وي په هغه کچه باندي ئي ناسوبي ډیره وي ، په محکموکي دقاضیانو ناسوبي مختلف سببونه لري خوتر ټولو غټ دلیل ئي دادي چي د قاضیانوپرکارونو باندي سم کنټرول اوڅارنه نشته، د ځینوقاضیانو بې مسؤلیته وضع اوځینی د بل ولایت اولیري سیمی قاضیان ناسوبي ډیروي.

د کمیسیون د څیړونوڅخه دا سي څرگندیږي چي د ولایتونوپه محکمو کي ناسوبي اوپه ځانگړی توگه د ولسوالیو په محکمو کي ناسوبي له دې سببه کیږي چي د محکموقاضیان د دغوسیمواوسیدونکی نه دي بلکي د بل ولایت اویا بلي ولسوالي دي ، دغه شي د دې سبب کیږي چي ځیني قاضیان هره ورځ اویا هم داونۍ په ورستیو کي خپلو کورونوته ولاړشي څرنگه چي د کورونوواټن ئي لیري دي نوپرخپل وخت باندی کارته نشي راتلای اویا هم د ورځي په بهیر کي کارته ناوخته را رسیږي ،نود دوی د کورونو لیري والی د یوې خوا اوپرکارباندي کنټرول اوڅارنه نکول د بلي خوا څخه د دې سبب کیږي چي قاضیان د خپلوکارونوڅخه ناسوب شي اوپه اونۍ کي یوه یا څو ورځي ناسوب وي .

د دایکندي په ولایت کي د١٣٨٩ کال د روژي په مبارکه میاشت کي د محکمو اودیوانونو د رئیسانوپه اتفاق یوه میاشت ټوله رخصت وه اوپه عملي توگه د محکمو ټول کارونه د رخصت په حالت کي وه .
د بیلگي په ډول د کمیسیون څارنکود فاریاب ولایت د دولت آباد ولسوالي د محکمي قاضي ته د مرکي دپاره انتظارویوست ، خود قاضي صاحب د ناسوبي له کبله هغوی بریالي نشول چي د قا ضي سره مرکه تر سره شي .
د بامیانو په ولایت کي د قاضیانوډیرشمیرد ډوډۍ خوړولو دپاره غرمه خپلو کورونو ته ځي اویا هم د ډوډۍ خوړلو وروسته خپلواستوگنځیوته ځي اوبیرته نه راځي .

په شمالي ولایتونوکي په ځینوولسوالیوکي یوسیمه ییزدود اورواج شته چي په اونی کي دوې ورځي (معمولاً دوشنبه اوپنجشنبه )د بازاردوورځوپه نوم یادیږي، دغه دود اورواج د محکمواونوروواداري څانگوپرناسوبي په مستقیمه توگه منفي اغیزه کړې ده ، د کمیسیون د څیړنوڅخه داڅرگندیږي چي د مراجعینوشمیر ومحکموته د بازار په ورځو کي ډیروي خود بده مرغه چي په همدغه ورځو کي بیا د قاضیانو ناسوبي هم ډیره وي .

همدارنگه د کمیسیون څارنکوپه خپلوموندونوکي دا وائي چي د ارزگان په ولایت کي قاضیان په میاشت کي ١٥ ورځي ناسوب وي ، د بد خشان،پنجشیر،ارزگان،پکتیا، خوست، اوپکتیکا ولایتونوکي ډیرشمیرقاضیان خپلو کارونو ته د سهارپر٩ بجوراځي اوبیرته پر١٢ بجوباندي کورونوته ځي. په همدې توگه د کمیسیون څارنکوپه خپلو

موندونوکي څرګنده کړي ده چي د کندز ،تخار ،میدان وردګ،غزني، بلخ، اوجوزجان ولایتونو اوپه ځانګړی توګه د پورته ولایتونو د ولسوالیوپه محکمو کي ډیرشمیرقاضیان په اونۍ کي د۲ څخه تر ۳ ورځو پوري ناسوب وي .

د جوزجان ولایت د خواجه دوکو ولسوالي اوسیدونکي اود دې ولسوالی یوتن مدافع وکیل ویلي دي چي زموږ د ولسوالی قاضي صاحبان په اونۍ کي څلور ورځي ناسوب وي، دغه څه د دې ولسوالی څارنوال هم مني .

د افغانستان د بشرد حقونوخپلواك کمیسیون یوڅارونکی د یومؤظف شوي پلاوي په ترکیب کي چي یوه قضیه ئې څیړل د نوروعدلي او قضایي غړواود پنجشیرولایت استازي غړې سره یوځای د پنجشیرد پریان ولسوالي ته روان شول او هلته ئې د خلګود ستونزوپه هکله خپل د سترګولیدلی حال د قاضي صاحب د ناسوبي په هکله داسي بیان کړ چي د ولایت د استناف محکمې د ریاست د جزا د دیوان سرپرست د مؤظف قاضي څخه وغوښتل چي که هڅه وکړې په اونۍ کي یوځل هم کارته راشي د خلګو ستونزی حل کیږي .
د کمیسیون موندني داڅرګندوي چي د کابل ښارد مخدره توکوسره د ځانګړی محکمود کارکونکود کارته راتلو وضیعیت په ښه حالت کي دی ،خوبیا هم وضیعیت په دي ډول دی چي د رسمي وخت پاي ته رسیدو نیم ساعت وړاندي په د فترونوکي لږکسان پاته وي اود کارکونکود لیږد ټرانسپورټي موټرونه لس اویا هم شل دقیقي د رسمي وخت پاي ته رسیدو ترووړاندي حرکت کوي . په همدې ترتیب کورنۍ محکمه ، د ماشومانومحکمه اود کابل په ښار کي د اداري فساد څخه راپیدا شوي جرمونومحکمه هم د ورته ستونزو سره مخامخ دي .

د پروان،لوګر،میدان وردګ،ننګرهار،کنړ، اولغمان ولایتونو د ځینومحکموضیعیت ښه ښکاریده اوپه ځانګړي توګه په پورته توګه د استیناف محکموقاضیان هره ورځ خپل کارته راتلل، د فاریاب اوهرات ولایتونو د استیناف د محکمود حاضري وضیعیت په ښه حالت کي وو . خود پورته ولایتونو په ولسوالیوکي د قاضیانوناسوبي ډیره د ه .
د کمیسیون د موندونوڅخه څرګندیږي چي په ټولوکی په ډیرو ولایتونواوولسوالیو کي د قاضیانوناسوبې د مراجعینو دپاره د سرخوږې اوسرګرداني جوړوي او په پاي کي دغه څه د دې سبب ګرځي چي د هیواد پرقضا یي اوعدلی سیستم باندي خلګ خپل ویسایي د لاسه ورکړي .

ډیرسببونه شته چي ولي مسلکي اواداري کارکونکوته دپروخت راتلو سره دسپلین ته غاړه نږدي ، دمحکمو داداري اومسلکي کارکونکوپرکارونوباندې دڅارني اوانظباطي فرهنګ نشتوالی، په ځینو سیموکي دامنیت نشتون، دواټن اوږدوالی اوټرانسپورټي ستونزي ،اود قاضي صاحبانو دبې مسؤلیتي احساس دغټو سببونوڅخه شمیرل کیږي، ددې ترڅنګه په ډیرو ولایتونواوولسوالیوکي قاضیان دهغه سیمواوسیدونکي نه دي اوهغوي مجبوره دي چي دکوره څخه ترکاره پوري اوږد واټن ووهي اوحتا دځینو قاصیانو کورونه په بل ولایت کي دي اودغه څه ددې سبب ګرځي هغوي د خپلوکورنیود لیدو دپاره ولاړشي اومحکمې د څوورځو او اونیو دپاره قاضي ونلري ، دغه ستونزي په هغه ولایتونو کي ډیري دي چي د مرکزڅخه لیری دي اویا هم هلته امنیت سم ندی .

د بیلګیي په ډول هغه مرکې چي د سرپل په ولایت کي د کمیسیون د کارکونکوله خوا ترسره شوي دي ،ډیرو مرکه کونکو ویلي دي چي که څه هم د پخوا په پرتله د قاضیانود ناسوبي کچه راټیته شوې ده( اود هغه سبب هم د قاضیانو د معاش ډیروالی ښئي) خوبیا هم قاضیان ناسوبي کوي، دغه کسان د قاضیانوناسوبې له دې امله ګڼي چي هغه قاضیان چي د بل ولایت دي نود لاري اوږده واټن له امله نشي کولای چي پرخپلوخت باندي خپل کارته راورسیږي. په دې اړه د دې ولایت یوقاضي وائي ( په محکمو کي تریوه حد پوري ناسوبي شته اود هغه سبب دادی چي ځیني قاضیان د لیري ولایتونوڅخه دي نوکله چي دوی د خپلورخصتیواویا هم د کوم ستونزي د حل دپاره خپلو کورونوته ځي نو پرته کلي وخت باندي خپل کارته رارسیدلاي نشي). اود دایکندي ولایت د استیناف رئیس وائي چي د ده په ګډون د ځینوقاضیان کورنه په نورو ولایتونو کي دي اوپه عملي توګه څوورځي نیسي چي دوي خپلو کورونو ته ورسیږي، هغوي د دغه ستونزي د حل دپاره څوځلي دیوناما د دفترسره اړیکي نیولي دي چي د کورنیو د لیدودپاره باید هوائي ټرانسپورټ د هغوی سره مرسته وکړي، خو د هغې خوا څخه ئې کوم مثبت ځواب نه دي ترلاسه کړي .

داروښانه ده چي په محکمو کي د مسلکي اواداري کارکونکو ناسوبي په کارونوکي ځنډ راولي اوډیري دوسیې بې حله پاتیږي اودغه څه د عدالت په تامین کي د قضا ئي سیستم نا کامي اود خلګو دپاره سرخوږي جوړوي، دغه څه

د يوې خواخخه د اداري فساد د پيدا کيدو سبب گر ځي اود بل لوري څخه هم د خلګود وخت وژل دی اوهم هغه څوك چي د ليري سيمو څخه راځي د پيسود ډيرلګښت سبب کيږي ، چي په پايله کي خلګ ناهيلي اوزړه ماتي کيږي چي دغه څه د هيواد پرقضائي اوعدلی سيستم باندي د خلګودباورکچه راټيټوي ، لکه څنګه چي د سرپل د بلخاب ولسوالی يواوسيدونکي وائي ( په مرکزاوولسواليوکي د قاضيانونا سوبې د دې سبب کيږي چي د مراجعينو وخت ووژني، د محکموپه کارکي ځنډ راشي اوهم د مراجعينود ډيرلګښت سبب ګرځي چي ځيني وخت د دعوا دواړي خواوي مجبوره کيږي چي قومی شورا جرګي اوسپين ږيروته ورشي اود هغودعوا د قومي شورا له خوا حل شي)

## ۱ / ۵ ۰ د قاضيانومسلکي پوهه او د ظرفيت لوړولو پروګرام

هم هغه شان چي د يوهيواد قوانين د ټولنيزوبدلونونواودنوی اړتياوو دپوره کولودپاره تل د بدلون اوودې په حال کي دي ،بيله شکه چي د قانون پلي کونکي هم بايد دپرمختيا اوپراختيا وو سره ځان سم کړي اوخپل حقوقي پوهه لوړه کړي.

د بل پلوه څخه د نوي پديدو زيږيدو سره سم دا اړينه ښکاري چي د هغوي د تنظيم دپاره نوی قوانين جوړ کړل شي .

دغه مسئله ودې ته اړتيا پيداکوي چي د محکموقاضيان خپل حقوقي پوهه دوه برابره کړي ،د قضائي چلند مقررې اتلسمه ماده په دې هکله وائي: (قاضي بايد د عا دلانه قضاوت اوسالمو قوانينود اجرا دپاره په ټولوقوانينو،ميثاقونو اونړيوالو تړونوباندي پوه وي اودهغه اجراآتوته ژمن پاته شي. قاضي د خپلي پوهي اومهارتونوپه ساتلوکي چي د هغه د قضائي دندو دپاره اړين دي مناسب ګامونه واخلي اود همدې موخي دپاره د هغه ښوونيزو پروګرامونو څخه ګټه تر لاسه کړي چي د قضايي واك له خواترتيب شوي دي)

د کميسيون له موندونوڅخه څرګنديږي چي د قاضيان مسلکي پوهي په لوړتيا اوپرمختګ کي په پوره کچه باندي برياوی نه دي ترسره شوي. د دې وضيعيت د دوام په هکله هغه دری سببونه څيرو چي لوی رول پکی لری .

### ۱ /۵ / ۱ ۰ دقاضيانو د زده کړي(تحصيل) ټيټه کچه

د ستري محکمې د مسؤلينود شميرنوپربنسټ د محکمو د قاضيانواواداري کارکونکود زدکړي کچه په دې ترتيب ده :

(دری کسه د ډاکتري سندونه، اته ۸ کسه د ماستري سندونه، ۱۶۲۳ کسان د ليسانسه سندونه ، ۳۹۷ کسان د بکلوريا لوړ سندونه، او۱۱۰۴ کسان د بکلوريا سندونه او۹۸ کسان بيا د خصوصي زدکړوسندونه لري ).[6]

که څه هم دغه شميرنه څرګنده وي چي په محکموکي نا مسلکي کسان هم کارکوي، خود کميسيون د موندونو څخه څرګنديږي چي يوشمير قاضيان اوپه ځانګړي توګه هغه قاضيان چي په تيرو کلونوکي په کار ګمارل شوي دي د مناسب زده کړي لرونکي نه دي او په ټينګ ګمان چي هغوی په قانوني اوحقوقی موضوعګانوکي تخصص نلري اود حقوقي بنسټيزو موضوع ګانو څخه خبر نه دي .

### ۱ / ۵ / ۲ ۰ د ښونيزومعيارونو ټيټوالی

پردې سربيره چي د محکمويوشمير قاضيان اصلاً د حقوقي پوهي لوړه زدکړه نلري ، هغه قاضيان چي د لسانس په کچه د هيواد د پوهنتون څخه راوتلي دي هم پوره تخصص اومهارت نلري ، د افغانستان د شرياتواوحقوقو په پوهنځيو کي د ناپرمختللي پوهنيزنصاب څخه کاراخلي ، په دې مرکزونوکي د پوهي د کچي ټيټوالی د دې سبب ګرځي چي د پوهنتون څخه بريالي فارغ کسان هم په حقوقی موضوعګانو کي داړتيا وړمهارت نه تر لاسه کوي،دغه څه دې ته اړتيا پيدا کوي چي د پوهنتون اولوړو زده کړو د لوست نصاب لوړکړل شي اود بلي خواخخه د هغوی د سويې د لوړولودپار ه بايد د قضا يي ستاژ په دوره کي نوري زده کړي ورکړل شي .

---

[6]- د ستري محکمې د پرسونل او کدرد مسؤلينو سره مرکه ۸ / ۱۲ / ۱۳۸۹

۱ / ۵ / ۳ / ۰ د ظرفيت د لوړولو نيمګړي پروګرامونه

د هغودووستونزوپه لرلوسره چي پورته موويل قاضيان په کلکه باندي اوږد مهاله اولنډ مهاله کورسونو ته اړتيا لري ترڅو دهغوی د پوهي کچه اومالوماتونه د حقوقوپه برخه کي لوړکړي، د قاضيانود پوهي اوظرفيت لوړولو په لاره کي دولت هغه ستراتيژي ته چي عدلي اوقضايي سکتورته پکي ژمن دی، په دې منظور ئي د ستري محکمي اونوروموسسو(ملي اونړيوالي موسسي ) لکه د افغانستان د بشرد حقونوخپلواک کميسيون ،د بشرد حقونواومدني ټيمونه د عدلي اوقضا يي پروژې چي په PRT د IDLO- UNAMA - ټولني موسسه سره کورسونه اجرا او عملي کړي دي JSSP, JTZ< MAX PLANK,USID

د قضا يي ستاژلوړ کورسونه چي د مسلکي پوهي ترلاسه کولو اود قضا يي تجربو اومسلکی زدکړو لپاره په ۱۳۴۷ کال کي پرانيستي اوپه کار ئي پيل کړي دی د ستری محکمي د عامه آمريت په اډانه کي فعا ليت کوي .
دا اوس د شپږويشتمي ۲۶ دورې او ۲۷ دورې په کورسونوکي ۱۲۰ کسان په مسلکي زده کړو باندي بوخت دي ، په تيرو دوروکي د هرکورس موده يوکال وه خوسږ کال بيا د دغه کورس موده و دووکلونو ته لوړه کړل شوي ده خود تيرکال برعکس (په ۱۳۸۵ کال کي ۱۷۵ کسه په ۱۳۸۶ کال کي ۲۰۰ کسه اوپه ۱۳۸۷ کال کي ۲۰۰ کسه ).[7]

د ګډون کونکو ستاژرانو شميرډيروو خو د اوسني دوری د کورس د ګډون کسان د تير په پرتله باندي لږدي.
د ظرفيت د لوړولو په نورو پروګرامونو کي لنډمهاله کورسونه ،سمينارونه ،ورکشاپونه شامل دي چي د ستري محکمي اود افغانستان دقضايي سيستم ، د نورو موسسو په مرسته باندي پرمخ وړل شوي دي.
په دې پروګرامونوکي د مرکز او ولسواليو (چي ښارونوته نږدې وي )ډيرو قاضيانو ګډون کړي دي ،خود ليرو پرتو ولسواليو د قا ضيانود ګډون کچه لږوه .

د کميسيون موندني راښکاره کوي چي د امنيتي ستونزو له کبله د ارزګان ولايت يود هغو ولايتونوڅخه وو چي قاضيانوئي د نورو ولايتونو په پرتله په ډيرلږشميرپه دغه پروګرامونوکي ګډون کړي وو، اوهمدارنګه د پنجشيرولايت د درې ولسواليوڅخه يوکس قاضي وويل چي په هيڅ ډول دغه شان پروګرامونو کي ګډون نه دی کړي نواړتيا ليدل کيږي چي د ټولوولسواليوقاضيان ودغه پروګرامونوته راوغوښتل شي اوګټه ترې لاسه کړي .
که څه هم د دي څخه سترګي نشي پټيدلاي چي قضا يي ستاژ مثبته اغيزه لري او د ټولو قاضيانو دپاره چي ګډون ئي کړي ووګټورتمام شو خو ستونزه بيا هم داده چي د ستاژدغه دوری هم ونکړای شواي چي د هيواد قضايي سيستم په بدلون کي ستر بدلون راولي . اود هغه سبب هم داوو چي د پروګرام د وخت دوره لږ وه اود بلي خوا څخه هغه محدوده هم وه .

په اوسني شرايطوکي د قضا يي ستاژ دوري د يولږ شميرکسانوغوښتني ته ځواب ورکولاي شي اوپه سلګونو شمير هغه قاضيان چي د قضاوت شغل ته هيله من دی له دې دورې څخه بې برخي دی. د دې کاردوام به په محکمو کي د پرمختګ لاره ونيسي اوقاضيان په لازمه پوهاوی ترلاسه نکړي.

بيله شکه چي د قضا يي ستاژ د دورو رغول اوپراخول اود نورو ښوونيزو دورو لوړولو د قاضيانود پوهاوي په لوړتيا کي مثبته اغيزه کوي اودا يو اوږد مهاله اړتيا ده خو دهغه شرايط دادی چي دغه دواړي دورې چي لنډ مهاله او اوږدمهاله دي تل ئي کيفيت نوی اولوړکړل شي او د بل پلوه څخه د دغه دورو دپاره پوره وخت په نظر کي ونيول شي (په ځانګړي توګه لنډ مهاله کورسونه ) اوترټولو لا مهمه داده چي دغه زمينه ټولوقاضيانواوهغه څوک چي د قضا وت په هکله د پوهاوي ترلاسه کولوغوښتونکي وي ، برابره شي.[8]

---

[7]- ډاکتر عبدالمالك کاموي او محمد عثمان ژوبل – په تيرو څلوروکلونو کي د ستري محکمي لاسته راوړني ۱۳۸۹ کال ۱۰۸ مخ .

[8]- په هغه مرکوکي چي د کميسيون غړود کورسونو د استادانو اوګډونکونکو سره ترسره کړې دي هغوی ويلي دي چي د قاضيانو دپاره د دغه کورسونو موده لنډه ده چي بايد اوږده شي .

کميسيون ته د پاملرني وړ يوه موضوع د دي کورسونو په هکله داوه چي د بشرد حقونود نړيوال ستندرد معيارونو سره د قاضيانو پلديت او په همدې توګه د دغه کورسونواغيزه پرګيون کونکوباندي او ترټولو مهمه لا د قاضيانو په حکمونوکي د بشرد حقونو رعايتول اوهغه سندنونوته اهميت ورکول کوم چي د بشرحقونوځانګي له خوا برابر شوي دي .

په ډيروهغوپروګرامونوکي چي وقاضيانوته برابرکړل شوي دي د قانون اوحقوقي موضوعګانو په څنګ کي قاضيان د بشرد حقونوسره هم بلديت پيدا کړی دی . اود ځينوقاضيان پرقضا وت باندي ئي اغيز کړې دی خو بيا هم د ډيروقاضيانو په قضاوت کي اود هغوي په اجراآتو کي بشري حقونوته ارزښت نه ورکول کيږي .
د کميسيون ځيني ولايتي اوسيه ييزوځانګوپه دې اړه باندي مثبت رپوټونه ورکړي دی. د بيلګي په ډول د کندهار ولايت سيه ييزي ځانګي پخپل يو رپوټ کي ليکلي دي، په تيرکي ډيروخت داسي وو چي د ښځوغوښتنپانو ته چي د ميراث اويا د ميره څخه د جلا کيدو په برخه کي وه چا هغه غوښتنپانوته اهميت نه ورکاوه ، خوپه دې وختونو کي د دغو غوښتنپانوسره په توپيري ډول چلند نه کيږي اود هيواد د نافذه قوانينو اواسلامي شريعت د احکاموسره سم چلند کيږي .

د مزار شريف د کميسيون سيمه ييزځانګي ليکی چي د بلخ ولايت د محکمي قاضيان اوس هڅه کوي چي د تورنوکسانو نسبتي دوسي پرخپل وخت باندي حل کړي اوهم د تورنو ( متهمو)انساني کرامت ته درناوي وکړي او په همدې توګه د کابل سيمه ييزه ځانګه د پروان اوکاپيسا ولايتونود استيناف محکمو په هکله ليکی چي قاضيان د بشري حقونوپه هکله مثبت نظر لري.

په ټول کي ويلاي شو چي تراوسه لاډير قاضيان په پوره کچه باندي مسلکي زده کړي نه دي کړې او د حقونو پوهي د ظرفيت لوړولو دپاره دغه شان کورسونه ته اړتيا لري، او د دې ترڅنګه د بشرد حقونود موازينو اوپه عمل کي د هغه د رعايتولو دپاره چي دوی قضايي حکم صادروي د بشری حقونو پوهاوي ته اړتيا لري .تر اوسه پوري لا د اسلا مي موازينو اود هيواد د نا فذه قوانينو اود بشرد حقونونړيوالوترنونو معيارونو چي افغانستان منلي دي ، ترمينځ اړيکي لا تر اوسه ډيرو قاضيانوته نا حله پاته دي .دغه موضوع وډيرښه پروګرام ته اړتيا لري چي درسي نصاب ئي ډيرکره (دقيق )وي اوهم د ستاژ په دوره کي د بشرد حقونود تجربېولرونکي استادان چي په ديني حقونو اوعلوموکي ماهر وي اړتيا لري .

۱ /۶ / ۰ د قوانينونسخو اوتقنيني سندونو ته د قاضيانو لاسرسی :
د حقوقي پوهاوي لوړتيا اود هيوادپه قوانينوباندې پوره پوهيدل، کورنې قوانينواوهغه نړيوالو تړونوته چي افغانستان ژمن دي لاسرسںاو حقوقی اوقانوني سرچينوته لاسرسی د قاضيانوانکار نکونکې اړتيا ده.

په تيروخت کي قاضيانو اونوروعدلي اوقضا يي ځانګود هيواد نافذه قوانينو،تقنيني سندونواونړيوالوکنوانسيونو ته چي افغانستان دهغه غړي دي لاسرسی نلري، اوکه کله د يوه قانون يوه نسخه هم پيدا کيدله نوبيا وهغه تعديلونوته لاسرسی نه وو کوم چي پکي راغلي وه، اودوی دهغه زړې نسخې څخه پرته د راغلو تعديلونوکاراخيستي ، د محکموقاضيانواود قضايي اوعدلي نورمسؤلينوکله کله په روايتي ډول د خپلي حافظې په وسيله د قانون موادوڅخه د حقوقی دعواوود مختلفو کټګوريوجرمونو دپاره کار اخيستي او کله کله ئي د فقهی کتا بونو او الاحکام د مجلوڅخه ګټه اخيستل ، په داسي حال کي چي د اساسي قانون ۱۳۰ ماده حکم کوي( محکمي ترغورلاندي قضا ياووکي د دې اساسي قانون اونورو قوانينو حکمونه تطبيقوي. که د غورلاندي قضاياوو له جملې څخه د کومي قضيي لپاره په اساسي قانون اونورو قوانينو کي حکم موجود نه وي، محکمه د حنفی فقهي د احکامو له مخي اوپه هغه حدود کي دننه چي دې اساسي قانون ټاکلي ، قضيه په داسي ډول حل اوفصل کوي چي عدالت په ډير ښه توګه تامين کي )

اود اساسي قانون د ۱۳۱ مادې پر بنسټ کله چي د جعفري مذهب فقهی ته رجوع کيږي هلته هم د قانون اساس په نظر کي نيول کيږي. په همدې ډول د مدني قانون لومړي ماده حکم کوي ( په هغه مواردو کي چي د قانون حکم موجود وي اجتهاد ته اجازه نسته . د دې قانون حکمونه د لفظ اومانا په لحا ظ د تطبيق وړدي . په هغه مواردو کي چي قانون موجود نه وي محکمه د اسلامي شريعت د حنفي فقهی د ټوليزواساساتوله مخي حکم صادروی چي عدالت په ډير ښه ممکنه وجهه باندي تامين کړي)

د مدني قانون دوهمه ماده حکم کوي (په هغه مواردو کي چي په قانون اود اسلام شريعت حنفي فقهی په ټوليزو اساساتو کی حکم موجود نه وي، محکمه د عامه عرف په مطابق حکم صادروی په دې شرط چي دغه عرف د قانون د حکمونويا د عدالت د اساساتو مخالف نه وي ) .
خوپه ورستيو کلونوکي ډيرو قاضيانود هيواد نافذه قوانينوونسخوته لاسرسی پيدا کړی دی چي هغه USID موسسي له خوا چاپ شوي دي .د ماکس پلانکMAX PLANCK موسسي هم ځيني قوانين چاپ اوخپاره کړي دي ،برسيره پردې د منتخبوقوانينو مکملي دورې د پروگرام ګډونکونکو ته وړاندي کوي ترڅو پخپلو زدکړوکي له هغه څخه ګټه واخلي .
په دو وورستيو کلونو کي د عدليې وزارت په ډير ښه نوښت باندي د هيواد د ځينو نافذه قوانينو مجموعې په منظم اوښکلي صحافت باندي چاپ او خپاره کړي دي .

د کميسيون موندني څرګندوي چي قانوني متنونوته د قا ضيانود لاسرسي کچه ډيره شوې ده خوبيا اوس هم لا هم ځيني محکمي اوقاضيان په پوره کچه باندي د قوانينو نسخوته لاسرسي نلري . او په ځينو ولايتونوکي کله چي قاضي بل ځاي ته بدليږي يا هم د يوې محکمي څخه بلې محکمي ته بدليږي نوپه محکمه کي ټول چاپ شوی د قانون نسخي د ځان سره نوی د فترته وړي. ځينو قاضيانووړانديزکړې دی اوټينګارکوي چي قاضيان بايد د بدليدوپه وخت کي د قوانينو ټولی نسخي محکمي ته تسليم کي اود ځان سره ئې يونسي .

د کميسيون په موندنو کي داهم وه چي هغه کنوانسيونونه چي د افغانستان دولت د هغه غړی دداودهغه د پريکړوتطبيق ته ژمن دی ډيرلږد قاضيانواومحکموولاس ته ورځي ، په همدې توګه قاضيان له دې څخه شکايت درلودی چي نوی قوانين چي د عدليې وزارت له خوا دوی ته رسيږي( رسمي جريده ) پرخپل وخت ودوی ته نه رسيږي . د بيلګي په ډول د ښځو په وړاندي د تاوتريخوالي د مخنيوي قانون اود شيعه مذهبود احوال شخصيه د قانون د انفاذ څخه يو کال تيريږي خود ځينو ولايتونومحکمي لاتر اوسه پوري هغه پخپل لاس کي نلري . دنوي نافذه قوانينو سره نا بلدی اونه لاسرسی ، د بشرد حقونود نړيوالوتړونوسره نا بلدي او دهغه د رعايت په هکله د هغوی ناخبري ، د انټرنيټ سره د هغوی نابلدی هغه ننګوني دي چي دوی ورسره لاس په ګريوان دي اونه پريږدی چي دوی نوی حقوقي زده کړي وکړی .

١ / ٧ ٠ امنيتي ننګوني
يو دهغو اوږدو ستونزوڅخه چي د قضا يي سيستم او محکموپه وړاندی شته هغه په دې وروستيو کلونوکي د نا امنيو ډيروالی دی ، دغه څه د قانون حاکميت د ستونزوسره مخامخ کوي اود محکمواو قاضيانو پر پريکړو باندي منفی اغيزه کوي .
د کميسيون د موندنو څخه څرګنديږي چي امنيتی ويري اچوني د قاضيانو د انديښنو سبب ګر ځي ، کله چي د هغوي سره مرکه شوي ده هغوي ويلي دي چي دوی د دندي د اجرا له پلوه په مستقيمه توګه د دولت د مخا لفينو ، سيمه ييزو چارواکو ، د نا مسؤل وسله لرونکو ،دولتي چارواکو اود دعوا دلورو له خوا ګواښل شوي دي. دا په داسي حال کي ده چي د محکمو د تشکيل،دندو او واکونود قانون له مخي د کورنيو چارو وزارت اونوري اړونده امنيتي څانګي د قاضيانو اود محکمو د دفترونو د ساتلو مسؤليت لري .
د کميسيون موند نو له مخي د قاضيانو په وړاندي ډير ګواښونه د دولت د مخالفو وسله والو ډلوله خوا تر سره شوي دي . هغه ګواښونه چي د نا مسؤلو وسله واله ډلو له خوا شوي دی دهغه کچه د دولت د وسله والو مخالفينو دډلو سره مساوي ده .د دولت د مخالفينو ويروني ډيرځل په نا امنه سيموکي دهغه متهمينو د محکمي په اړه شوي دي چي کورني اوبهرني امنيت ته ئې ګواښ کړي وو او يا هم د طا لبانو اويا اسلامي حزب د غړو محکمه وه .
د دعوا د برخه والو له خوا ګواښونه په دريمه کچه کي راځي ، څرنګه چي قاضي بايد د يوې خوا په ګټه پريکړه وکړي نوکله کله هغه بل لوری د قاضي په ګواښلو لاس پوري کوي . لکه چي موترمخه وويل چي قاضيانو ته ډير ځله ګواښونه د دولت د مخالفو وسله والو ډلو ، نا مسؤل وسله والو او سيمه ييزو زور واکانو له خوا تر سره کيږي، دا هم با يد ووايوچي دغه ګواښونه ډيرځلي په نا امنه سيمو کي کيږي . د دولت د مخالفو ډلو اونا مسؤلو وسله والو ګواښونه ډير ه جدي ښه لرله او کله کله دهغه پايله د قاضيانو ته ډيره دغمه ډکه پيښه زيږولې ده .
د کميسيون د څارنکو په موندنو کي دا څرګنده شوې ده چي د غور، ارزګان ،هلمند ،فارياب ، دايکندي ،هرات ،فراه ، نيمروز، بادغيس ، کندز، بغلان ، پکتيا ، ننګرهار ، کنړ ، بلخ ، پروان ، ميدان وردګ ، جوزجان ، ولايتونو

اوحتا د کابل ولایت په ځینو محکموکي قاضیان د دولت د وسله والومخالفینو اویا هم د نا پیژندل شوی کسانو له خوا ګواښل شوي دي ، دا کسان په مستقیمه توګه د قاضي سره اړیکي نیولي دي اوهغه ئي په مړینه باندي ګواښلی دی .
د کمیسیون د کار کونکو د رپوټ موندني ښکاره کوي چي په ولسوالیو کي قاضیان د سیمه ییزو چارواکو له خوا ګواښل کیږي اوتر فشار لاندي کار کوي اوکه کله د هغوي د هیلو پر خلاف پریکړه کوي نود دغو زورواکو کسانو له خوا دوی اود دوی کورنی د ګواښ سره مخامخ کیږي. په ځینو وختونو کي قاضیان دوسله وال برید لاندي راځي لکه د۱۳ / ۳ / ۱۳۸۲ کال یونا مسؤل وسله وال قوماندان د غورولایت مرکز د چغچران په ښارکي د ښاري محکمي غړي قاضي عبد الجبار د محکمي څخه راویوست او په توهین سره ئي هغه دچخچران په بازار کي وګر ځاوه اوبیا ئي د بازار په پاي کي هغه وواژه .
په ۵ /۵ / ۱۳۸۶ نیټه دغزني ولایت د اندړپه ولسوالی کی څلورکسه قاضیان ( قاضي محمد عالم د پکتیکا ولایت د استیناف د محکمي رئیس ، قاضي عبد الخالق د استیناف محکمي د مدني دیوان رئیس قاضي ګل زمان د پکتیا د ښاري لومړنی محکمي رئیس او قاضي د پکتیا د ښاري محکمي غړي ) د سردار کلا په سیمه کي چي د کابل پر لاره ده د دولت د مخالفووسله والو کسانو له خوا په بي رحمي سره ووژل شول.

په ۱۳۸۴ کال کي د نادعلي ولسوالی د لومړنی محکمي قاضي حاجي نوروز خان اوپه ۱۳۸۸ کال کي د نهر سراج ولسوالی لومړنی محکمي قاضي عبدالعزیز د هلمند په ولایت کي د نا پیژانده خلګو له خوا ووژل شول .
همدارنګه په ۱۳۸۸ کال کي د جوزجان ولایت د فیض آباد ولسوالی کی د محکمي د کارمندانو موټردوسله والی ډلی له خوا تر برید لاندي راغی چي په پایله کي د محکمي محرر ټپي شو ،د خوست په ولایت کي هم د ولایت د استیناف د محکمي یو قاضي کورته د تللو په لاره کي د یوه بم چولو په وسیله قصداً ټپي شو اویوه ښه ئي پریکړل شوه . اوهمدارنګه د ارزګان ولایت د محکمي پر یو قاضي باندی قصداً برید وشو .

د فاریاب په ولایت کي یو نا مسؤل وسله وال قوماندان د خپلودوکسانو ساتونکو سره د المارولسوالی محکمي ته ننوتي( ۳ /۷ / ۱۳۸۹) اوهغه د محکمي قاضی وګواښي د ده یو خپلوان چي توقیف شوی دی برائت ورکي .
په کابل کي هم د مخدره توکو سره د مبارزي د ځانګړي محکمي قاضیان شکایت کوي چي دوی د امنیتی ګواښونو سره مخامخ دي ، ویل کیږي چي دغه ګواښونه ډیر ځله د مخدره توکو د مافیانو او قاچاق وړونکو له خوا کیږي .
په ۱۳۸۷ کال کي د مخدره توکو د مبارزي د استیناف د ځانګړي محکمي رئیس دکابل په اتمه ۸ حوزه کي د خپل کورمخي ته د نا پیژانده کسانو له خوا ووژل شو نوله همدي امله اوس د دغي محکمي د غړو دپاره ځانګړی امنیتي ترتیب نیول شوی دی .

په کابل کي د اداري فساد څخه زیږنده جرمونه د څیړلو د استیاف محکمي د ریاست قاضیان هم شکایت کوي چي د امنیت له پلوه نا ا رامه دي او د دوي دپار ه وړ امنیتي ترتیب نه دی نیول شوي ، د دې محکمي رئیس ویلي دي چه هغه د نا پیژاند ه کسانو له خوا د ټیلفون له لاری په مړینه باندې ویرول شوی دی . د ستري محکمي د مسؤلینو په وینا چي تراوسه پوري ۲۵کسه قاضیان او ۱۵ کسه کارکونکي چي په محکمو کي کارکوي د ناوړو قصدی پیښو قرباني شوي دي اوخپل ژوند ئي د لاسه ورکړي دی . دغه سرچینی د دقاضیانود امنیت په اړه وویل چي په ښارونو اوهغه سیمو کي چي امنیتي وضیعیت ښه دی نو قاضیان د ویري اندیښنه نلري ولی په نا امنه سیمو ،لیري پرتو اوغرني سیمو کی چي قاضیان ټرانسپورټي وسیلې هم نلري نوځاني خطرهغوی په ویره کي اچولي دي .

که څه هم د افغانستان د بشرد حقونوخپلواک کمیسیون په دې ونه توانیدی چي د قاضیانو د ژوند د تهدیدیدو په هکله کره مالوماتو نه تر لاسه کړي خو داسي ګومان کیږي چي د دغو ویرونو شمیرله هغه څخه ډیردی کوم چي موږ په دې رپوټ کي لیکلي دي .

## دوهمه برخه: د محکمود کړونوڅیړنه

د قضایي واك ومنځ ته د راتلو فلسفه د قانون د اجراآتو له لاري د نظم اوعدالت تامینول دي . د عدالت تامینول هم د قضا دنده ده اوهم د قضایي اجراآتوموخه . دغه موخه هغه وخت لاس ته راځي چي قضایي څانګه د جوړښت اوکړونو له پلوه چي دهغه اجراآت په منصفا نه توګه اوکړني ئي عادلانه وي.

عادلانه محکمې ته لاسرسی د هیوادوالو اساسی حقونواود بشري حقونو بنسټیزه حقونه دي ، د دې حق تضمینول د قانون د حاکمیت د تامین، د بشرد حقونود موازینو رعایت او عدالت تامین د بنسټیزو مسئلو څخه ګڼل کیږي.
عادلانه محکمې د تامین حق د ښې ښه حکومت کولو یوپارامتراود قانون په وړاندي د کسانو د حقونواوازادیو تضمین اود محکمو له خوا څخه د دعوا دلورو سره بې پلوه چلند کول دي .

د محکمود کړونو په څیړلو کي ترټولو مهمه شاخصه د عادلانه محکمې د معیارونورعایتول دی. نوځکه په دې برخه کي د محکمو کړني د عادلانه محکمې د معیاروونو د رعایتولو د شا خصي پربنسټونو باندی د محکمو په کړنو څیړل کیږي .

د دې موضوع داهمیت په سبب دی چي د بشردحقونو په نړیوالو کنوانسیونونواوسندونوکي دولتونه مکلف شوي دي چي په کورنیو قوانینو کي دغه معیارونه تضمین اورعایت کړي اوله نیکه مرغه چي د هیواد په اساسي قانون اونورو نافذه قوانینوکي دغه معیارونه په درست ډول په رسمیت پیژندل شوي اود کسانود حقونو اوازادیو د ملاتړ اورعایت دپاره تضمین په نظر کي نیول شوی دی.

په دې برخه کي بنسټیزه پوښتني د ادي چي د محکمو په اجراآتو کي تر کومي کچي دغه معیارونه رعایت شوي دي ؟ اود محکمو کړني په څه ډول باندي ارزول کیږي ؟ د محکمود کړونو په کمبودیو کي کوم سببونه او عوامل اوپه دې لاره کي څه ستونزي او ننګوني شته ؟

د عادلانه محکمې ټولیزه معیارونه ټولي هغه قضا یي پړاونه دي چي د تورن اویا ګوماني کس د یو جرمی عمل د نیولو څخه پیلیږي اوبیا ترحکم تر صادرولواوپرهغه باندي د سزا د پلي کیدو تر بهیره رسیږي ،خوپه دې څیړنه کي یوازي هغه معیارونه په پام کي نیول شوي دي چي په محکمو کي قاضیانو پخپلواجراآتوکي هغوي تري کار اخیستي دی او محکمې د همدغه معیارونو په نظر کي نیولو سره اجراآت کوي.خوترهرڅه وړاندي دغه اصل څیرو چي صالحه محکموته د خلګو لاسرسی ،د خلګو حق د عادلانه محکمې د معیارونو په توګه پیژندل شوی دی .

## ۲ / ۱ / ۰ صالحه او قانوني محکمې ته د اسانه لاسرسي حق

لکه څنګه چي د دې رپوټ په لومړۍ برخه کي وویل شول ،چي صالحه محکموته د هیوادوالو لاسرسی او د قضا یي او عدلي څانګو له خوا د دوی سره منصفانه کړني د افغانستان د خلګو د بشري حقونو څخه شمیرل کیږي ،دغه لاسرسی باید په اسانه توګه دوی ته چمتوه وي .

قانوني صالحه محکمو ته اسانه لاسرسی په دي منظور دی چي که د یوکس سره ظلم کیږي اویا هم د هغه په حق کي نارواکیږي اویا هم یوڅوك د ظلم قرباني کیږي اویا هم د هغه د حقونودپاره د جوتیدو اړتیا لیدل کیږي ، نودغه کسان د خپل حق د جوتیدودپاره حق لري چي هغه محکمو ته ورشي کوم چي د قانون پر بنسټ جوړ شوي دي او هلته خپل د قضیي د حل حق لری او د منصفانه عدل د څیرنی د تضمین حق لری.

د پورته حق د پلي کیدو دپاره لومړۍ شرط دادی چي د هیواد د محکمو تشکیل هم پوره وي اوهم فعاله وي او قاضي صاحبان ټوله مسلکي واوسی ،نوکله چي د محکمو تشکیل نیمګړي وي اویا هم محکمې فعاله نه وي ، په محکمو کي مسلکي قاضیان نه وي ټا کل شوي، یا هم په محکمو کي د عدالت په هکله نظم اوقانون رعایت نشي اویا هم محکموته اسانه لاسرسی ونلري نود هیوادوالوهغه حق تر پښولاندي کیري چي صالحه محکموته باید اسانه لاسرسی ولری.

د افغانستان د بشرد حقونو خپلواکوکمیسیون موندني دارابنئي چي د مختلفو سببونوله امله ( لکه امنیتي ستونزي ) د هیواد په ډیرو ولسوالیو کي محکمې فعاله ندي اوقانوني محکموته خلګ لاسرسي نلري .

د هغه مالوماتونوپر بنسټ چي د سترمحکمي له سرچینوڅخه پلاس راغلي دي د هیواد په ۳۴ ولایتونو کي د استیناف اوښاري محکمې فعا له دي خو په ۱۴ ولایتونوکي ۴۷ ولسوالی د امنیت د نشتون له امله محکمې ئي نا فعا

له او یا تړلي دي د کندهار په ولایت کي ۷ ولسوالی د هلمند په ولایت کي ۶ ولسوالی ،د نیمروزپه ولایت کي ۱ یوه ولسوالی د دایکندي په ولایت کي ۲ ولسوالی ، د غور په ولایت کي ۲ ولسوالی ، د غزني په ولایت کي ۷ ولسوالی د فراه په ولایت کي ۶ ولسوالی د بادغیس په ولایت کي ۳ ولسوالی د سرپل په ولایت کي ۱ یوه ولسوالی ،د فاریاب په ولایت کي ۱ یوه ولسوالی، د خوست په ولایت کي ۴ ولسوالی د پکتیا په ولایت کي۴ولسوالی ،د کندز په ولایت کي ۱ یوه ولسوالی ،اود زابل په وزلایت کي ۲ ولسوالی نا فعاله محکمي لري دا په داسي حال کي ده چي هغه رپوټونه چي د افغانستان د بشرد حقونوخپلواکمیسیون د سیمه ییزو اوولایتي څانګوله خواجوړشوي دي وائي چي د هغو ولسوالیو شمیرچي محکمي پکي نا فعا له دي له هغه نه ډیردی کوم چي د ستري محکمي په رپوټونو کي ښودل شوي دی، په دي توپیر چي په ځینوولسوالیوکي چي امنیت نلري نود هغوی محکمي د ولایت د مرکز ته لیږدول شوي دي، نوپه دې صورت کي د مخالفوډلو یا کسانو د تهدید له امله د مقابل لوري رابلل ومحکمي ته، اویا هم د محکمي د حکم پلي کول پرمدعی بها باندي، اویا هم د ټرانسپورټي ستونزوله سببه خلګ نه غواړي چي محکموته ورشي نوله دې کبله خلګ نا رسمي محکمو ته د خپل دعوا د حل دپاره ورځي .

قانوني محکموته د نه لاسرسی سببونه ډیردي، له یوي خوا په ډیرو سیمو کي د محکمونا فعاله وضعه په ځانګړي توګه په نا امنه ولسوالیو کي ،په ډیرو محکموکي د مسلکي کدرونو نشتوالی ، د لاري د واټن اوږدوالی اوناامني له یوي خوا او د کاري فرهنګ نشتون ، د محکمو پر کارکونکو د کلکي څارنی نشتون د نا امني شتون ، د لارو اوږد واټن،ټرانسپورټي ستونزي و اود بې مسؤلیتی حس له بلي خوا هغه اصلي سببونه دي چي خلګ قانوني محکمو ته دلاسرسی څخه بې برخي پاته دي .

### ۲ / ۲ / ۰ د ازادي اصل او د قاضیانوبې پلوي توب:

د هیواد د اساسي قانون د ۱۱۶ مادې پر بنسټ د افغانستان په اسلامي جمهوري دولت کي قضائیه واك یو خپلواك رکن دی ، د اساسي قانون ۲۲ ماده حکم کوي ( د افغانستان داتباعو تر مینځ هر ډول توپیر اولوړتیا منع دی .د افغانستان اوسیدونکي ښځي اونارینه د قانون په وړاندي مساوي حقوق اووجایب لري ) د محکمو د تشکیلاتو قانون دوهمه ماده وائي ( قضایي واك د دولت خپلواك رکن دی اوپه ترکیب کي ئې ستره محکمه د استیناف محکمي اولومړی محکمي شامل دي ) اوپه همدي توګه د محکمو د تشکیلاتو قانون ۱۴ ماده حکم کوي ( محکمي دقضیو د حل په اړه خپلواکي دي او د حکم په صادرولوکي یوازي د قانون تابع دي، د قضیي حل اود حکم صادرول د محکمو له خوا د قانون په وړاندي دواړه پلوته د مساواتو په رعایت سره په بې پلوي توګه سرته رسیږي ) د مدني او سیاسي حقونو نړیوال کنوانسیون د ۱۴ مادې لومړی فقره هم د محکمو د بې پلوي توب او د خپلواکي د تضمین حکم کوي .

د قضا دپاره د قضایي چلند د مقرري دوهم فصل د قاضیانو د دندو اومسؤلیونو ترعنوان لاندي ئې ډیر د قاضیانو پرخپلواکي او بې پلوي باندي ټینګار کړی دی چي پخپلواجراآتوکی به ئې کوي، د دې مقرري دریمه ماده وائي (د قاضی خپلواکي اوبې پلوي توب یوازني تضمین دی چي د عدالت د تامین اوحقونو ورکولو دپاره د قاضیی له خواکیږي ،نوځکه دی چي قاضي څخه هڅه کوي چي خپل دواك په حدود کي هیڅا ته د مداخلي اجازه ورنکړي ، که څه هم د جګ پوړو چارواکو اویا د ده دخپلوانود خوا څخه وي. قاضي قانون ته درناوی کوي اود هغه د حکمونو مطابق عمل کوي اوتل ئې داټکی په فکر کي نیولی وي چي قاضي پخپلو دندو کي په غیرد قانون د حکمونو دهیچا اطا عت نه کوي .

د قاضیانو اومحکمو بې پلوی توب او ازادي د قضا یي سیستم اومحکمو په اجراآتو کي د دواړه پلوه د ویسایي د جلب اود عدالت د تامین دپاره ډیراړین بریښی ، په کورني قوانینواومقرراواوهم د بشرد حقونوپه نړیوالو سندونوکي پردې ټکي ټینګار شوي دی.همدغه سبب دی چي د اساسي قانون په ۱۱۸ ماده کي د ستري محکمي د غړو نا ګوندیتوب د دندي په وخت کي یو شرط ګڼي.

د افغانستان د بشرد حقونوخپلواك کمیسیون موندني راښئي چي د ډیروقاضیان سره چي مرکي تر سره شوي دي، په خپل تصمیم نیولو کي د خپلواکیو خبري کوي ، خو نا امنی د دولتي اوسیمه ییزو لوړپوړوچاراواکو فشار اچووني د شغلی امنیت نشتون، اداري فساد اود څارني پلټني اود محکموپر اجرا آتو باندي نه کنترول هغه سببونه دي چي د

قاضيانو پرتصميم نيولوباندي اغيزى لرى اوتريوې کچي پوري د قاضيانوخپلواکي اوبې پلوى توب ترپوښتني لاندي راولي.

د کميسيون د همکارانود رپوټ څخه داسي څرګنديږي چي په ځينوولسواليوکي پرقاضيانوباندي د سيمه ييزو چارواکو فشار،ډارونه او تهديد شتون لري ،نوکه کله د هغوي د غوښتنوپرخلاف باندي حکم صادريږي نود قاضيان ژوند اوحتا د هغوي د کورنيو ژوند په خطر کي لويږي .

د دولت دواك کمزوري او د قانون نه پلي کيدل په ځينو ليري پرتو سيموکي د دې سبب کيږي چي ځيني زورواکان ، سيمه ييز مخور اويا هم قومي مشران د محکمو پرتصميم باندي اغيزه کوي او کله کله د يوې جزائي دعوا د بهير خنډ ګرځي اود قانون د حکم پرخلاف چي د مسؤلو چارواکو تصميم نيولوته ورشي نو پخپله تصميم نيسي اوهغه په عمل کي پلي کوي.چي له دې جملي څخه د بيلګي په ډول د بدخشان ولايت د يوې ښځي په ډبرو وژل، د غورپه ولايت کي د دوځوانو نجونو په ډبرو وژل اوهم هلته د دوه ښځواويوسړى په شلاقووهل ، د غزني په ولايت کي د طالبانو له خوا د دوښځو سارائي محکمه ، په ارزګان ولايت کي ويوه سړي ته سپکونکي سزا ورکول اوپه پاي کي د کندز په ولايت کي د دو ځوانانو واده شوي جوړو په ډبرو وژل دي.

د جوزجان ولايت د خواجه دوکوه ولسوالى يوکس اوسيدونکي د مزارشريف د سيمه ييزوي څانګي ځارونکوته د قضيو د حل په برخه کي خپل نظرداسي بيان کړ( بايد ووايم چي په دې ولسوالي کي زور،زوردي ، که د يوه دولت لرونکي سړي زوي واوسى اوڅوك ووهي، نوپريکړه د سپن ږيرو له خوا څخه کيږي اونه پريږدى چي خبره و دولت ته ولاړه شى ، که دولت ته هم خبره ولاړه شي نودغه سپين ږري هلته ځي اودولت د دوي د خولې څخه نه اوړي ،او بيرته دې ايله کوي).

### ۲ / ۳ / ۰ د قانون په وړاندي د برابري اصل :

د قانون په وړاندي د برابري اصل اود هرډول قومى،نژادى،سيمي،جنس،ژبې، ټولنيزموقف او نور... د توپير مخنيوي د بشرد حقونود اساسي اصولو اوعادلانه محکمي د معيارونو څخه ګڼل کيږي.

دغه اصل د مدني اوسياسي حقونود نړيوال کنوانسيون په ۲۶ ماده.[9] د اساسي قانون په ۲۲ ماده کي.[10] اود محکمود واکنو اودندو د تشکيلاتو قانون په (۱۴ ) ماده کي.[11] اود جزائي اجراآتو موقت قانون په ځينو برخوکي تضمين شوي دي .

د قانون په وړاندي د برابري اصل د قاضيانو د خپلواکي اوبې پلوي داصل سره نږدې اړيکي هم لري او محکمي مکلفيت لري چي د قانون په وړاندي ټولوبرابري اوپه مساوي او پله نه نيولوسره د دعوا دواړي خواوي ،د ځارنوال اوهم د مدافع وکيل سره مراعات کړي .

د افغانستان د بشرد حقونوخپلواك کميسيون څيرني څرګنده وي چي اداري فساد، پر ظوابطوباندي داړيکو لومړيتوب،د قانون د حاکميت کمزوري، امنيتي ننګوني اوتهديدونه،دزورواکونوفشاراچول ، د قاضيانو پر

---

[9]- د مدني اوسياسي حقونو نړيوال کنوانسيون،ټول خلک د قانون په وړاندي برابر دي اود دې حق لري چي د قانون په وسيله بيله توپيرڅخه ملاتړشي اوپه دې برخه کي قانون هرډول توپيرمنع کړى دى اوټول کسانو برابري ئي تضمين کړي دى اوټولوخلګو څخه د توپيرپه وړاندي لکه رنګ،نژاد ، جنس، ژبه، يا هم نور لکه مليت ،وړتيا ،

[10]- د اساسي قانون ۲۲ ماده (دافغانستان د اوسيدونکوتر مينځ هرډول توپير، لوړتيا اوامتيازمنع دى ، د افغانستان اوسيدونکي ښځي اونارينه د قانون په وړاندي د مساوي حقوقو اووجايبو لرونکى دي ).

[11]- د محکمود واکونواودندود تشکيلاتود قانون ۱۴ ماده (د محمکموله خوا د حکم صادرول د قانون له مخي د عدالت په نظر کي نيولو سره د دواړه پلوه د برابري پر اصل په بې پلوي سره تر سره کيږي .

کړنوباندي د څارني نشتوالی ، سليقوي کړني اود قضيو سره جنسيتي تبعيض د دې سبب ګرځي چي د قانون په وړاندي هغه د برابری اصل چي اړين دی د محکمو له خوا رعايت نشي .

عدالت اود قانون په وړاندي برابري ته د ښځولاسرسی يو د هغه موضوعګانوڅخه دی چي د محکمو په کړونو کي بايد پاملرنه ورته وشي .

صالحه محکمواود قانون په وړاندي برابری ته د ښځو د لاسرسی په اړه له يوي خوا څخه په افغانستان کي د نرواکی فرهنګ د قاضيانو پرهغه قضاوت باندي بې اغيزنه دي کوم چي دعوا د ښځو په هکله وي . او د بلې خوا څخه هغه ځانګړي ستونزي چي د افغانستان ښځي ورسره مخامخ دي نود قانون په وړاندي د قانون د برابري د اصل تضمينول ستوزمنه ده .د اساسي قانون په۲۲ ماده کي هغه برابري چي د ښځو اونارينوترمينځ تضمين شوي ده چي د هغه له مخي ښځي کولاي شي په ټولوبرخو لکه فرهنګي ،اقتصادي ،سياسي ،ټولنيزاومدني برخو کي ګډون ولري اوبيله هيڅ ډول توپير څخه نارينه وو سره په برابره توګه د قانون د ملاتړڅخه برخمن شي خو په عمل کي ليدل کيږی چي د دې موخی ترسره کيدو ډپاره لا ډيری ستونزي په مخ کي دي ودې ستونزي ته په پاملرني سره چي د عدالت د سا تني په برخه کي په ټول هيواد کي ترسترګو کيږي او موږهغه ته اشاره وکړه، عدالت د ښځو لاسرسي يو جلاعنوان اوبحث نه دی، بلکي دهغه زيانمنني او اغيزوله کبله چي ښځي ورسره مخامخ دي نوپه دې برخه کي بايد لاډيره څيړنه وشي.

د دي مسئلي ارزښت له دې کبله هم دی چي برسيره پرهغه ننګونوچي په ټوليزه توګه د هيواد د قضايي سيستم په وړاندي د عدالت د ساتني د دندو ترسره کول سختوي، نوهغه ټولنيز جوړښت چي ستني ئي د ښځو سره د دښمني پرفرهنګ اود نرواکی پرحاکمه سنت باندي ولاړه وي ، ښځي ډيري قربانی ورکوي .

که څه هم اسلامي شريعت د ښځود حقونوډپاره ځانګړي ځای په نظرکي نيولی دی ،خود مسلما نانو په ډيرو کورنيو کي د ښځوهغه حقونه چي په اسلامي شريعت کي ورکړل سوي دي اودوی ئي پيژني هغه ته هيڅ ارزښت نه ورکوي د هغه برسيره ډيري هغه کړني کوي چي له ورايه د ښځو سره د ښمني پکي ښکاري او په حقيقت کي هغه د اسلام د مقدس دين اوشريعت پرخلاف دي ، دوي هغه ته ديني توجيه کوي .

د ټولني په ټولوپرګنوکي د ښځوپه وړاندي تاوتريخوالی شتون لري،ډيري ښځي دپلار يا ميره په کورکي د تاوتريخوالی سره مخامخ کيږي ،که چير يوه ښځه د خپلوحقونود داد غوښتني د پاره وقضايي څانګو ته ورځي نوبرسيره پرپورته ننګونوچي د عدالت د تامين په برخه کي ورته شته نود ښځي اوسيدلو له امله هم ترجنسيتي توپيرلاندي راځي، نو نه يوازي داچي خپل حقونه پلاس نشي راوړلاي بلکی بيرته د کورته تللو چانس هم د لاسه ورکوي.

د افغانستان د بشرد حقونوخپلواك کميسيون د هرکال په موندنوکي څرګنديږي چي د ښځو په وړاندي د تاو تريخوالی شمير مخ په ډيردودی، د هغه سبب کيداي شي چي د تاوتريخوالی د مجرموکسانود جزا څخه معافيت اود قضايي اوعدلي چاروکو له خوا دغو شکايتونو ته غوږ نه نيول دي.

د کميسيون د څيرونو څخه داسي ښکاري چي ځيني قاضيان د ښځود شرعي اوانساني حقونوڅخه پوره پوهاوي نلري اويا هم پرهغه عقيده نلري .د شريعت د عادلانه موازينو څخه د ژور پوهاوي نشتون او په هغه کي د نا فذه قوانينو اوهغه پرمختګونوچي په هغه کي راغلي دی دقيقه نه اخيستنه ( په ځانګړ توګه دښځو په وړاندي د تاوتريخوالی د منع قانون اود بشرد حقونوړيوالی تړنونه چي افغانستان هغه ته ژمن دی )د سنتونو حاکميت اوپرنرواکی باندی باورپه ټولنه او ځينو قاضيان په ضميرکي ، نوښځي بيا د ناشرعي اوناقانونی توپيرونو اوفشار سره مخامخ کوي .

نوله دې کبله پرمحکمو باندي د ښځوويسائي اومراجعه په ټيټه کچه کي ده ، خوبرعکس ليدل کيږي دبندي او توقيف شوې نجونو اوښځو شمير د ماشومانو د اصلاح په مرکزونواود ازادي سلب سيموکي چي د اخلاقي جرمونو اويا اتهام په سبب اويا هم د کورونو څخه د واده کولو په نيت د تيښتي په سبب چي د قانون په بنسټ جرم نه ګڼل

کيږي پر هغه د هغه نارينه ووشميرنه ډيردی کوم چي د ښځوسره د ناوړه کړونواوتاوتريخوالی اويا هم ښځوته د ازار ورکولو له سبب بنديان شوي دي .

دغه ستونزي په لويديځ سهيل اوختيځ سهيل سيمواود هيواد په شمال ولسواليوکي ډيرليدل کيږي چي په دې سيموکي نه يوازي د ښځوحالت ته پاملرنه نه کيږي بلکي په ټول کي د قانون حاکميت ته هم پاملرنه نکيږي .
د کميسيون په موندنو کي څرګنديږي چي په ځينو ولايتونوکي چي هغه ښځي چي د جنسي تيري قر بانيانی دي هم د زنا په توربانديي بنديانی شوي دي ،دغه انديښني هغه وخت دوه برابرکيږي چي کله کله د جنسي تيري فاعل تر عدلي تعقيب لاندي نه راځي اويا هم پسله نيولوڅخه بيرته خلاصيږي اومجنی عليه د آزادی سلب سيمه کي بند پاتيږي .

عدالت ته دلاسرسي په برخه کي د ښځويوه ستونزه داده چي د ښځينه پوليسانو، څارنوالانو، مدافع وکيلانو او قاضيانو شميرلږدی، ځکه ښځي نشي کولاي چي ډيري حقوقي يا جزايي قضيي اومسئلي د نارينه قاضي سره شريکي کي په داسي حال کي چي په غيرد څوغټوښارونوپه ټولو ولايتونو اوولسواليو کي څارنو ښځينه څارنوالانی اومدافع وکيلانی اوقاضيانی نشته.

## ۲ / ۴ / ۰ د جرمونواو جزاګانو د قانوني توب اصل :

د جرمونو اوجزاګانو د قانوني توب اصل د عادلانه محکمي اود جزا د حقونود معيارونو يو بنسټيزه اصول دی د جزاګانو اوجرمونو د قانون توب اصل په دې مانا دی چي هيڅ عمل جرم نه ګڼل کيږي مګرچي په روښانه توګه بيله شك څخه دهغه قانون له مخي چي لا پخوا نافذ شوېوو جرم ګڼل شوي وي اود هغه د کونکي دپاره په قانون کي جزا ټاکل شوې وي .

دغه قانوني ملاتړ د مدنی اوسياسي حقونو.[12] د نړيوال کنوانسيون د ۱۵ مادي په لومړی بند اود اساسي قانون ۲۷ ماده کي.[13] اود جزا دقانون .[14] په ۲،۳ او۲۱ مادوکي تضمين شوي دی .

---

هغه موندني چي د کميسيون د څارنکو او هيوادوالو د شکايتونو څخه تر لاسه شوي دي څرګندوي چي د سزاګانو او جرمونو د قانونيت د اصل نه مرا عاتول د انديښني وړدی. د سزا ګانو اوجرمونو د قانوني توب د اصل نه مراعاتول تقريباً د هيواد د ټولو ولايتونو په محکموکي ليدل شوي دي

د دې وضيعيت په اړه ډيرسببونه رول لوبولي چي ترټولو مهم ئي د خلګو اود قانون پلي کونکو د محکمو د قاضيانو په ګډون په قوانينو باندي لږ پوهيدل ، په حقوقي مسؤلو باندي ښه نه پوهيدل،د قانون د حاکميت نشتون ، پر ټولنه

---

[12]- د مدني اوسياسي حقونوکنوانسيون د۱۵ مادي لومړۍ بند : هيڅوك د داسي فعل په کولو اويا هغه فعل په پريښودلد باندي چي دملي اونړيوالو قوانينو له مخي جرم نهو نه محکوم کيږي اوهمدارنګ تر هغه ډيره سزا نه ورکول کيږي کوم چي د جرم د کيدو په وخت کي لا ترمخه ټاکل شوې وه .

[13]- د اساسي ۲۷ ماده :هيڅ يوعمل جرم نه ګڼل کيږي خودهغه قانون له مخي چي د جرم د ارتکاب د مخه نافذ شوي وي هيڅوك د قانون د حکم پرته تعقيبداي نشيونيول کيداي نشي اوتوقيف کيداي نشي ، هيچا ته سزا نشي ورکول کيداي مګر دبا صلا حيته محکمي په حکم اودهغه قانون له احکامو سره سم چي د اتهام وړ فعل ترارتکابه مخکي نا فذ شو ی وي .

[14]- د جزا دقانون ۲۱ ماده :د جرم مرتکب د قانون په موجب باندي سزا ورکول کيږي چي د فعل د ارتکاب په وخت نافط شويوي ،مګرهغه قانوني حکم په صادريدوسره چي نوي دمتهم په ګټه باندي نافذ شوي وي(۲)که د قطعي حکم صادريدو وروسته قانون نافذ شوبوي اودهغه په وسيله فاعل د سزا وړنه وی ګڼل شوی، حکم درورل کيږي اود هغه سزائي اثار د مينځه وړل کيږي

باندي د منفي سنتونو حاكميت ، سنتي كركه اود كمي كتني دزورواكانواو سيمه بيزو واك لرونكو فشار اوزور اچووني دي .

همدارنگه د قوانينو د مرتبه سلسلو څخه نه پوهيدل ،د تقنيني سندونو اوحقوقي لارو ترمينځ توپير اود هغوى د حل ترمينځ توپير،دوضعي قوانينو اوشريعت اويا هم د داخلي قوانينواونړيوالو قوانينو ترمينځ توپير نورهغه سببونه دي چي د جرمونواو سزاگانو د قانونيت اصل نه مراعاتيږي .[15]

د بيلگي په ډول د كورونوڅخه تيښته دواده كولو په نيت باندي د هيواد په جزائي قانون كي جرم نه گڼل كيږي ،ولي په ډيروولايتونو كي د جرمونو اوسزاگانو د قانونيت د اصل پر خلاف په داشان قضيوكي تيښته كونكو ته د سزا حكم صادروي، په ځينوحالتونوكي د واقعيتونوپرخلاف جرمي وصف د كسف او ځيرونكو له خوا بدليږي اوډير هغه ځوانان چي د نجونو سر ه دواده كولوپه نيت تښتي د سړي تښتونكو په عنوان باندي ترعدلي تعقيب لاندي راوستل كيږي اود محكمو په حكم سزا وركول كيږي .[16]

يوه بله بيلگه د سودا گر كس قضيه ده چي له بهر ه څخه ئي سركه راواردوله اوكله چي ئي غوښتل سوداگريزي توكي ديوه ولايت څخه بل ولايت ته وليږدوي دامنيتي چارواكو له خوا نيول كيږي ، كه څه هم په پاي كي دا جوته شوه چي دغه توكي چي ده وارد كړي دى غيري قانوني نه دي ، ولي د څارنوالى دوړانديونوله مخي ممكن دى چي د كيمياوي تعامل له مخي د سركى تيزاب د كرستال په تيزاب باندى واوړي نودا سوداگر د مخدره توكو تركيبونو د قا چاق كولوپه اړه گنا هكاروپيژندل شو اود جزا حكم پر راووت .

د پنجشيرولايت د يوه قاضي صاحب څخه وپوښتل شول چي د قوانينوترڅنگ پخپلواجراآتو كي د كومو نورو سر چينو څخه گټه ترلاسه كوي ، ځواب ئي داسي وركړ كه چيري يوه مسئله په قانون كي صراحت ونلري ، هغوي د ستري محكمي د مصوبو څخه كار اخلي (د كورڅخه د تيښتي دپاره د ستري محكمي مصوبه ) حتا په سزائي مسئلولو كي هم تري كار اخلي، هغه وويل چي ستره محكمه زموږ لوړه څانگه ده اوموږ ځانونه مكلف گڼو چي د هغه صادر شوي امرونه پلي كړو

۲ / ۵ / ۰ د برائت الذمي اصل :

د برائت الذمي اصل يا په بله ژبه بيگناه حالت د عادلانه محكمي او د حاكمه جزائي قواعدو د معيارونو بنسټيزاصل دى دغه اصل د جزائي پړاونو پرټولو بهيرونو ياني دگومان، تور اويا غيرقطعى محكوميت پړاونو باندي حاكم دى .

د دي اصل ترحاكميت ترټولو مهمه موخه د حكم د صادرولو په وخت كي داده چي د ناواقعى محكوميت د حكم صادريدو مخه ونيسي چي هغه د اشتباه، شك او گومان له لاري كيږي ،اود دې اړتيا پرتضمين باندي ټينگار كوي. چي د محكوميت د صادريدو حكمونه بايد د محكمو له خوا پردليلونو ولاړوي اوپر قانوني اوربښتني سندونوباندي وي د اسلا م په مقدس دين كي هم د برآئت اصل په رسميت پيژندل شوي دي د بيلگي په ډول ( دشبهاتود حدودو په سبب ) معروفه قاعده هم پرهغه ټينگار كوي.

د برائت اصل د افغانستان په قوانينو كي هم په رسميت پيژندل شوى دى د افغانستان اساسي قانون ۲۵ ماده وائي ( دذمي برائت اصلي حالت دي، ترهغه چي د با صلاحيته محكمي په قطعي حكم تورن محكوم عليه ثابت نشي ،بي

---

[15]- لكه څنگه چي يو قاضي د پنجسير په ولايت كي د( ) گڼي مصوبې په اړه وويل چي موږ د ستري محكمي د مصوبو رعايت د واك لرونكي چارواكو په توگه تر سره كوو.

[16]- څرنگه چي پوليس د..........په نوم د يوې نجلى سر دواده كولو په نيت وتښتيدي اوپخپله خوښه بيرته راستون شو او نجلى د افغانستان د بشرد حقونوخپلواك كميسيون په منځگړيتوب و كورنى ته تسليم كړل شول ، څو ورځي وروسته هغه ځوان د نجونود ښوونځى ومخي ته وليدل شو دسړى تښتوني په توربندي او محكمي ( كابل) د حبس حكمَ صادركړ.

گنا ه گڼل کيږي )

د اساسي قانون د دې مادې پربنسټ حتا د لومړنی محکمې د حکم د صادريدو وروسته د تورن محکوميت بياهم برآئت فرض د هغه په مورد کي صادق دی، ځکه کيداي شي چي د استيناف محکمه د لومړنی محکمې صادرشوي حکم نقض کړي او يوازي هغه وخت کيداي شي چي د برائت فرض بلې خواته کيږدی چي د محکمې له خوا قطعی حکم د تورن د محکوميت په اړه صادر شوی وي.

د موقت جزائي اجراآتوقانون په څلورمه ماده کي دغه اصل په روښانه توګه ليکل شوي دی:
دجزائي دعوا اقامی د پيل څخه بيا د جرمي مسؤليت تر ثبوت پوري چي يوکس د محکمې د وروستی حکم له مخي محکوم عليه واقع کيږي، بې گنا ه گڼل کيږي که پريکړه د هغه کس د بشري حقونو د محدوديدو يا سلب سبب گرځي بايد پرقانوني دليلونو ولاړه وي چي د حقيقت په کشف سره محدوديږي.

د ذمي برائت ترټولود مخه د قاضي بې پلوي ته اړتيا لری د ذمی د برائت حق د دې غوښتونکی دی چي قاضيان او نورو دولتي کارمندانو ترمخه قضاوت کول ( مخته تر مخته قضاوت ) د يوې قضې په هکله ونکړي .[17]

همدارنګه د قضا يي چلند د ډول د مقررې ۱۱ ماده ليکی ( د دعوا هر پلو حق لري چي په قضايي غونډو کي په آزاده توګه ګډون وکړي. نو قاضي بايد پرې نږدي چي د دغه حق په لرلو سره پر هغوی محدوديت راولی.
د هغه جملي څخه قاضي بايد امنيتي مسؤلينوته دا اجازه ورنکړي چي تورن شوی کس د زنځير، بيړيو، ولچك او لاس تړوني سره غونډې ته راولی) ځکه د تورن را وستل په بيړيواو ولچك کي او څو امنيتي کار کونکو له خوا د هغه ټينګه څارنه ٌقاضي ته دا باور ورکوي چي تورن کس ډيرخطرناکه دي او دغه څه د دې سبب کيدای شي چي قاضي ترمخه قضاوت (تبعيض) وکي اود زمی برائت اصل د پوښتنی سره مخامخ کي.

د کميسيون ځينو څانګو ريوټ را کړي دی چي هغه کسان چي په اخلاقي جرمونو تورن دي اويا په وژني او غلا باندي تورند دي، محکمې نه يوازي د هغوي خبروته عوږ نه نيسی، بلکی د زمی د برائت اصل تر پښو لاندي کولو او انساني کرامت حق ته سپکاويی سره تورن توهين او کموي .

هغه بل مورد چي محکمه مسؤليت لری چي د زمی برائت اصل مراعات کړي د قضايي چلند ډول د مقررې ۱۲ ماده چي حکم کوي (تر څو چي د دعوا د دواړه پلوه موافقه اود قاضي تائيد ترلاس نشي .د انځور ثبتول يا اوريدل اويا هم هغه په مستقيمه توګه د محکمې بهير خپرول د غونډ ي څخه بهرته جواز نلري ) په دې اساس نو رسنۍ هغه وخت د محکمې بهيرانځورثبتولاي شي او يا خبري ثبتولاي شي چي د دعوا د دواړ پلوه موافقه ولري اوپه ځانګړي توګه د تورن موافقه اړينه ده . بيا هم هڅه کيږي چي ترڅو قطعی حکم نه وي صادر شوی او په پريکړه کي د هغه د خپريدو په باب حکم نه وي راغلي د هرډول رسوا کولو څخه بايد ډډه وشي .

يوبل مورد چي د زمې اصل تر پښو لاندي کيږي هغه په نا قانونه توګه د ازادی سلب سيموکي د برائت اخيستل شوي کسانو بندي کول دي. د افغانستان د بشرحقونو خپلواك کميسيون د کابل د سيمه ييزی څانګي د خپل سيمی د محبسونو د څارني په بهير کي(د پلچرخي محبس اود کابل ولايت توقيف ځايونه ) وموندل چي ۱۰۲ کسان لا د ازادي د بي برخي سيمو کي اوسيدل په داسي حال کي چي د لومړنۍ اواستيناف محکمو د زمي برائت ئي درلودی خود موقت جزائي اجرااتو قانون د ۲۵ مادې او ۴ مادې پر خلاف د ازادي بې برخو(سلب) سيموکي اوسيږي، دا موضوع د کميسيونو د څارنکو له خوا تعقيب کړل شول اود هغوي په هڅو دوي ازاد شول د اېه داسي حال کي ده چي د قضايي چلند ډول مقررې ۸ ماده حکم کوي ( قاضي واك لری چي د خپل ټولو صادرشوی قرار دادونو د اجرا اوپلي کيدو څخه د قانوني جواز په حدودکي څارنه وکي ) .

**۲ /۶/ ۰ د قانوني لارو څخه د دليل لاسته راوړلو اصل :**

[17] -د ماکس پلنك د انستيوت لار ښود د عادلانه محکمې په اړه: ۱۹ مخ

د جزايي بهيرحلول اويا د سزا ګانوټاکل ،هره پريکړه چي د کس د بنسټيزو حقونوکي خنډ راولی، بايد هغه قانوني بنسټ ولري ،د محکمو حکمونه او قرارونه بايد مستند دليلونه ولری اوهغه بايد په قانوني توګه تر لاسه شوي وي .
نو ځکه هرډول توقيفول اونورجبري اوالزامی کړني د تورن په وړاندي بايد د قانون پربنسټ او قانوني اجازه اود قانوني مدرکونوپرد ليلونوباندي وي اود هغه څخه هرډول سرغړونه اوترپښولاندي کول د قانون څخه ښکاره تيري دی اومسؤليت لری .

د نړيوالو کيفري حقونو اوعادلانه محکمي د معيارونو پر بنسټ د تورن په وړاندي راټول شوی دليلونه بايد په قانوني توګه ترلاسه شوي وي غير له هغه څخه خپل اعتبار بايلي .
له هغه جملي څخه د جزا د حقونو نړيوالی پنځلسمی کنګري د پريکړي په اووم بند کي په ښکاره راغلی دي.
ټول هغه دليلونه چي د افرادو د اساسي حقونو ترپښولاندي کولوپه وجه لاس ته راغلي وي ،هغه باطل اوبې اغيزي دي اود دادغوښتني په وخت کي تر ارزوني لاندی نه راځی.

په دې اړه د نړيوالو سندونو د ټينګاراړتيا (په قانوني توګه د دليل ترلاسه کول) چي موخه ئې په نا قانونه توګه د دليل ترلاسه کولوسره مبارزه ده اود دغه دليلونوبې اعتباره کول دي نود څارنوالانو څخه غوښتل کيږي چي لاندنی قواعد مراعات کړي .

لومړي: هغه دليلونه چي په نا قانونه توګه په لاس راغلي دي ونه کاروي .
دوهم: هغه کسان چي دا ډول کارونه کوي د هغوي د محکمي اوسزا دپاره اړين کړني وکړي.

دتورن د چوپتيا د حق نه رعايتول اويا هم پر شکمن کس باندي په نا قانوني توګه زور اچوونه اويا ربړونه ورکول ترڅوتري اعتراف واخلي هغه دليلونه دي چي لاسته راوړل ئې ناقانونه شميرل کيږي د تورن بنسټيزو حقونه څخه يو ئې هم د چوپتيا حق دی چي د څيرني په وخت کي ئې لري.د نړيوال اساسنامې ۵۵ ماده هغه وخت چي د څيرنو په وخت کي د افرادوحقونه بيانوي ، د دوهمي مادې د (ب) په بندکي وائي: کيدای شي چي تورن

چوپتيا غوره کي ببله دې چي دغه چوپتيا د هغه د مجرمي اويا بې ګناهی دليل واوسي.د پخواني يوګوسلاويا اوروندا دپاره دنړيوالی محکمي د دليلونو اودادغوښتنی قواعد د الف بند دريمي برخي ۴۲ قاعده د تورن پر چوپتيا باندي ټينګار کوي . د ملګروملتونود بشرد حقونو د سازمان کميټه د ۱۳ شميرې په تفسير کي د پورته مطلب په ويلو سره وائي:
تورن په دې باندی مجبوره کول چي د ځان په وړاندي اويا پرخپل ضد خبري وکړي، د داسي کړنلارو څخه کار اخلي چي د ميثاق د۱۴ مادې د (ز) دبرخي ۳ بند ترپښو لاندي کوي . د هيوادونو قوانين بايد دغه شان کړنلارو يا

نوري جبري موضوعګاني د منلووړ ونه بولي.
د افغانستان په قوانينو کي هم د چوپتيا د حق رعايتول په رسميت پيژندل شوی دی اوپه شکنجه اوزور باندي اقرار اخيستل منع ګڼل شوي دي ، دموقت جزائي اجراآتو قانون د پنځمي مادې په شپږم بند کي راغلي دی : ( تورن يا شکمن کس حق لري چي چوپتيا غوره کړي، اود هرڅه ويلو څخه ډډه وکړي که څه هم دپوليسو او قضايي چاروکو لخوا تر پوښتني لاندي راشي )

ربړونه يا شکنجه هم په اساسي قانون ( ۲۹ ) ماده اود افغانستان د موقت جزائي اجراآتو قانون (د۵ مادې ۴ بند کي منع اعلان شوې ده . نوځکه ويلاي شوچي د چوپتيا د حق ترپښولاندي کول اوپه زور باندي د تورن څخه اقرار اخيستل پرتورن باندي د دليل په عنوان باندي، په نا قانونه توګه د دليل لاسته راوړلو په جمله کي شميرل کيږي.
په همدې اساس دافغانستان دموقت جزائي اجراآتوقانون ۷ ماده په ښکاره وائي :

هغه دليلونه اوشواهد چي د قانون د حکمونوپه پام کي نه نيولو سره ترلاسه شوي دي د اعتبار وړنه دي اومحکمه نشي کولاي د هغه په مستنديدو باندي حکم وکړي ، د دې مادې حکم مطلق دی او هيڅ قيد اوشرط نلري

اود حقوقي (آمره قواعدو) له جملې څخه شمیرل کیږي،اومحکمې مکلفي دي په هرډول شرایطوکې هغه و مني اوپه پام کې نیسي اود څارنوالی له خواد اتهام د دلیلونو لاسته راوړل، لومړي باید داقبول کړي چې د څارنوال له خوا راټول شوي دلیلونه په قانوني توګه لاس ته راغلي دی که نه؟ وروسته له هغه څخه د محکمې غونډې پرانیزي او یا په هغه دلیلونوباندې استناد وکړي.په پایله کې که هرکله قاضي قبول کي چې د جرم د کشف،څیړنې اوتعقیب په پړاونوکې تورن په زوریا جبرباندې د جرم په کولو اقرارکړي دی ، دپورته قانون د ۷ مادې پربنسټ دغه شان اقرارپه نا قانونه توګه اخیستل شوي دی هغه اعتبار نلربي اوداستناد وړنه دی.

په دې اړه دقضایي چلند ډول مقرري ۱۶ ماده د قاضیانو دپاره لیکی ( هرکله چې قاضي دموضوع د حل دپاره د جرم دڅیړنې اوکشف په بهیر کې ورته جوته شي چې دمتهم اساسي حقونه ترپښولاندې شوي دي، هغه مکلف دی چې د قضیې پای ته رسیدو وروسسته خپله پریکړه دحقونو ترپښو لاندې کولو په هکله صادر اوهغه اړونده ځانګې ته د نورو اجراآتو او احتمالی تعقیب دپاره ولیږي ) د کمیسیون له موندنو څخه څرګندیږي چې په محکمو کې دغه اصل په ځیراودرستې سره نه رعایت کیږي .

د کمیسیون د څارنکود رپوټونو پربنسټ اوهم د ډیرومدافع وکیلانو او حقوقي مرستندویانو له خولې څخه ښاغلي قاضي صاحب د محکمې اورائې صادرولوپه وخت کې ډیرځله پرهغه څه تکیه کوي چې په دوسیو کی د څیړنې اوکشف په هکله شته اود هغه د قانونیتوب اود دلیلونودلاسته راوړلو په اړه باندې اړینه پاملرنه اوغور نکوي اود تورن د نیوکو اوهغه دلیلونه اواعترافونوچې ترلاسه شوي دي اویا هم په محکمه کې دمدافع وکیل ونیکوته ارزښت نه ورکوي .په داسې حال کې چې د قضائي سلوك طرز مقرري !^ مادې په حکم اود جزائي اجراآتو اوتورو اړونده قوانینو د اوومې مادې پر بنسټ نه یوازې داچې هغه اعتراف چې په ناقانونه توګه د تورن څخه تر لاسه شوي دي د جکم د قرار مستند کیدای نشي بلکې د کشف او څیړنې ځانګې هم دې ته ځیرکوي، چې دمتهمو سره د غیرقانوني چلند په صورت کې هغوی عدلي اوقضایي ځانګو ته مسؤل دي.

**۲ /۷ / ۰ په ټاکل شوې قانوني موده کې د قضیو حلول :**

دهیوادوالویوبل مسلم حق دادې چې د هغو ی قضیې باید پرټاکلی قانوني مودې د محکموله خوا څخه حل شي. پر خپل وخت باندې دقضیوحلول د موجوده ستونزو په حل کې مرسته کوي اوهم خلګ هیله من کوي چې دهغوی قضیې د قانوني لارو په وسیله باندې حلیږي اودهیواد پرقضائي ځانګوباندې دخلګو ویسائي ډیروي.
په نړیوالو سندونوکې چې د بشردحقونوپه هکله دي د دغه حق د اجرامکلفیت افغانستان ته هم اعلان شوی دی : له جملې څخه دمدنیوسیاسي حق نړیوال میثاق دوهمی مادې په دریم بند کې راغلي دي .

هرڅوك چې د یوجرم په اتهام باندې نیول کیږي اویاهم توقیف کیږي هغه باید په ډیر ژروخت کې هغه مقام ته ولیږي چې دقانون له مخې قضائي واك ولري اوهلته ډیرژرمحاکمه اویا ازاد کړل شي .
په قانوني موده کې دقضیو حلول ددې ښکارندوی دی چې د قضا سیستم سم کار کوي ،لکه څنګه چې په قانوني موده کې دقضیو نه حل بیا پردې دلالت کوي چې په سیستم کې ستونزې اونیمګړتیا شتون لري.

په همدې توګه په ۱۴ ماده کې د متهمانو د حقونواونیول شوی کسان د قضا ئي دوسیو حل بیله ځنډه څخه ټینګار شوی دی.
دهیواد په نافذه قوانینو کې هم د قضیو د حل په هکله اوپه ځانګړی توګه د جزائي قضیو د مودې په هکله محدود وخت ټا کل شوی دی.
د موقت جزائي اجراآتو قانون د شپږي مادې پربنسټ:

(۱) – د پورته قانون د ۲۶ مادې په حکم وروسته له نیولوڅخه د څیړونو په بهیرکې د موقت توقیف موده ټاکل شوې ده(د۳۶ مادې پربنسټ باندې دغه موده ۱۵ ورځې ده اویوازې دڅارنوال دغوښتنې په اساس ۱۵ نور هم اوږدیدلاي شي )

(۵) –لومړنی محکمه واك لري چې د محکمې په بهیر کې د توقیف موده دوه میاشتې نوره هم اوږده کړي ستره محکمه د محکمې په بهیر کې واك لري چې دغه موده پنځه میاشتې نوره هم اوږده کې .

۳ – که چيري د (۲) فقري د دې مادي۲ د درج شوي فقرې وخت د محکمې په بهيرکي تر پښولاندي کيږي نوحبس شوی کس د بند څخه ازاديږي

نوپه دې اساس داسي هيله کيږي چي قضيې پخپله ځانګړی اډانه کي په معقول اوقانوني توګه حل وفصل شي اود تورن اوشکمن کس د توقيف د محدوديت وخت هم په نظر کي ونيول شي، خوله بده مرغه چي دغه موضوع په سم ډول نه مراعاتيږي.
د کميسيون په موندنو کي داڅرګنده شوې ده چي ډيری قضيې اود هغه دوسيې چي جزائي اوحقوقي دی پر خپل وخت باندي نه حليږي اوپه همدې سبب دی چي ډير متهم اومحکوم کسان د لومړنيومحکمو په وسيله په مياشتو اوکلونو باندي د وضيعيت د نه څرګنديدواو د برخليك له ټاکلو پرته د خپلوحقونواوازاديو څخه بې برخي پاته دی.

د کميسيون موندنې څرګندوي چي د محکمو له خوا د حقوقی اومدني قضيو دوسي چي پر خپل وخت نه دی حل شوی شمير ئې ډيردی اودغه څه د انديښني وړدي ترهغه حده چي اوس خلګو د محکموپه وسيله د خپلو قضيو د حل هيله د لاسه ورکړې ده ( پر خپل موده باندي) اوپه دې شاني د نارسمی سيستمونو په وسيله باندي خپلی دعوا وي او قضيي حلوي . .[18]

که څه هم په جزايي قضيو کي وضيعيت تريوځايه پوري پوری سم اوډيری قضيي پرخپل وخت باندی حليږي خوبيا هم موجوده وضعه مناسبه نده ځکه که څه هم جزايي قضيې په لومړنيو محکمو کي تريوحد پوري پرخپله موده باندي حليږي ولي ډيري دغه دوسيې بيا داستيناف اوتميز په څانګو کي بې مسؤليته پرتي دي او پرخپل وخت دهغوي وضيعيت نه روښانه کيږي ترهغه ځايه چي لومړنی محکمې هم د استيناف اوتميز د محکمو څخه شکايت لري.

په ولايتونوکي د محکمو ځينو قاضيانوهم داستيناف او تميزمحکمود ټنبلي څخه خبری کړي دي اووائي چي که هغوي خپل کارونه پرخپل وخت هم سرته ورسوي نو نوری مرحلې ئې ممکن کلونه وخت ونيسی ترڅو يوه قضيه حل شي .

د افغانستان د بشرحقونوخپلواك کميسيون له موندنوڅرګنديږي چي د پلچرخي په محبس کي د ازادي سلب شوو کسانود برخليك په ټاکلوکي ځنډ چي د دوي نسبتي دوسيې د کابل د څلورو سيمو(ښار) په لومړنيومحکمواو د استيناف محکمې (د کابل ولايت ) اوستری محکمې کي دي ، نو يوډير شمير متهمان بيله برخليك څخه پراته دي .

په دي زمينه کي بله ستونزه داده چي کله د محکوم بها د حبس موده چي د استيناف محکمې له خوا ټاکل کيږي پوره کيږي ، خودوسيه په ستره محکمه کي نه نها ئي کيږي او تورن بيله برخليك څخه په نا قانونه توګه د سلب آزادی سيمو کی شپې تيروي . په همدې ډول ډيرشميربې برخليك تورن کسان چي د ستري محکمې له خواد خپلود وسيود ورستی پړاوانتظار باسي د جمهوی رياست دجزاووکمولود فرمانونود ښيګونوڅخه چي دوی هغه شرطونه هم لري خوڅرنګه چي قضيه ئې حل شوي نه ده بې برخی کيږي اود ازادی سلب سيمو کيې اوسي .

د کميسيون موندني دا راښئي چي د متهموښځو شميرچي د هغوی قضيې په ستره محکمه کی پرخپله موده ورته اعتنا نکيږي د نارينو په پرتله ډيردی ،ځکه ډيري ښځي چي داخلاقي جرمونوله کبله د ازادی سلب سيمو کي اوسي نود هغوي کورنی د هغوي پروانه کوي اودکورنی غړی ئې محکمې ته نه راځی چي دهغوی د دوسيو د حل بهير ګړندی کي .

دغه انديښني هغه وخت جدی ښه نيسي چي دجزايي موضوعګانودوسيې وروستی برخليك ټاکنوپوری تورن او محکوم کسان په توقيف ځايونواومحبسونوکي بنديان وي اوبې برخليك څخه په کلونود خپلوحقونوڅخه بې برخي وي

---

[18]-پ په نارسمي سيستمونو کي د قصيود حل په ځانګړی توګه جزائي موضوعګاني ممکن تل د حق وژني اود قانون ترپښولاندی کولو اود بشری حقونوسرغړونولوپه ځانګړی توګه د ښځواوماشومانو دحقونو ترپښو لاند کولو سبب کيږي .

نوځکه که چیري پرخپل وخت دنا حل شوی جزایي قضیوشمیرد حقوقي دوسیوپه پرتله ئي شمیر لږ هم وي خوڅرنګه چي د جزائي قضیواجراآت د خلګو د ازادي د حق سره ډیري نږدې اړیکي لري نونشی کیدای چي دا موضوع په سادګی له پامه وباسو،اړینه ده چي د دې ستونزي ربښي،علت اوسبب پیدا شي اود حل مناسبه لاره ورته ولټول شي .

**۲/ ۷ / ۱ / ۰ د قضائي اواداری پرسونل کمبودی :**
لکه چي د دې رپوټ په پیل کي وویل شول یود هغوستونزوڅخه چي د قضا په برخه کی ترسترګو کیږی هغه په محکموکي د قضایي اواداری وړکسانوکمبودی دی، په ځینوولسوالیوکی اصلاً محکمي نشته، که څه هم د محکموتشکیل د اول سرڅخه د ورځي د غوښتنوسره سم نه دی او کفایت نکوي اود خلګواړتیاوی نه پوره کوي خو په ډیروولایتونوکي د محکموتشکیل د کمبودیو سره مخامخ دی .

تقریباً هیڅ یوولایت نشوپیدا کولاي چي د هغه په مرکزاوولسوالیو کي د قضایي اواداري کارکونکوله پوره وي. دا په داسي حال کي ده که ټول تشکیل پوره هم وي بیا هم ستونزي شته د بیلګي په توګه چي د کابل ولایت د مرکزد تشکیل ټول مسلکی اواداري غړي پوره ګومارل اواستخدام شوي دي اوحتا ځیني کسان چي په نورو ځایونوکي بوخت (مقرر) دي د مختلفو سببونو له کبله د کابل محکمي اوپه ځانګړي توګه د استیناف اوتمیز په څانګوکي قضیي په قانوني موده کی نه حلیږي.

**۲ / ۷ / ۲ د قاضیانو ناسوبي:**
د قاضیانو ناسوبي اوپه منظمه توګه کارته نه تلل اوپه ځانګړي توګه د محکمود قاضیانو ناسوبي یود هغه سببونوڅخه دي چي په کارونوکي ځنډ،د دوسیود حل معطلي، اوپه پایله کي په قانوني موده کي د قضیونه حلول،د قضیو په برخه کي سر ګرداني ،د متهمانواو محکومانو بي برخلیکتوب ، په رسمي قضا یي سیستم باندي بی ویسائي اوپه هیواد کي د قضایي څانګو پر زیاراوزحمتونوباندي بی باوري ډیروي.

د کمیسیون له موندنوڅخه څرګندیږي چي په ځینو ولایتونواوپه ځانګړي توګه په ځینوولسوالیوکي قاضي صا حبان د اونی په اوږدوکي ځینی ورځی کارته نه راځی اوهغه ورځي چي کارته هم راشي نوټول رسمی ساعتونه په دفترکي نه تیروي.

د اداري اومسلکي کارکونکود ناسوبی دپاره ډیرد لیلونه شته،د کاري فرهنګ نشتوالترڅنګه پر اداري اومسلکي کارکونکوباندي د ټینګی څارني نشتوالی اوپه ځینو سیموکي د امنیت نشتون دی،بر سیره پردې د لارودواتن او ږدوالی اوټرانسپورتي ستونزي چي قاضیان ورسره لاس په ګریوان دی، په ځینو ولایتونواوولسوالیو کي قاضیان دهغه سیمي اوسیدونکي نه دي نو هغوي مجبوره دي چي د کورته تګ لپاره اوږدواټن ووهي حتا د ځینوقاضیانو کورونه په بل ولایت کي دي چي دا موضوع د دې سبب کیږي چي هغوي په ورځوورځواویا هم د اونی دپاره د کورنیو د لیدلودپاره دکاره لیري وي اودغه ستونزي په لیري پرتوولایتونواوپه نا امنه سیموکي لیدل کیږي .

د بیلګي په ډول په هغه مرکه کي چي د کمیسیون کارمند د سرپل په ولا یت کي د یوکس سره کړې ده، مرکه کونکي ویلي دي چي که څه هم د تیروکلونوپه پرتله د قاضي صاحبانو ناسوبي راټیټه شوې ده (اومرکه کونکي دهغه سبب د معاش ډیروالی وښودی) خوبیا هم قاضي صاحبان ناسوبي کوي اوهغوي د خپل ناسوبي سبب داګڼي چي د دوي کورنه په نورو‌ولایتونوکي دي اودلارو داوږدواټن له سببه نشي کولای پرخپل وخت باندي خپلي دندې ته راورسیږي. په دې اړه د دې ولایت یوقاضي وایي(تر یوحد پوري په محکمو کي ناسوبي شته اود هغه سبب هم د ادي چي یوشمیر قاضي صاحبان د لیري ولایتونو دي ،کله چي دوی درخصتیوتیرولو اویاهم د ځینوستونزود حل دپاره خپلوکورونوته ځي نوپرټاکلي وخت باندي خپل کارته رارسید لاي نشي )

د دایکندي ولایت د استیناف محکمي رئیس وائي: ډیرقاضیان زما په ګډون د نوروولایتونو اوسیدونکي دي اود خپلو کورنیو د لیدلودپاره بایدځوورځي تیري کړي،موږ په دې اړه څوځلي د UNAMA د دفترد مسؤلینوسره خبري کړي دي اود هغوی څخه ئي غوښتي دی چي د قاضی صاحبانود لیږد دپاره د هوائي ټرانسپورټ مرسته وکړي ولي مثبت ځواب مونه دې اوریدلی په دندوکي د قاضي صاحبانو ناسوبي د هغوپه اجراآتوکي سستي راولي اوهم د

هغوکسانووخت نيسي کوم چي محکمي ته راځي اوډيري پيسي لګوي ، په ځانګړي توګه هغه کسان چي د ليري سيموڅخه ومحکموته راځي، په دې اړه د بلخا ب ولسوالی يواوسيدونکی وائي:

(د ولايتونوپه مرکز اوولسواليوکي د قاضيانو ناسوبې د مراجعينو دوخت وژولو يا له منځه وړلود محکمو د کارسستي اوهم د مراجعينو د ډيروپيسولګولو سبب ګرځي، چي ځيني وخت د دعواودواړوه پلوه مجبوره کيږي چي د سپن ږرو شوراته ورشي اويا هم قومي جرګي ته خپله دعوا وروړي اود سپين ږيرو پريکړ وته غاړه کيږدي )

**۲ /۷ / ۳ / ۰ د قضيې د شاملوکسانو ناسوبې**

يود هغه سببونو څخه چي قضيه پرخپل وخت باندي نه حليږي هغه ومحکموته د قضيې د يوپلواويا دواړه پلوونو ناسوبې ده چي قضيه بې برخليکه په محکمه کي پرته وي، ودې ته په پاملرني سره چي جلب کونکي ځانګي دغه توانا ئي نلري چي د قضيې شريك کسان پرخپل وخت راوبولي نوډير ځله دغه تورن اومحکوم کسان ومحکمي ته نه راځي چي په غونډوکي ګډون وکړي اودوي په اساني سره د هيواد څخه بهرني هيوادوته ځي اود يوې قضيې دوسيه ممکن په کلونوپه محکمه کي پاته شي .

**۲ / ۷ / ۴ د قضيوپه حل کي د اړين ګړنديتوب نشتوالی**

که څه هم په دې اړه موځيني بنسټيزی ستونزي ياد ی کړې خوترټولوجدي ستونزه راګرځي خپله محکموته. که څه هم د محکموډيرمسلکي اواداري پرسونل خپلي دندي د زړه سوي اوذوق لرلوله مخي تر سره کوي ،خوپه محکموکي د پوره اودقيق کاري انظباط نشتون ،اداري فساد.،د خپلګلوي اونه پوښتلو فرهنګ د قضا يي سيستم د سلامتي په وړاندي اوپرمحکمو د خلګو د باور په هکله جدي ننګوني زيږوي.

که څه د قضايي سيستم د اصلاح اورغوني کولودپاره ډيري هڅي شوي دي او د قاضي صاحبانو د پوهاوی کچه لوړه شوي ده خوپه هيوادکي د اداري فساد شتون اود خپل حقونوپه برخه کي د خلګو نه پوهاوي د بڼو اخيستلو اوناوړه ګټوترلاسه کولودپاره منا سبه زمينه برابروي ترڅودوي د خپل مقام څخه ناوړه ګټې واخلی اود بد ه مرغه چي اصلاحي پروګرامونه لا تراوسه برى نه دي تر لاسه کړي چي د غه ستونزه حل کړي دهغه موندنوڅخه چي کميسيون د مرکو د لاري اود مدني ټولنواورسنيو څخه ترلاسه کړي دي ،داځرګندوي چي په محکموکي ډيری نيوکي د اداري فساداود هغه د زيږنده ستونزو په هکله وي.په هغه مرکوکي چي د کميسيون کارکونکود محکمود قاضيانواود محکمود رئيسانوسره تر سره کړي دي دغه ستونزي ته لږه ګوته نيول سوي ده، خود خلګونارضائيت اونا خوښي اوپرمحکموباندي د هغوي ويسائي منفي وه اود محکموپه وسيله دعدالت پلي کول اوپرقانوني مودې د قضيو حلول د خلګو له خولي څخه جدی ستونزه ګڼل کيدل .[19]

**۲ / ۸ / ۰ مدافع وکيل او حقوقی مرستوته لاسرسی :**

د محکمود کړونود څيرني دپاره يوه مهمه شاخصه داده چي متهمان اومراجعه کونکي ترکومي کچي پوري مدافع وکيلانوته لاسرسي لري اود محکمي په بهيرکي دوکيل (مدافع) رول څه دی .

د مدافع وکيل لرلوحق،د دغه حق څخه د متهم پوهاوی،د غريبومتهمودپاره د دولت دبودجې څخه هغوی ته وکيل ګومارل(استخدامول)، د خبرو څخه بې برخي کونه (محرومول)،د تورن اودهغه دوکيل ترمينځ د ليکونوليږل،اود مدافع وکيل لاسرسی د تورن دوسيو ته اود دفاع دپاره ښه زمينه برابرول،هغه بنسټيزتضمينونه دی چي د اساسي قانون په ۳۱ ماده کی .۲۰ [20] د محکمود تشکيل د قانون يوولسمه ماده .۲۱ .[21] د ماشومانوسرغړونوپه هکله د حل

---

[19] -د خلګود رازيتوب اود قاضيانود کارپه هکله دغه بل ريوټ وګوری

[20] د اساسي قانون ۳۱ ماده (هرڅوك کولاي شي چي دنيول کيدو سره سم له ځان د اتهام د ليري کولواويا د حق د ثابتولوډپاره مدافع وکيل وټاکي،متهم حق لري چي د نيولو سره سم له منسوب اتهام ځان خبرکړی اودهغي مودي د ننه چي قانون ئي ټاکي محکمي کي حاضرشي.دولت په جنائي پيښوکي د بيوزلی متهم ليارِه مدافع وکيل ټاکي ،د متهم اودهغه دوکيل تر مينځ مکالمات،مراسلات،اومخابرات له هرډول تعرض څخه خوندي دي )

[21] -د محکمود تشکيلاتوقانون يوولسمه ماده(هرڅوك کولاي شي چي د خپل اتهام د دفاع اود خپل حق د اثبات دپاره هغه کړي چي ونيول شي مدافع وکيل وټاکي)

قانون ۲۲ ماده .۲۲ .[22] اود محکمود جزايي اجراآتوموقت قانون( ۵ ،۱۸ ،۱۹ ،او۳۸ ) مادې .۲۳ .[23] اوپه نورواړوند قوانينوکي په ښکاره ورانديڼه شوي ده.

همدارنګه د مدني اوسياسي حقونو نړيوال کنوانسيون ۱۴ ماده په دريمه فقره کي .۲۴ .[24] هم د بې وزلې متهم دپاره د دولت په لګښت باندي د مدافع وکيل لرلوحق تضمين شوي دي، په همدې سبب دهيوادوالو لاسرسی مدافع وکيلانو اوحقوقي مرستندويانوته دعادلانه محکمې معيارونه دي،ځکه چي يو عادلانه اواغيزناکه قضايي سيستم دوه بنسټيزي موخې لري:۱ دعدالت تامينول،د قانون ماتونکوسره مبارزه اود قانون وسرغړونکوته سزاورکول،دوهم : د متهم اوشکمن کس د حقونو رعايتول اودهغه د حقونوملاتړی کول.

په هغه کچه چي د خلګود حقونوساتنه د امنيت وتامين،د قانون ماتونکوسره مبارزې اوسزاګانوته اړتيا،د فردي ازاديواوحقونوځخه د فاع کول،د متهم اوشکمن د حقونوپه پام کي نيول هم د دې حق دتضمين دپاره اړيني لاري اوروشونه دي.

په ټوليزه توګه په يوه قضايي بهيرکي دري ضلعي موجودي دي چي هغه عبارت دي : متهم ،مدعي يامدعي العموم اوقاضي ،دعادلانه محکمې لومړي شرط دوسلو برابری (ځواکونه) د دغودرو ضلعوترمينځ دی. برابري په دې مانا دی چي د محکمې درې سره ضلعي دواك ،ازادي او اړينو توکو لرونکي دی چي خپل د دفاع په منظوراود دليلونو اوسندونوسره مجادله اومقا بله اود مقابل په وړاندې د وسيلو لرونکي واوسي .

په دې مينځ کي يوقرباني کس يا متهم د قوانينو سره د نا بلدي په خاطر ديوې جزائي موضوع د پيل ځخه تر وروستی کړيو نشي کولاي چي په ښه توګه د خپل حق ځخه دفاع وکړي..دغه موضوع د متهمواوشکمنوپه ړرتله ځانګړي اهميت لري. دغه کسان په ځانګړي توګه د ځان د دفاع په خا طرپوره وخت ،اجازه اويا پوره توانايي ونلري نوطبعي ده د ځارنوال په وړندې چي دخپل ادعا دپاره پوره مسلك مهارت اوتجربه لري، دې بې وسلې دی اودغه د وسلونابرابري ممکن د غيري عادلانه حکمونودصادريدوسبب وګرځي .

په همدې سبب د وسلو( ځواکونو) دبرابري دتضمين دپاره، د عدالت تامينول،د غيري عادلانه سزاګانومخنيوي په خاطرپه مرحلوکي د محکموسره د مبارزې په خاطرد مدافع وکيل اوياد حقوقي مرستندوی لرل په ځانګړي توګه په جزايي موضوعګانوکي ډيره اړينه اومهمه ښکاري .

ومدافع وکيلانو اومرستندويانوته د متهمواوشکمنوکسانولاسرسی د هغوي د ازاديو اواختيارحدود يودهغوډيرو مهمو شا خصونو ځخه دي چي په هيواد کي د قضايي سيستم اومحکموضيعيت په ځيرنه کي د قانون حاکميت اواساسي معيارونه رابښئي.

مدافع وکيلانوته لاسرسی هم د مراجعه کونکود حقونوپژندل په قضايي سيستم کي اوهم د متهمانو او شکمنودفاع د اتهامونوپه وړاندي هم يواساسی حق اوهم يوه اړتيا ده .لکه ځنګه چي موپورته يادونه وکړه چي مدافع وکيل او حقوقي مرستندوی ته لاسرسی د هيواد په اساسي قانون اونورو قوانينوکي په رسميت پيژندل شوي دي اود اساسی قانون د۳۱ مادې اونورو نافذه قوانينو کي د افغانستان دولت مکلف شوي دي چي دبيوزلو دپاره حقوقمرستندويه تامين کي. بنسټيزه پوښتنه داده چي په عمل کي دغه ځه ته ځومره پاملرنه شوې ده او په دغه برخه کي دغه حق ته لاسرسی دپاره کومي کړني ترسره شوي دي؟ اود مدافع وکيل اوحقوقي مرستندوي ته د خلګو د لاسرسی کچه په کوم حد کي د ه ؟

---

[22] ـ د ماشومانود سرغړونودحل قانون دوه وشتمه ماده ( ۱ – ماشومدځيړولواودمحکمې په ټولو پړاونوکي د مدافع وکيل اوژباړونکي غوښتولوحق لری،د ماشوم د مور اوپلار بيوزلي اويادهغه د قانوني ممثل د غريبي له کبله چي د مدافع وکيل اوژباړن لګښت ونلری ي نود ماشومانوځانګړي محکمه کولاي شي چي د دولت په لګښت باندي هغه ته مدافع وکيل اوژباړونکي وټاکي.

[23] -د محکمود جزايي اجراآتوموقت قانون (۵ ،۱۸ ،۱۹ ،او۳۸ مادې )

[24] -د مدني اوسياسي حقونونړيوال کنوانسيون ۱۴ مادې (۳) فقره : (هرڅوك حق لري پرځان باندي د اتهام په وړاندي لږترلږ ه د پوره انصاف ځخه برخمن وي،خپل په وړاندي محکمه شي اويا هم د خپل ټاکلي وکيل په وسيله د ځان ځخه د فاع وکړي، اوکه چيرته وکيل ونلري هغه ته دوکيل لرلو د حق پوهاوی ورکړل شي، هغه وخت چي د محکمې مصالح غوښتنه وکړي،راساً د محکمې له خوا ځخه ورته وکيل ټاکل کيږي، که چيري متهم دوکيل د حق الزامې لګښت ونلري نومحکمه دهغه لګښت ورکوي .

روښانه ده چي مدافع وکيل اوحقوقی مرستندیانود لاسرسی کمیت اوکیفیت یو دهغه مهموشا خصونوڅخه ګڼل کیږي چي د محکمود وضیعیت څیرلواود عادلا نه محکمې د اجراآتوډاډ اوپه پایله کی د قانون د حاکمیت کچه راښئي.

د افغانستان د بشرد حقونو خپلواك کمیسیون موندني راښئي چي په اساسي قانون اونورونافذه قوانینواود جزایي اجراآتوموقت قانو کي د مدافع وکیل ته د لاسرسی اصل په رسمیت پیژندل شودی اوپه دې ورستیوکي د مدافع وکیلانو خپلواك انجمن جوړشوي دي. له هغه وخت څخه تراوسه پوري په سلګونومدافع وکیلانو په کابل اونوروولایتونوکي د وکالت قانوني اجازه ترلاسه کړي ده اوحقوقی خدمتونه ترسره کوي،اود مدافع وکیلانود انجمن د قانون په اساس هرمدافع وکیل مکلفیت لري چي په یوه کال کي درى قضایي دوسیي په وړیا توګه حل کړي اوحقوقی مرستي وکړي .
ودې ته په پام کي نیولوسره چي اساسی قانون دولت مکلف کړي دي چي دبې وزلو کسانو دپاره حقوقی مرستي برابرکی ،د افغانستان دولت مکلف دي چي دغه حکم په عمل کي پلي کړي.
هغه پرمختګونه او ګامونه چي په دې لارکي اخیستل شوي دي عبارت دي :

- ستري محکمې څخه د عدلي وزارت ته د حقوقي مرستو ریاست دتشکیل لیږدول اود حقوقي مرستود څانګو پرانستل په لومړي اودوهمه درجه ولایتونوکي.
- د ازمینه برابرول چي نادولتي موسسې حقوقي مرستي اوخد متونه وړاندي کړي.
- د حقوقی مرستو دمقررې انفاذ اوتصویب.
- د حقوقی مرستود خپلواك بورډ جوړول .

یو د هغو مهمو ګامونو څخه چي اخیستل شوي دي چي دمتهم اوشکمن حقونه رعایت شي اوعادلانه محکمي ته لاسرسی ولري د حقوقي مرستوخپلواك بورډ دی.د حقوقي مرستودمقررې د انفاذ اوتصویب وروسته د حقوقي مرستندویه موسسوچي دولتي اویا نادولتي وي ، د فعالیتونو د تنظیم او ترتیب دپاره هڅي پیل شوي چي د حقوقي مرستوخپلواك بورډ جوړشي. د حقوقي مرستود خپلواك بورډ د کارکونکوپه کارګومارولو(استخدام) سره دغه څانګي په رسمي توګه خپل کارپیل کي.

د اساسي قانون د31 مادې اود مدافع وکیلانو د قانون د ۳ مادې اود حقوقي مرستو مقررې ۱۹ مادې پربنسټ دغه څانګه جوړه شوه.

د کمیسیون د موندنوله مخي داسي څرګندیږي چي په عمل کي د خلګود لاسرسی کچه ومدافع وکیلانوته اویا حقوقي مرستو ته دولایتونو په پرتله توپیر کوي.د بیلګي په توګه د کابل په ښارکي دغه لاسرسی په ښه کچه دی خوپه ډیرو ولایتونوی دغه کچه ډیره ټیټه ده اوحتا په دایکندي اوارزګان کي یو مدافع وکیل او حقوقي مرستندوی نشته.

په افغانستان کي د مدافع وکیلانو شمیرتر(۱۰۰۰) اوړي خوکه چیري داشمیر د نفوس په کچه پر خلګوویشل شي نو ویلای شو چي زموږ د هیواد د خلګو لاسرسي مدافع وکیلانوته په ډیره ټټه کچه کي دي، دغه ستونزه هغه وخت دوه برابر کیږي چي که موږد کابل ولایت ته وګورو نوراته څرګندیږي چي ډیر وکیلان په همدې ولایت اوپه ځانګړي توګه په کابل ښار کي میشت دي

د کابل ولایت ترڅنګه په درونورو ولایتونو (هرات ،بلخ،ننګرهار) کي هم یوشمیرمدافع وکیلان شته، په نورو پاته ولایتونوکي د مدافع وکیلانوشمیرډیرټیټ دي اوحتا صفر دي: د بیلګي په ډول دبدخشان په ولایت کی د شل کسو څخه لږدی،په غورکي ئي شمیره تر لس لږدي، اوپه بامیانوکی ۸ کسه دي خوپه دایکندي اوارزګان کي هیڅ مدافع وکیل اوحقوفي مرستندوی نشته دغه دپاملرني اوډیري داندیښني ځاي دي چي دولایتونو دمرکز اوولسوالیو ترمینځ دتوپیرکچه وګورو.

په داسي حال کي چي په مرکزاوولایتونو کي د خلګو لاسرسی مدافع وکیلانواوحقوفي مرستندویانو ته په ټیټه کچه دي اوشمیر ئي هم داڅرګندوي چي ومدافع وکیل ته د خلګولاسرسی په بیخي ټیټه کچه کي دی اودریمه درجه ولایتونو کي خواصلاً څوك مدافع وکیل نشته اوپاملرنه ورته نده شوی .

د ځوولسواليو پرته دهيواد په نورو ټولو ولسواليوکي نه هم د دولت له خوا د بې وزلو خلګو دپاره په دې مکلف شوې دي چي هغوي ته حقوقي مرستي برابري کړي،په ځينوولايتونوکي په ځانګړي توګه په دوهمه درجه ولايتونو کي په پوره ډول فعاله نه دي اوپه دريمه درجه ولايتونو کي خوداول سره فعاليت نلري حتا د دغو ولايتونوپه مرکزکي هم دغه ځانګي د دغه توان نلري چي د بې وزلو دپاره حقوقي مرستي برابري کړي، نود ولسواليوحال بيا مه پوښتي.

په افغانستان کي يوشمير موسسي اوانجو ګاني شته چي هغوي حقوقي مرستي اونور حقوقي خدمتونه وړاندي کوي،ځيني ئي په دې توانيدلي دي چي مدافع وکيلان استخدام کړي اوپه دې برخه کي ځيني حقوقي خدمتونه ترسره کړي دي،خوبنسټيزه ستونزه خوداده چي هغوي يوازي د کابل اوځينو نورو ولايتونو(بلخ،هرات،ننګرهار) اودوه دري نورولايتونواوهغه هم په مرکز کي فعاليت لري،نوځکه په نوروولايتونوکي په ځانګړيی توګه په هغه ولايتونو کي چي دعدليه وزارت د حقوقي مرستو اومدافع وکيلانو خپلواکه ځانګه نشته ، نوداشاني خدمتونه هم نشته او خصوصي انجوګاني اوموسسي هم نه دی فعاله . په پايله کي ويلاي شو چي د دې ترڅنګه چي د دغو ولايتونودمرکزاوسيدونکی د حقوقي مرستوخدمتونوڅخه بې برخي پاته شوي دي نوتقريباً ټوله ولسوالۍ (دځوولسواليو پرته چي په کابل کي دی ) د هرډول حقوقي مرستو څخه بې برخي دي. يوازي ځود ګوتوپه شمير پيشه لرونکی اومشهور کسان کولاي شي چي د ولايتونو مرکزاويا هم کابل ښارته راشي اود خپل دعوا پرمخ بيولو دپاره مدافع وکيل ځانته ونيسي .

په دې موسسو کي ۲۰۰ مدافع وکيلان شته چي په هيڅ صورت هغه داړتيا ووځواب نشي پوره کولاي ، د بيلګي په ډول ددغه موسسو څخه يوه ئي د۳۰ مدافع وکيلانو څخه لږ شميروکيلان لري چي په تيرو پنځو کلونوکي ئې يوازي ديارلس زره قضيي د حقوقي مرستو خدمتونوترپوښښ لاندي نيولي دي.

دبيلګي په ډولو دهغه شميرني پربنسټ چي ددغوموسسو ديومسؤل له خوا (دقانون غوښتونکي ) بيان شوي دي،دغه موسسي په تيروپنځو کلونو کي په ټوليزه توګه ۱۱۵۹۱ جزايي قضيي ، ۱۵۰۰ کورنی قضيي اخيستي اوپرهغوئي کارکړي دی ،چي د جزايي قضيو په برخه کی ۷۶۷۸ ئي خلاصون او ۹۸۰ ئي محکوم او ۲۹۳۳ قضيي په دوران کي دي، اود کورنی قضيو له ګروپ څخه د ۱۱۱۸ قضيي حل شوي دي او۳۸۲ قضيي لاپه دوران کي دي . دغه شميرني ديوې خوا څخه راښئي چي په لوړه کچه باندي ډير خلګ وحقوقي مرستو ته اړتيا لری اود بل پلوه څخه د نادولتي موسسو کمی اوکيفی ستونزي د حقوقی مرستوپه برخه کي راته په ګوته کوي.

په پايله کي ډيري قضيي اوپه ځانګړي توګه جزايي قضيي د مدافع وکيل اوحقوقی مرستو پرته حليږي دغه موضوع د محکمي او څيرني عادلانه بهير د جدي ننګونو سره مخامخ کوي اوپرعدلي اوقضايي ځانګو باندي د خلګو ويسايي راټيټوي .
دليلونه اوسببونه:

ډيرسببونه شته چي ولی خلګ په پوره کچه باندی مدافع وکيل اوحقوقی مرستندويانو ته اويا هم دغه شان خدمتونو ته لاسرسي نلري، د دغوسببونو پيداکول له يوې خوا څخه داراښئي چي خلګ څومره په کمی اوکيفی ډول د دغه خدمتونو څخه ګټه تر لاسه کوي اود بلې خوا څخه داراته ښئي چي مسؤلي ځانګي په څه ډول پردغه ستونزو بريلی شي .

**۲ / ۸ /۱ ۰ د مدافع وکيلانو او حقوقی مرستندويانو نشتون**

د مدافع وکيلانواوحقوقی مرستندويانونشتون د دې سبب کيږي چي په ولايتونوکي هيوادوال د غه شان خدمتونوڅخه بې برخي شي .د افغانستان د بشرحقونوخپلواك کميسيون له موندنوڅخه څرګنديږي چي په ټولوولايتونوکي د پورته خدمتونوکمی شتون لري.په ځينوولايتونوکي لکه دايکندی اوارزګان کي اصلاًمدافع وکيل اوحقوقی مرستندويان نشته،د دې ترڅنګه دولايتونود مرکز په پرتله د ولسواليوستونزي په دې برخه کي دوه برابر دي،ځکه چي په٪۸۰ ولسواليوکي مدافع وکيل او حقوقمرستندوي اصلاً نشته .

د افغانستان د عدليې وزارت د حقوقی مرستوځانګي تشکيل چي يوه دولتي ځانګه ده اومکلفيت لري چي بې وزلو کسانوته حقوقی مرستي برابري کړي. په پوره کچه ئي پراختيا نه ده کړې نوهمدا سبب دی چي هغه کسان چي حقوقی مرستوته اړتيا لري د ډېرو ستونزو سره مخامخ دي.

د عدليې وزارت د حقوقی مرستو ځانګه يوازي په ۱۷ ولايتونو کي ئی تشکيل لاس ليك شوي دي چي هغه هم د دې نيمګړي تسکيل پربنسټ په پوره ډول فعاله نه دي ، د پورته وزارت د حقوقی مرستود ځانګي تشکيل يوازي په لومړي او دوهمه درجه ولايتونوکي منظورشوي دي(کابل،هرات،فراه،هلمند، کندهار،غزني،پکتيا،کاپيسا،پروان،بغلان،کندز،تخار،بدخشان،بلخ ،جوزجان اوفارياب )
په دريمه درجه ولايتونوکي اصلاً د پورته ځانګي منظورنشته اودغه ولايتونه د نورونيمګړتياووترڅنګه د دولت له خواد دې څخه هم بې برخي شوي دی چي د حقوقی مرستوخدمتونوته لاسرسي ولري.

برسيره پردې حتا په هغه ولايتونوکي چي تشکيل منظورشوي دي بيا هم داتشکيل نيمګړی شانته دی اود هغه پراختيا ته اړتيا ليدل کيږي، په منځني ډول باندي په لومړي اودوهمه درجه ولايتونوکي هم د عدليې وزارت له خوا يوازي دري حقوقی مرستندويان منظورشوي دي چي په هيڅ توګه د يوه ولايت اړتياوی نشي پوره کولاي،يوه بله ستونزه داده چي دغه منظور شوي تشکيل هم په پوره ډول فعاله نه دی.

د بيلګي په ډول د حقوقي مرستندويانومنظورشوي تشکيل د کابل په ولايت کی ۱ يوکس،فراه ۲کسان ،پکتيا ۳ کسان،ننګرهار ۱ يوکس،پروان ۱ يو کس،تخار ۱ يوکس اوبدخشان ۱ يوکس کمبودلري اودهلمند په ولايت کي خو اصلاً منظور شوي تشکيل فعاله شوی ندی. ۲۵ .[25]

نوځکه ويلای شوه چي د عدليې وزارت د حقوقی مرستندويانوځانګه په اوسني ظرفيت سره حتا په ولايتونوپه مرکز کي هم د بې وزلو کسانو سره حقوقی مرستي نشي کولای نوپه ولسواليو کي به د حقوقی مرستو څه حال وي. دغه ستونزه د ښځو په برخه کي نوره هم ډيره ده چي ښځينه مدافع وکيلان نشته ،د بلی خواڅخه ښځي د مختلفو د ليلونوله مخي د دې توان نه لري چي د خپل ځان څخه دفاع وکړي اوپه دې برخه کي ئی دپوهي کچه لوړه نه ده چي ښځي څه حقونه لری اوداستونزه هم لری چي مدافع وکيلانوته په روښانه توګه خپله قضيه بيان اوتشريح کی په پايله کي بايد ووايوچي د ښځينه مدافع وکيلانود نشتون په صورت کي اود ښځينه حقوقي مرستندويانو کمبودی د دې سبب ګرځي چي ډيري ښځي خپل حق ته اوښځينه مدافع وکيل ته د لاسرسی څخه بې برخي پاتيږي .

د بيلګي په ډول د پروان ولايت يومسؤل کس وائي. په ټول کي موږ په دې ولايت کي د مدافع وکيل او حقوقي مرستندوی دستونزي سره مخامخ يو ،په ځانګړي توګه لړترلړدوه ښځينه مدافع وکيلانو ته ډيره اړتيا لرو ځکه هغه ښځي چي په توقيف ځايونو کي اوسيږی پر نارينه مدافع وکيل پوره ويسايي نلری ترڅو خپل ربښتيانی حالت ورته بيان کي .

**۲ / ۸ / ۲ ۰ مالي ناتواني :**

مالی ناتواني يوبل سبب دي چي خلګ د مدافع وکيل د لرلوڅخه بې برخي دي ،د پراخي بې وزلی له کبله دهيواد په ډيروسيموکي ډيرخلګ د مدافع وکيل د لګښت (پيسه ورکولو) توان نلري،نوکه چيري د مدافع وکيلانوشميرډيرهم وي بيا هم بې وزلی خلګ د هغوی لګښت توان نلري.

دغه څه د دې سبب کيږي چي حقوقی مرستندويانوته ډيره اړتيا ليدل کيږي،خود بده مرغه چي د عدليې وزارت د حقوقی مرستوځانګه په ټولوولايتونوکي فعاله نه ده،اود تشکيل د نشتوالی اوياهم د مسلکي کسانو د کمبودي له پلوه د هيواد د ولايتونوپه ډيرومرکزونواوولسواليوکي خلګ حقوقي مرستندويانوته اړتيا نلري ،اوهغه حقوقي مرستندويانو چي په نادولتي موسسوکي خدمت کوي اوهغوی ئي معاشونه برابروي اود خپلوموکلينوقضيې په وړيا توګه پرمخ وړي هم په پوره کچه په ولسواليوکي شتون نلري .

[25]- د حقوقی مرستندويانود اداري تشکيل په عدليه وزارت کي د حقوقی مرستنويانورئيس د عدليې وزارت .

**۲ / ۸ / ۳ : د داډ نشتون**

يوبل سبب چي ولي خلک د مدافع وکيل اوحقوقي مرستندوی څخه سمه ګټه نه تر لاسه کوي هغه د خلګوبې ويسائي ده چي په صادقانه توګه پرهغوي ويسائي نلري .د کميسيون د موندنو څخه څرګند يږي چي يولوي سبب چي ولي خلک د مدافع وکيل څخه ګټه نه اخلي هغه د خلګوبې ويسائي پردغه شان خدمتونوباندي ده ،هغوي داسي قضاوت کوي چي داډنلروچي پرداسي يومدافع وکيل ويسا شوه کوم چي مور. د ده سره هيڅ بلديت نلرويا نه ئي پيژنو.

د بيلګی په ډول د جوزجان ولايت د ژورنالستانو د اتحادي مسؤل وائي زمور. يوګاونډي چي يوڅه خان دي، د هغه زوي يوه ترافيکي پيښه وکړه، څارنوال د دعوا شکل داسي ترتيب کړي وو چي د خان صاحب زوي يوکال په بندکي واوسي، هغه ته مي وويل چي د ولايت په مرکزکي د مدافع وکيلان شته، د دي موضوع دپاره يومدافع وکيل وټاکه ،هغه ځواب راکړ چي څنګه پريوچا باندی ويسا شم چي هغه نه پژنم ، هغه د خپل کار په وړاندي پيسي اخلي نوممکن مقابل لورنترماډيری پيسې ورکي او قضيه د هغه په ګټه وڅرخوی.

دغه څه د دي ښکارندوی ده چي د ټولنزی پوهاوي کچه ډيره ټيټه ده اوخلک لا په دې نه پوهيږي چي د مدافع وکيل اوحقوقي مرستندوی دنده اورول څه دی اوپه پايله کي د دغوخدمتونو په برخه کي بې وسيائي راولی .
که څه هم ممکن دی چي ځيني کسان چي په دې برخه کي د وکيل په توګه کارکوي بيله دې چي خپل مسلکي صداقت په پام کي ونيسي ، داسي معاملې ته غاړه کښيږدي اويا ځيني مدافع وکيلان د قضيي حل دپاره اويا د عدلی اوقضائي مسؤلينو دپام راړولو دپاره په بډو ورکولو باندي لاس پوري کړي ،خو نشوکولاً چي د عدالت په تامين کی د هغوی د بې بديله خدمتونوڅخه سترګي پټي کړو.

پرمدافع وکيلانو اوخدمتي مرستندويانوباندی د خلګو بې ويسائي ډيرځله د هغوی دهغه بې خبری څخه سرچينه اخلي کوم چي د مدافع وکيل اوحقوقی مرستندوی په هکله وجود لري.

**۲ /۸ /۴ ۰ ناپوهی:**

د ويل شوي سببونوترڅنګه يودليل داهم دی چي ولي خلک مدافع وکيل ته لاسرسي نلری، هغه د خلګوبي خبری ده د مدافع وکيل واړتيا ته چي په قضيه کي څومره رول لوبولاي شي.ترهغه چي د خلګود نالوستی کچه ډيره ټيټه ده اود عامه پوهاوی پروګرامونه هم نشته چي هغوي ته د مدافع وکيلانواړتيا څرګنده کړي، په ولسواليو کي خلک د مدافع وکيلانو په اهميت نه پوهيږي حتا ځيني خلک لا په دې باوردي چي د مجرمانوڅخه د دفاع کولوشغل ناوړه کاردی.
لکه څنګه چي مو د مخه بحثونوکي وويل چي د مدافع وکيل له لرلود پوهاوی حق د کشف،څيرنواود محکمي د مسؤلينوقانوني حق دی چي متهم اوشکمن کس ته د مدافع وکيل په ټا کلو کي پوره پوهاوی او مرستی تيارى کړي.
د دې اړتيا پوره کولودپاره دا ړينه ښکاری چي په ټوله هيواد کي حقوقخدمتونه پراخی وعمومي اود بې وزلو کسانودپاره په وړيا توګه د مدافع وکيل خدمتونه تيار کړل شي اوهم داسي پروګرامونه ترتيب کړل شي چي خلګو ته پوهاوي ورکی چي څنګه د دغه شان خدمتونو څخه ګټه ترلاسه کړي،دغه څه ډيراړين اومهم دي .

**۲ /۸ / ۵ ۰ د مدافع وکيلانو او حقوقی مرستو رواجول :**

يوه بله بنسټيزه موضوع د مدافع وکيلانواوحقوقي مرستندويانودپاره يوه داډ منه زمينه برابرول دی.
که داسي فرض کړوچي يو پوره شمير مدافع وکيلان اوحقوقي مرستندويان شته خوکه چيري په عدلي اوقضايي بهير کي په رسميت باندي ونه پيژندل شي اويا د هغه مراعات ونشي نودا به ممکنه نه وي چي د عدالت اوقانون پلي کيدو ته هيله من واوسو.

د نيکه مرغه چي د هيواد په نوی قوانينوکي اود هغه جملې څخه په اساسي قانون،د موقت جزائي قانون اجراآت اود مدافع وکيلانوخپلواک انجمن،مدافع وکيلانود لاسرسي حق ،د هغوی بنسټيز رول اود ځان د دفاع دپاره ښه زمينه

برابرول په رسميت باندي پيژندل شوي دي ،ويلاي شو چي په دې برخه کي ډيره ستونزه داده چي قضائي ځانګي مدافع وکيلانو اوحقوقي مرستندويانو ته کومه اعتنا نه کوی اوڅه باور پري نلري.

د هيواد د قضائي موضوعګانو په بهير کي د مدافع وکيل د رول ځايه ول يونوی شي دی اوهغه پرمخ نه دی تللي اورواج شوي نه دي ،د افغانستان د بشرحقونوخپلواك کميسيون موندني اوڅيرني څرګندوي چي د خپلوموکلانود ښې دفاع په لاره کي اويا د قضيو د ښه حل اوفصل دپاره په مدني شکل باندي حقوقی مرستندويانو اومدافع وکيلانو ښه رول يا ښه نقش نشي تر سره کولاي ځکه خلک دغه خدمتونوته لاسرسی نلري.
يا هم د خلګو مالي توان کمزوری دی اويا هم په هغه سيمه کي چي حقوقی مرستندويانو ته او مدافع وکيلانو ته لاسرسي موجود هم وي اوخلک هغه کاروې خوبيا هم د قضائي ځانګوله خوا ورته دومره پاملرنه نکيږي اودغه څه بې اغيزه پاتيږي .

په ډيرو ولايتونوکي مدافع وکيلان اوحقوقی مرستندويان وائي چي د موقت اجراآتو قانون په ۴۲ ماده کي هغه ابلاغ پانه چي په هغه کي د محکمې د ورځي نيټه ليکل شوي وي لږترلږه پنځه ورځي مخته مدافع وکيل ته خبرورکول کيږي، خود قضائي غونډود پرانستلونيټي په باب هغوی ته خبرنه ورکول کيږي،خوداخبرهغه وخت ورکول کيږي چي اصلاً دوی دغه غونډې ته رسيدلاي نشي اويا هم د دفاع دپاره پوره وخت نه وی پاته شوي .

يوه بله ستونزه داده چي د تعقيب اوڅيړني ځانګي د مدافع وکيلانوسره مرسته نه کوي ، په ډيرو وختونوکي د مدافع وکيلانواوحقوقي مرستندويانو سره د شکمنود دوسيولاس ته راوړلو په برخه اويا هم په غونډوکي د دوي د ګډون په برخه کي مرسته نکيږي ،دغه ستونزه د ملي امنيت په ځانګو کي ډيره جدی ده.

د موقت اجراآتو قانون د پنځمي مادي د اوومي اواتمي فقروپربنسټ: پوليس ،څارنوال اومحکمه مکلفيت لری چي د نيولواوپوښتنوکولوترمخه څرګنده مالوماتونه د چوپتيا حق، په ټولو پړاونوکي د مدافع وکيل ټاکنو حق د پلټني په وخت کي د حضورحق (شکمن،تورن (متهم)،يا هم د هغوی وکيل )د صف ايستلو له طريقه د مجرمانود پيژندني مقررې، د پوهوکسانوله خوا معاينه اود شکمن اومتهم دپاره محکمه (دهغوی مدافع وکيل) وړاندي کړي .

اود موقت جزائي اجراآتو قانون د ۳۸ مادې د لومړۍ اودوهمي فقرې پربنسټ: پوليس ،څارنوال ، اومحکمه مکلفيت لري هغوی په ټولو پړاونوکي د مدافع وکيل اوشکمن د حضور په موخه، د پلټنې( تفتيش) په صورت کي څيرنه،د شاهدانومخامخ کول،د صف ايستلو له طريقه د مجرمانو د پيژندلو طرزالعمل اود پوهوکسانوپه وسيله د هغوی معاينه کولو باندي خبرکړي.

د پورته قانون په ۴۰ ماده کي راغلي دي: لومړي څارنوال اود قضايي ظبط مامورد څيرني په بهير کي مکلف دي،شکمن،د هغه مدافع وکيل اومجنی عليه له هغه کړونوڅخه خبرکړي چي دوي ئي ترسره کوي اوهغوي حق لري چي هلته حاضروي. همدارنګه د دې قانون په ۴۳ ماده کي تورن اومدافع وکيل حق لري چي د دوسيو سندونوته لاسرسی ولري.

د ځينومدافع وکيلانو اوحقوقي مرستندويانوپه وينا چي يوه جدي ستونزه داده چي قاضيان د هغو د دفاع لايحي ته فکرنه کوي د دوي څخه ئي ځيني وائی که څه هم په قضايي غونډوکي شکلونه رعايتيږي اودوی د متهمانودفاع کوي ولی ودې دفاع ته اړينه پاملرنه نکيږي او قاضي د څارنوال د دعوا جوړولوشکل اويا هم د موندنو په وسيله پريکړه کوي اوهغه دفاع چي ترتيب سوې ده په محکمه کي پوره پاملرنه ورته نده شوې.

د مرکوپه ترسره کولوسره د کميسيون موندنی څرګندوي چي (د عدلی قضيود څيړولو اومتهمو کسانو دوسيو په ليدلو سره ) که چيری متهم يا دهغه وکيل ( مدافع وکيل) ونشي کړاي چي د قاضي سره اړيکی ونيسی په دې حالت کي کيدای شي چي د دوسيو څيرل ونشي ،قاضي ډيرځله پرهغه څه تکيه کوي چي د.څارنوالانوله خواترتيب شوي دي اوحکم ورکوي اود متهم اويا د مدافع وکيل نيوکوته په لازمه توګه پاملرنه نکيږي .

د افغانستان د بشرحقونوحپلواك كميسيون د كندهارولايت د سيمه ييزي ځانګي ځارونكي رپوټ راكوي چي ځيني قاضيان ځانته زحمت نه وركوي اودوسيې نه لولي بيله دې چي جرمي سندونه اوشواهد وګوري اوياد متهم اويا مدافع وكيل دفاعيه وګوري د ځارنوال په غوښتنه باندي پر تورن باندي د جزا حكم را باسی .

طبيعيى ده چي د تورن د حقونوڅخه په دفاع كي هغه وخت مدافع وكيل اويا حقوقي مرستندويه مرسته كولاي شي چي د تورن اوشكمن كس څخه د ځيرني په بهير كي حاضر وي اود شكمن كس ودليلونو اوسندونوته لاسرسی ولری اود دې ترڅنګه د دفاعي د جوړولودپاره پوره وخت ولري اوهم د شاهدانو سره مخامخ شي اود هغوي څخه پوښتني وكولاي شي د دې ټولو شرطونو په نظركي نيولوسره يوازي هغه وخت په محكمه كي د عدالت د تر سره كولوخبري كولاي شو چي قاضيان د متهمانو اومدافع وكيلانوودفاع ته پوره اهميت وركي اوهغومره چي د دعوا صورت اومدعى ته اهميت وركوي هغومره بيا د مدعى اليه دفاع اود ليلونه ته اود هغوي مدافع وكيلانوته اهميت وركي .

په پايله كي به ووايو چي د افغانستان د بشرحقونوخپلواك كميسيون د ځارنكود ځارنی په موندنوكي داګورو چي كه څه هم په دې لاره كي پرمختګونه شوي دي خو په پوره كچه باندي هغه شان چي اړين دي د عادلانه محكمي موازين ،اومعيارونه د قاضيانو له خوا په كامله توګه په پام كي نه دې نيول شوي نه دي .

د دې معيارونو نه په پام كي نيول په ځينو سببونو پوري تړلي دي لكه مدافع وكيل ته نه لاسرسی ، د دوسيو ډيروالی ،د قاضيانو كموالی،د قاضيان د پوهي د كچي ټيټوالی، د مسلكي قاضيانو كموالی، د قانون د حاكميت كمزوري ، امنيتي ويروني،د قاضيانوناسوبي،د قاضيانو له خوا د سپارل شوي مسؤليت څخه اوږه خالي كول،پر عادلانه محكمي باندي بې باوري ،د يوجرمي عمل كيفيت اوڅرنګوالی اود مجرمانو پيژندل ، په ځينوموادردوكي د ځارني نشتوالی د قاضي پركارونو، د دې سبب كيږي چي هغه شان چي لازمه ده عادلانه محكمه جوړه نشي.

**۲ /۹ / ۰ پرتاكلي مودې د محكمود پريكړو نه پلي كيدل :**

ټولي ستونزي يوازي د محكموپه پريكړوباندي نه تماميږي. د عدالت په ترسره كولوكي يوه بله ستونزه د اده چي محكمي د كشفي ځانګو(عدلي اوقضايي ) سره اړينه همغږي نلري او په همدی توګه د محكمو فيصله په درسته توګه د قانون د اجرائيوي ځانګو اود قانون د مجری ځانګو له خوا سم نه پلي كيږي .

لكه څرنګه چي د مخه وويل شوه كه څه هم د دوسيو فيصلي په محكمو كي اوږد وخت نيسي اوبيا فيصله صادروي د عدالت د پلي كيدو دنده د محكمو د پريكړو په برخه كي د قانون دپلي كونكي ارګان په غاړه ده د محكمو قرار اوپريكړو ته دپلي كونكي ارګان بې توجهی هم د دې سبب ګرځي چي حقدارته حق ونه رسيږي او پورته پريكړي د خنډ سره مخامخ شي

د افغانستان د بشرحقونوخپلواك كميسيون په موندنوكي داسي ښكاری چي د ځينو پرمختګونوسره سره بيا هم د محكموپريكړي پرخپل وخت نه پلي كيږي .دغه موضوع په ځانګړی ډول د ستونزو سره مخامخ ده په ځانګړی توګه دغه موضوع په هغه حقوقی قضيوكی ډيره رښتيا ده چي د ملكيتونود لاندې كولو (غصب )په برخه كي دي ،اوپرمحكموباندي نوره بې ويسائي هم ډيروي .پرتول هيواد د حاكميت نشتون،د زورواكانواو وسلوالوډلوواك لرل،د قانون نه حاكميت ،د دولت پر هغه برخي نه ځارنه ، كوم چي د قانون د مجری اوساتني دنده په غاړه لري، اوارتشا اوفساد هغه سببونه دي چي د محكمو پريكړي نه پلي كيږي .

**دريمه برخه: د محكمود كړونوپه هكله د خلګورضا ئيت اوويسائي**

قضايي ځانګه د عدالت اوامنيت د تامين كونكوځانګي په توګه د خلګود حقه حقونواود بنسټيزوازاديوتضمين كونكی ارګان دي. په دې توګه نود دې ځانګي څخه د خلګوهيلي دا دي چي نه يوازي د بې نظميو،بې عدالتيو،اوبې قانونيوسره مبارزه وكړي بلكی پخپله د قانونيت د سمبول او عدالت محوری ځانګی رول اداكړي.

د دې رپوټ په تیروبرخوکي د محکمواوسنی حالت اود هغه کړني ترڅیړني لاندي ونیول شوې خود دې څیړني مهمه برخه هغه شاخصونه دي چي په هیواد کي د قضايي سیستم برياوی اوناکامۍ په ګوته کوي اوهم پرمحکموباندي د خلګو ویسايي اورضائيت رابنئي. ځکه چي د مراجعه کونکو ویسا ئي اورضائيت هغه محك دي چي د یوې څانګي فعالیت اومحبوبیت تري څرګند یږي .البته چي د محکمود کارپه څیړنه کي یوازې د خلګو پررضائيت باتدې تکیه کول به کافي نه وي ځکه د دغه ډول څانګو کړني داسي دي چي پخپلو اجراآتوسره نشي کولاي چي د ټولو رضائيت لاس ته راوړی ، نوهغه لوري چي په محکمه کي دعوا بايلی د محکمې څخه رضائيت نلري

خودغه څه بیا د محکمود کړونود رضائيت د شاخصسارزښت  د هغوي د برياود څیړنو دپاره انکار کیدلاي نشي ځکه د مراجع کونکو د لوئي ډلي رضائيت د محکمود قضايي بهیرڅخه اوپه همدې توګه د عامه خلګو رضائيت د محکمود کړونوڅخه اوپه ځانګړي توګه د مدافع وکیلانو نظرونه د رسنیو اومدني ټولنو......... رضائيت کولای شي چي په هیواد کي د قضايي سیستم د برياوو اویا ناکامیو محك وګرځي.

خود رضائيت له عنصر څخه لا د ویسائي عنصرمهم دی چي د قضا اومحکمو په څیړلوکی ډیره مهمه شاخصه جوړوي ، ټولیزه ویسائي یوازي د محکمو د درست اوقانوني کړونوڅخه په لاس راځي . په دغه حالت کي نوحتا هغه لوری چي دعوا بايلی او د محکمې څخه ناراضي دي خوبیاهم د عدالت په تامین اود محکموپراجراآتوباندي باور پیداکوي .

اوسنی رپوټ چي د افغانستان د بشرحقونوخپلواك کمیسیون د څیړنوله مخي چي د قاضیانو، څارنوالانو مدافع وکیلانو، مدني څانګو، محکمو ته د مراجعه کونکو اونورو سرچینوسره ئې په مستقیمه توګه مرکې کړي دی په لاس راغلی دی،دابنئي چي د محکمو د کړونوڅخه د خلګود رضائيت کچه ټیټه د ه د قضايي سیستم څخه د خلګو نه رضائيت ومحکموته اسانه لاسرسي نلرل،پرقاضیانوباورنلرل،په دولتي څانګوکي اداري فساد ،بډې اخیستل ،ځنډول،لړکارکول،دبې پلوی توب اصل ترپښولاندې کول،اود عادلانه محکمې معیارونه په نظرکي نه نیولوڅخه مینځ ته راځي .

په هغه مرکوکي چي د کمیسیونوغړود قاضیانواود محکمود رئیسانو سره تر سره کړي دي،هغوي پورته ټکوته لږه ګوته نیولی ده،خو د محکمود کړونو څخه د خلګود نارضائيت کچه ، اوپردې بې باوري  چي محکمې عدالت په پام کي نیسي ، اوپرخپل قانوني وخت باندي د قضیوحل باندي باورنلرل په حقیقت کي د خلګود ستونزوښکارندوی دي . د کمیسیون څارونکي رپوټ راکوي چي د قاضیانوناسوبې د دې سبب ګرځي چي د هغوي د قضیوحل وځنډیږي،اودغه څه بیا د دې سبب ګرځي چي خلګ نارسمي میکانیزمونوته مراجعه کوي اویا هم دا چي په ارتشا لاس پوري کوي.د خلګود وخت وژل یا خوشی تیرول اود قضیو د ځنډ په سبب د هغوی لا لهاند ه ( سرګرداني) دا زمینه برابروي چي اداری فساد اوبډې اخیستنه ډیره شي .

د کمیسیون د څارنکوسره په مرکه کي د سرپل اوسمنګان ولایت اوسیدونکود پورته ولایتونود محکمود کړونوڅخه خپل نارضائيت ښودلی دی اوویلی ئې دی چي د قاضیانو نا سوبې د اداري فساد او بډو زمینه برابروي.د افغانستان د محکموپرکړونوباندي د خلګوبې باوری د دې سبب ګرځي چي خلګ خپلی دعواوي د مسجد ملا امامانواویا هم قومي جرګوته وروړي ،ویل کیږي چي د هیواد په سهیل لویدیځ ځینو ولسوالیو کي د طا لبانوډلي سارا ئي محکمې پرانیزي ځکه خلګ رسمی محکموته نه ځي .

د هیواد په ډیروسهیل لویدیځوولسوالیو کي د افغانستان د بشرحقونوخپلواك کمیسیون په څیړونو کي دا ټکي څرګند شو چي د عادلانه محکمې نه په پام کي نیول، په قضا يي سیستم کي زوړ او اوسنی جوړښت (تشکیل) ، د مسلکي کدرونونشتوالی،د ښځینه قاضیانود شمیرټیټوالی، د خلګود نفوس اولانجو ډیروالی هغه لويې ستونزي دي چي د هیواد د عدلي سیستم په مخ کي پرتې دي ، اودا د دې سبب ګرځي چي په لویو ښارونو کي په میاشتو میاشتواوحتا کلونوباندي خلګ د خپل دعوا په خاطر لا لهاند ه وي اوده هیواد پر قضايي سیستم ویسائي دلاسه ورکړي نو هغه فرعي اوسیمی ییزی فیصلو اوپریکړوته تر محکمو ډیر اهمیت ورکړي .

خلک وائي چي په عمل کي عادلانه محکمي ته د لاسرسی څخه بې برخي دي اوکله چي هم دولتي څانګو ته ورځي نود ډیرځنډ سره مخامخ کیږي چي دغه ځنډ د دې سبب کیږي چي خلک د دولت څخه نا هیلي شي ،نو له همدې کبله دی چي خلک وقضا یي سیستم ته په بده سترګه ګوري .

په هغه موندنوکي چي کمیسیون د مدني څانګو اورسنیو سره په مرکو کي لاس ته راوړي دي دا څرګندوي چي ډیر نیونکي چي هغو پرمحکمو باندي کوي هغه د فساد،بډي اخیستل او پرضوابطوباندي د اړیکوحاکمیت اوهغه ستونزي چي له دغو سببونو څخه زیږي .
د دې ترڅنګه د هیواد په ځینو سیمو کي چي دولتي واك حاکم نه وی اود دولت مخالفي وسله والي ډلی حاکمیت لري نوخلک پردولتي محکمو باندي خپل باورد لاسه ورکوي . د عدلي اوقضایي څانګونا همغږي اود پلي کونکو څانګو له خوا د محکمود پریکړو حکم نه پلي کول هم دهغه سببونوڅخه دی چي پرقضایي سیستم اود محکموپرکړونوباندي خلک بې باوره شي .

یوبل سبب چي ورته بوروکراسي ویل کیږي اود عدلي او قضایي څانګو اوږد بهیرد دې سبب کیږي چي مراجعه کونکي په دې بهیر کي ډیرلګښت کوي چي دغه څه هم پرقضایي سیتم اومحکموباندي د خلګوباور کموي.
مدافع وکیل ته نه لاسرسي اویا هم د حقوقی مرستندوی نشتوالی اوله هغه څه لا بتره داچي قاضیان د تورن (متهم) اود هغه د مدافع وکیل دفا عیه لایحي ته پوره پاملرنه نکوي اوقضایي حکم یوازی د څارنوال د دعوا پرترتیب باندي صادروي ،دغه هم دبې باوري یوسبب شوی دی.

د قانون د حاکمیت نشتوالی اود معافیت د قانون رواج په ځانګړی توګه د جنایت کونکو اوزورواکانو معافول اود قانون پلي کول یوازي پرغریبوکسانوباندي هم د خلګوباورپرٌقضا او قانون باندي لږ کړیدی اود محکمو له خوا د عدالت تامینولوویسایي ئې د مینځه وړې ده.

که څه هم په هیواد کي د قضا یي سیستم د سمون او اصلاح دپاره ډیري هڅي شوي دي اوپه عمل کي ګوروچي د قاضیانومعاشونه لوړشوي دي اود حقوقي څانګوڅخه بریالی شوي کسان د قضا په کدرکي ټاکل شوي دي اود قاضیانود پوهاوي کچه لوړه شوي ده اود ستری محکمي د قضایي کنټرول اوپلټني څانګي له خوا د اداري فساد سره مبارزې په لاره کي ګامونه اخیستل شوي دي خودا پروګرام ډیراغیزه نه ده کړي اوپایلي ئې ډیری مثبتي نه دي.

د ستری محکمي د فعالیتونواولاس ته راوړنوڅخه چي د ۱۳۸۵ څخه تر ۱۳۸۹ کلونو پوري بې سرته رسولي دي د قانون د حاکمیت او قضایي عدالت په برخه کي د اداري فساد سره مبارزه کي(۱۱۴) کسان چي قاضي،محرر،اداری کارکونکي،د معاملاتولاربنود (رهنما)، کمیشن کونکي،اوهغه کسان چي د خپلی دندي څخه بډي اخیستی یاناوړه ګټي ترلاسه کړي دي ونیولی اویا هم ترعدلي تعقیب لاندي راغلي دي . اوپه همدې ډول د ستري محکمي له خوا څخه (۱۰۷) قاضیان او(۳۱) محرران د دندوڅخه سرغړونو په سبب په تادیبي سزا رسیدلي دي ، اود(۵۰) کسانو څخه ډیر شمیرد زده کړوسندونولرلواود منل شوي نورم پرخلاف ئې په قضایي او حقوقي برخوکي کارونه کول اود قضا کدرونه وه ،نود قضا د څوکیود شرایطونه لرلوله کبله د قضا څخه وېستل (منفك) شوه اویا هم اداري څانګو ته بدل کړل شول. برسیره پردې ستریي محکمي هڅي کړي دي چي د سیستم او پرسیجرد ساده کولوپه منظور، د کار د ښې اغیزی، د کدرونو روڼتوب (شفافیت) اود قاضیانود معاشونود ستونزو حل په ښه ډول ترسره شي .

خو د ټینګ کنټرول اوڅارني نشتون په سبب ،د قانون د حاکمیت نشتون ،اداري فساد،او د خپلوحقونو څخه د هیوادوالو بې خبري د دې دپاره زمینه برابرکړې ده چي په دولتي څانګو کي بډي اخیستل اوناوړه ګټی اخیستنی ډیری شي، خود بده مرغه چي اصلاحي پروګرامونو لاتر اوسه دغه ستونزه نه ده حل کړې .

## وړاندیزونه :

- د افغانستان دولت باید د قانون حاکمیت ټینګ اوپه محکمو کي د عدالت د تامین په منظور د هیواد په ټولو ولسوالیو کي فعاله ګامونه واخلي ، ترڅوخلک وکولاي شي په اساني سره د عدالت سیستم ته لا سرسی

ولري اوپه دې ډول د دې مخه ونیسي چې خلک نا رسمی حقوقي سیستمونوته مخه کوي اوهغه چې د بشری حقوقو د معیارونوسره برابرندي باید دوی ورنشي. اوامنیتي ارګان د دې ځواك پیداکي چې د قاضیانو او محکمو د مسؤلانو امنیت په سمه توګه ونیسی.

- د ستري محکمي مقام ته وړاندیزکیږي تر څو دمسلکي پر سونل اواداری کار کونکوپه پوره کولوکي د محکمو

دپاره چټك ګامونه واخلي او هغه قا ضي صا حبان چې سن ئي بیخي ډیردی تقا عد کړي او پرځای ئې ځوان او مسلکي کدرونو په کار واچوي .

- د دې دپاره چې د محکموقاضیان او کار کونکي پر خپل وخت باندې د دندو ته حاضر شي اود کار د سپلین پر ځان تطبیق کړي نوستري محکمي ته وړاندیز کیږي چې پر محکمو باندي خپل څارنه ټینګ اوچټك کړي اودا وړاندیز هم کیږي چې یواتوماتیکه پیغام اخیستونکی ټیلفون دی هم د ستری محکمي په ودانئ کي ولګوي ترڅو خلګ خپلي ستونزي د هغه د لاري چارواکو ته ورسوي ، او د قاضیانو د سوب اوناسوب ، کار کولو اوپلمو جوړولو څخه خبر شي او د خلکو لا لهاند ه کول ور لږ کړي .

- ستره محکمه اومرستندویه موسسي باید هڅه وکړي چې د قاضیانودپاره د اړتیا وړد قوانینو چاپ شوي نسخي برابري کړي اودعدلیي وزارت د نوي قوانینو د چاپولووروسته د ستري محکمي سره مرسته وکړي اوپوره شمیر د نوی قوانینو نسخي هغوی ته ولیږي.

- د افغانستان اسلامي جمهوري دولت او په ځانګړي توګه ستره محکمه د عادلانه محکمي د تطبیق دپاره ټول معیارونه اوموازین په نظرکي ونیسي،او د هغه خنډونو اوکمبودیومخه ونیسی کوم چې د دغومعیارونو اوموازینوپه لار کي خنډونه ږدي .

- د افغانستان د اسلا مي جمهوریت ستره محکمه اونوري محکمي باید د جرمونو او سزاګانو د قانونتوب اصل د یو پیژندل شوي پرنسیب په ډول وپیژني اوهغه قواعد چې د هیواد د اساسي قانون اونورو جزائي قوانینوکي راغلي دي، رعایت اوپه پام کي ونیسي اود سرغړونکو سره قضا ئي چلند وکړي.

- دعدلي اوقضائي څانګودماهرواومسلکي کدرونودروزني دپاره یوپروګرام اوعملکرد جوړ شي. نوځکه ټولی اغیزه ایښونکی څانګي د ستري محکمي ، لوي سارنوالی ، دعدلیي وزارت اود لوړو زد ه کړو وزارت باید ځانګړي اوګټورپروګرامونه په پام کي ونیسي تر څود زده کړو نصاب پلي اوپه دې لاره کي پرمختیا راشي .

- د قاضیانودپوهي د لوړولو په منظور باید دستاژاونورو ښوونیزو دورو پروګرامونه جوړ کړل شي اود لنډ او اوږد مهاله کورسونو جوړول په پروګرامونوکي ځای او شامل شي ، تر څو د هغوی پوهه لوړه اومالوماتونه ئې نوي شي ، اودغه پروګرامونه پر ټولو هغه قاضیانو تطبیق شي کوم چې په محکموکي په کار بوخت دي .

- داسي پروګرامونه جوړ کړل شي چې د زدکړي د دورې د نصاب د پډاینې کیدو سبب وګرځي اوستاژته ګټورتمام شي اوپخپلوزدکړوکي د بشر د حقونو په برخه کي اویا هم د دیني زدکړو دپاره د تجربو لرونکو ښوونکو څخه کار واخیستل شي .

- دهیواد د قاضي صا حبانو د پوهي د کچي د لوړولو دپاره چې د هیواد په قوانینو باندي پوره پوهاوی ولری اوپه ځانګړي توګه د نوي قوانینو اونړیوالو کنوانسیونونو سره بلدتیا اوپیژندنه ولري کوم چې د افغانستان دولت هغه لاسلیك کړی دی اوپه دې برخه کي قاضیان څه مکلفیت لري، باید پوهاوي ورکړل شي .

- په همدي ترتيب د ټولو نوی قوانينو چاپ شوی نسخې اود نړيوالو تړونو نسخې چې افغانستان د هغو غړی دی اود قوانينو نوری سر چيني بايد په منظمه توگه د قاضيانو دپاره تيارشي او هغوی بايد لاسرسی ورته ولري . اودا هڅه بايد وشي چې قاضيان وانټرنيټ ته لاسرسی ولری اوپه دې لاره کي ښوونه ورته وشي.

- بايد ډير گړندی اقدامات تر سره شي چې قاضيانوته د ټرانسپورټ اواستوگنی اسانتياوی برابری کړل شي چې هغه د محکمو پر کارونو اود خلگو پر اسانه لاسرسي باندې مستقيمه اغيزه ږدي .

- ستره محکمه بايد پرته له توپيره څخه د بومي قاضيانو (دځاي اوسيدونکو) په کار اچولو (استخدام ) اود هغوی د پوهاوی لوړولو زمينه برابر ه کړي اوپه دې لاره کي تل وړتيا ( ليا قت) په پام کي ونيسي.

- ودې ټکي ته بايد پاملرنه وشي چې وعدالت ته د لاسرسی په لاره کي د ښځو يو ه ستونزه داد ده چې د پوليسو په ليکو، د سارنوالی په څانگواومدافع وکيلانو په ډلو کي د ښځو ونډه لږده ، د پورته ستونزي ليري کولودپار بايد چې داسی يو ځانگړي پروگرام جوړ شي چې په پورته مشا غلو (دندو ) کي د ښځوونډه ډيره شي اوښځينه زده کړيانو(محصلينو) ته دازمينه برابر ه شي چې د حقوقو اوشر عياتوپه برخه کي زدکړی تر سره کړي او د ستاژ داسی دورې دي جوړي شي تر څو په هغه کي د ښځو باور جلب شي .

- محکمي بايد د انسان کرامت ته په درناوی سره وگوري او نبايد چې د محکما تی غونډي جوړولو تر مخه د قضيې په اړه وړاندوينه وکي ، اوتر څوچي د دعواد دواړو پلو رضائيت ترلاسه نشي نبايد چي انځوری اويا غږيز ي رسنې خپري شي ، اونبايد چې محکمه اود هغه بهير په مستقيمه توگه خپره شي ، اوپه ځانگړي حالت کي بايد مسؤ لانه توگه عمل وکي،.

- محترم قاضي صاحبان دی د څارنوالی له خوا په قانوني توگه د دليلونو ، لاسته راوړلو ډاډ ترلاسه کړي اوپه قانوني توگه دي د دليل د ترلاسه کولو هڅه وکړي ، اود متهم اود هغه د وکيل نيوکوته لازمه پاملرنه وکړي .

- د هغه کسانود خلاصون دپاره دې چټکه پريکړه وکړي کوم چې برائت ئي اخيستی دی اويا هم په نا قانوني توگه بنديان شوي اويا هم دازادي بي برخي ( سلب ) سيمو کي ساتل شوی دي ،اود قضا ئي چلند ،کړني اوروش د اتمي مادې پربنسټ د محکمي قضيان په دی مکلف شوي دي چي ټول حکمونه او قرارونه چي صادروي هغه دی د مجوزه قانوني په حدودو کي مراقبت وکړي.

- د محکموعادلانه اوربښتني عملکرد د دې سره نږدې اړيکي لري چي متهم د وکالت اودفاع خدمتونو اوحقوقی مرستو ته لاسرسی لری ، نوځکه په قضائي اړينو پړاونو کي د مدافع وکيل رول اوبرخه ډيره ټينگه اړينه وگڼل شي ،او دې ته لازمه پاملرنه وشي چي د مدافع وکيل شتون( حضور) د محا کمی په بهير کي ډير رول لري اوقضيان بايد دغه ټکي ته ډيره پاملرنه وکړي .

- دولت بايد د مدافع وکيلانود خدمتونوپه لاره کي چټك گامونه واخلي اود هغوي شمير ډير کړي تر څو دخلگو لاسرسی وهغه ته اسانه وي اوپه ځانگړي توگه دازمينه برابرکړي چي غريب کسان وکړاي شي چي مدافع وکيلان ولري او دعدلي وزارت په دې برخه کي پروگرامونه جوړکړي . په ټولوولايتونوکي د عدليې وزارت له خوا د حقوقی مرستو څانگه (په لومړی درجه دوهمه درجه اودريمه درجه ولايتونو کی) جوړه شي اود خلگو د بلديدو دپاره د عامه پوهاوي پروگرامونه جوړشي ترڅوخلك د دغو دلاسرسي سره بلد شي چي دغه کار ډير اړين دی.

- په ډيروختونو کي د څيړني (تحقيق) او وريسي گرځيدني (تعقيب )هغه څانگي چي په ملی امنيت پوری اړه لری د مدافع وکيلانو سره لازمی حقوقی مرستي نکوي، هغوی ته دازمينه نه برابروی چي د

مظنونوکسانودوسیوته لاسرسي ولري اویا هم پخپلو غونډو کي مدافع وکیل هم راوبولي، دغو ځانګوته باید وویل شي چي د مدافع وکیلانو سره مرستي وکړي او د هغوی پراجراآتو باندي باید په ځیر سره څارنه وشي .

- دې ټکي ته په پاملرني سره چي ښځینه مدافع وکیلانوته ډیر ه ټینګه ( شدیده) اړتیا ده، ځکه له یوې خوا څخه به مختلفو دلیلونوباندي ښځي د خپل ځان د دفاع کولو توان نلري اوپه دې اړه پوهاوی هم ورسره نشته اودبل لوري څخه هغوي داتوان هم نلري چي د نارینه مدافع وکیل سره خپل ټول احوال په سمه بیان کړي، نوپه پایله کي د ښځینه وکیلانود کموالی له سبب هغه حق چي ښځو ته د مدافع وکیل د لرلو په برخه کي دی او هغه حقوقی مرستي چي د ښځي سره باید وشي نوډیری ښځي د دغه ستونزو له کبله د خپل دغه حق څخه بې برخي کیږي، نواړینه ده چي د ښځیه مدافع وکیلانو په شمیر کي ډیروالی راشي .

- ټولي محکمي اوقاضي صا حبان باید ټولي قضیي په ټاکلي مودې سره چي قانون ورته ټاکلی دی په عادلانه توګه حل کړي ،اوپه همدې توګه دعدلي وزارت او د محبسونواوتوقیف ځایونو لوی ریاست باید لازم تدبیرونه ونیسي تر څو هغه متهمین چي بې برخه لیك دی د موقتي جزائي اجراآتو د قانو د شپږمی مادې پر بنسټ او د محبسونواوتوقیف ځایونو د قانون د حکمونو سره سم لازم تدبیرونه پلي کړي .